


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم: د ښځو د حقوقو څخه دفاع په قران او سنت کې

مولف: الحافظ مولوي شايق احمد هميم کاکړ

د تماس شميره: 0799028600

کمپوز : کمال احمد کاکړ

کمپيوټري چاري: جمال مجاهد کاکړ

دچاپ ځای پېښور

د چاپ کال: ۱۳۸٦

د کتاب د چاپ حق يوازی استاد هميم سره محفوظ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبي بعده وعلی آله وصحبه الذین جاهدوا فی الله حق جهاده وبعد :

دالله تعالی په فضل او کرم سره د ۱۳۸٤ کال دقوس دمیاشتې په ۹ نیټه زما کتاب ( دفاع از حقوق زن درقرآن وحدیث ) په لمړی ځل په دري ژبه دچاپ ډګر ته راووت ، لله الحمد دغه کتاب دمسلمانانو وروڼو او خویندو په زړونو کې زیات مقبولیت حاصل کړلو او هر یو کس به چې دغه کتاب ولوستلونو دخوشحالي دښکاره کولو سره سره به ئې ماته دعاګانې کولې او لمانه به ئې شکریه اداء کوله خو ما به ویلی چې دا دالله تعالی فضل دی او کنه زه یو کمزوري بنده یم او دا ځما یوه اسلامي او علمی وجیبه وه چې ما باید دغه کتاب لیکلای وای .

ددغه کتاب دمقبولیت څو وجې وې او هغه دا چې ما دغه کتاب پرښځو د ظلم مخنیوي لپاره دخپلې اسلامي او علمي وجیبی د اداء کولو او د اصلاح او دحق دښکاره کولو او بالاخره دالله تعالی درضا دحاصلولو په نیت لیکلې وو او څه دنیوي غرض او شهرت مې مطلب نه وو ځکه خو دکتاب په غلاف یا داخل کې زما شهرت مکمله نه ده لیکل شوی فقط دومره لیکل شوی دی چې مولف حافظ مولوي شایق احمد همیم بله داچې په دغه کتاب کې هره خبره مدلله او مستنده بیان شویده چې دهرچا قناعت وربانديې حاصلیږی او تنده یې ماتیږي حتی چې بعضو ورونو او خویندو زما څخه دا غوښتنه وکړل چې زه ددغه کتاب مضامینو ته تفصیل ورکړم .

بله داچې ما دغه کتاب په ډیره ساده دری کې لیکل شوی وه تر څو دري ژبې او پښتو ژبې ورونه او خویندې وکولای شي چې هغه ولولي خو بیا هم یو زیات شمیر زیات پښتنو ورونو او خویندو له ماڅخه په کلکه دا غوښتنه وکړل چې زه دغه کتاب په پښتو ژبه هم ولیکم ، نو سره دزیاتو مصروفیتونو ما ددوی دغه غوښتنه ومنله او دغه کتاب مې په پښتو ژبه هم ولیکله الله تعالی دې وکړي چې دغه پښتو کتاب هم ددري کتاب په شان دورونو او خویندو ترمنځ مقبولیت حاصل کړي او الله تعالی دی دغه دواړه کتابونه زما او دټولو مسلمانانو ددنیا او اخرت د کامیابی وسیله وګرځوي او پاتې دې نه وي چې بعضې ورونه او خویندې دا غوښتنه هم وکړه چې دغه کتاب باید په انګلیسي ژبه کې هم ولیکلی شي ترڅو غربي نړۍ ته دا معلومه شي چې ښځه په اسلام کې څومره شرف او عزت او عظمت لري او پرهغو باندې دشفقت او مهربانی په باره کې یې څومره تاکید کړی دی او پرهغو باندې دظلم څخه یې څومره په کلکه منع کړی دی . او د هغوی د حقوقو څخه یې څه دپاسه څوارلس سوه `کاله مخکې په قران او حدیث کې دفاع کړیدی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین محمد وآله وصحبه اجمعین

وبعد :

قدرمنو ورونو او خویندو :

الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایلی دی : ( ان الدین عندالله الاسلام )

)سورة آل عمران آیت ١٩(

ژباړه : بیشکه مقبول او معتبر دین دالله په نزد داسلام دین دی

او په سورة مائده کې ئې داسې فرمایلی دی : (( ورضیت لکم الاسلام دینا ))

)سورة مائده آیه ٣(

ژباړه : ما د اسلام دین تاسی ته خوښ کړی دی.

او په سورة الحج کې ئې داسې فرمایلي : (( وما جعل علیکم فی الدین من حرج ))

)سورة الحج آیه ٧٨(

ژباړه : الله تعالی داسلام په دین کې پرتاسو مشقت او سختي نه ده راوستې.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایې : (( ان الدین یسر ))

)صحیح بخاری جلد ١ صفحه ١٠(

ژباړه : داسلام دین دآسانۍ دین دی

دپورتنیو قرآني آیاتونو او نبوي حدیث نه دا معلومه شوه چې داسلام مقدس دین هغه دین دی چې الله تعالی دې امت ته خوښ کړی دی او دا هغه دین دی چې بشریت ته یې سعادت او آساني راوستی دي نه مشقت او سختي لیکن څرنګه چې زیات شمیر مسلمانان داسلام ددین دهدایاتو او ارشاداتو څخه ناخبره دي نو دوي په مختلفو رسمونو او رواجونو او خرافاتي عنعنو کې چې داسلام په دین کې نیشته اخته او واقع شوي دي او اسلامي جامعه په ډیرو مشکلاتو او جنجالونو کې راګیر شوي دي او دعدل او انصاف ځاې ظلم او جبر نیولی دی او حقوق دېښو لاندې شوي دي خاصتاً دښځو حقوق چې زموږ دجامعې یوه زیاته برخه تشکیلوي او دوي دظالمانو دظلم او دخرافاتي عنعنو ترتاثیر لاندې راغلي دي او بیا دا ډیره بده ده چې بعضې خلکو دغه خرافاتي عنعنې دغیرت په نوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام مقدس دین ته منسوبوي چې دغه کار داسلام دین سره یوه لویه جفا او ظلم دی ، الله تعالی فرمائي : (( الیوم اکملت لکم دینکم ))

)سورة مائدة آیة ۳ (

ژباړه: (( نن ورځ ما ستاسو دین مکمل کړو )).

او رسول الله صلي الله علیه و سلم فرمايي (کل بدعة ضلالة وکل ضلالة فی النار )

)صحیح مسلم جلد ۱ صفحه ۲۸۵ مشکوة صفحه ۲۷ بخاری جلد ۲ صفحه ۱۰۸۰(

ترجمه : هرهغه نوی عمل چې دثواب په نیت کیږي او په اسلام کې اصل او اساس ونه لري گمراهي ده او دگمراهی دهر عمل کوونکی ځاې اور دجهنم دی.

همدا رنگه رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي : (( ان شر الامور محدثاتها ))

)بخاري جلد ۲ صفحه ۱۰۷۰ مسلم جلد ۱ صفحه ۲۸۵(

ژباړه : ډیر بدکارونه هغه دي چې دثواب په نیت په دین کې پیدا شوی او په دین کې څه اصل او اساس و نه لري.

او په بل ځاې کې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمايي : (( من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد ))

)بخاري جلد ۱ صفحه ۲۸۷ مسلم جلد ۱ صفحه ۷۷ (

ژباړه : چاچې دثواب په نیت داسې یو عمل وکړلو چې زمونږ امر وربانديې نه وي نو دا عمل مردود دی.

او په بل ځاې کې رسول الله ص داسې فرمايي ((من احدث في امرنا هذا مالیس منه فهو رد ))

)بخاري جلد ۱ صفحه ۳۷۱ مسلم جلد ۱ صفحه ۷۷(

ژباړه :چاچې زمونږ په دین کې داسې یو عمل پیدا کړو چې ددغه دین څخه نه وي نو دغه عمل مردود دی.

خلاصه دا چې هر هغه عملونه چې داسلام په دین کې څه دلیل او سند ونه لري او یو کس هغه دغیرت یا دثواب په نیت سرته رسوي هغه عملونه مردود او قابل دقبول نه دی او دثواب په ځاې به دغه عمل کوونکي ته عذاب ورکول کیږي چې هغه دجهنم اور دی لکه څنگه چې مخکې په نبوي احادیثو کې تیر شو .

قدرمنو وروڼو او خویندو - :

نو ما ددې لپاره چې خپل ایماني او علمي او دعوي وجیبه اداء کړی وي ومې غوښتل چې په اسلام کې دښځو داو چت مقام او دهغوې دحقوقو او دهغو ظلمونو چې زمونږ په ټولنه پر ښځو باندې کیږي په باره کی یو څو خبرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقرآن او سنت په رڼا کې ولیکم او همدارنگه ددې لپاره چې دمظلوم څخه دفاع کول او دظلم او ظالم سره مقابله کول دهر مسلمان فرض

دی لکه چې رسول الله ص فرمایي (( انصر اخاک ظالما او مظلوما قال یا رسول الله انصره اذاکان مظلوما فکیف انصره اذاکان ظالما قال تمنعه من الظلم ))

)متفق علیه مشکوة صفحه ٤٢٢(

ژباړه : دخپل مسلمان ورور سره که ظالم وي او که مظلوم وي مرسته وکړئ یو صحابي وویل یا رسول الله صلي الله علیه و سلم چې څما مسلمان ورور مظلوم وي نو زه به ورسره مرسته وکړم نو که ظالم وي څرنگه مرسته ورسره وکړم ؟ رسول الله صلي الله علیه و سلم وفرمایل چې دظالم سره مرسته داده چې هغه دظلم څخه منع کړې .

او ددې لپاره چې رسول الله صلي الله علیه و سلم فرمائلی : (( استوصوابالنساء خیرا ))

)متفق علیه مشکوة صفحه ٢٨(

ژباړه: تاسې یو بل ته دښځو سره دنیکې رویې او دهغوې دحقوقو د رعایت په باره کې نصیحت وکړی .

نو دغه رساله هم ټولو مسلمانانو ته د ښځو په باره کی یوه توصیه ده . ددغې رسالې نوم دی : (( دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې )) او دغه رساله څلور فصلونه او څلور بحثونه لري چې په لاندې ډول دي

اول فصل : دښځو اوچت مقام په اسلام کې .

اول بحث : دښځواوچت مقام دقرآن کریم په رڼا کې .

دوهم بحث : دښځواوچت مقام دنبوي احادیثو په رڼاکې

دوهم فصل : دښځو او دنارینه و حقوق یو پر بل باندې

اول بحث : دښځو حقوق پر نارینه و باندې دقرآن او سنت په رڼا کې

دوهم بحث دنارینه و حقوق پرښځو باندې دقرآن او سنت په رڼا کې

دریم فصل : هغه ظلمونه چې زمونږ په ټولنه کې پرښځو باندې کیږي او دهغې دحرمت او نارواوالي دلیلونه دقرآن او سنت څخه .

څلورم فصل : بعضې سوالونه او د هغې جوابونه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دالله تعالی څخه غواړم چې دغه رساله ددې وسیله شي چې دښځو حقوق ژوندي او مراعت شي او پرهغوې باندې چې کوم ظلمونه کیږي هغه لرې او له منځه لاړ شي او ښځو ته دعزت او آرامي او دخوشحالې ژوند ورپه برخه شي ، آمین.

زه په دې ضمن کې دټولو قدرمنو ورونو او خویندو څخه احترامانه هیله کوم که لما څخه په دغه رساله کې کومه سهوه یا خطا صادره شوي وي چې ماته خبر راکړي ترڅو په راتلونکې کې بیا تکرار نشي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اول فصل

## دښځو اوچت مقام دقرآنکریم په رڼا کې

قدرمنو وروڼو او خویندو!

داسلام دراتګ نه مخکې دجاهلیت په زمانه کې دښځو نه دژوندانه حق سلب شوې وه او خلکو دپیغور دویرې له کبله به ژوندي ښخول کیدل او که کومه یوه به ژوندی پاتې شوه نو بیا به دهغې ټول حقوق تر پښو لاندې کیده لکه دمیراث حق دملکیت حق داحترام اودعزت حق اوداسې نور او هغې ته به په سپک نظر کتل کیده .

خوداسلام مقدس دین پخپل راتګ سره دښځو ټول حقوق راژوندي کړلو او هغوې ته ئې او چت مقام وروبښلو حتی چې په شرعی کارونو کې ئې ښځو او نارینه و ته یو ځاې په قرآنکریم کې خطاب کړی چې ان شاء الله په دغه رساله کې به بیان شي .

الله تعالی دقرآنکریم په زیاتو آیاتونو کې دښځو او چت مقام او عظمت بیان کړیدی چې دهغې جملې څخه دیو څو آیاتونو په بیانولو سره زه اکتفا کوم چې په لاندې ډول دي :

۱ -الله تعالی دښځو پیدایښت پرانسانانو باندې یو لوی انعام او دخپل قدرت یوه معجزه ګڼلی دی او ښځې ئې دنارینه و لپاره دآرامی او سکون مصدر او پناه ګاه او ددوستی او مهربانی وسیله ګرځولي دي لکه چې الله تعالی فرمائی : (( ومن آیاته ان خلق لکم من انفسکم ازواجا لتسکنوا الیها وجعل بینکم موده ورحمة ))

)سورة الروم آیة ۲۱(

ژباړه : دالله تعالی دقدرت دنښو څخه داده چې تاسې ته ئې ستاسو دجنس څخه ښځې پیدا کړي ترڅو تاسې مائل شی دوي ته او مطمئن اوسی او ګرځولی ئې دی ستاسې ترمنځ دوستي او شفقت .

۲ � لکه څرنګه چې ښځه یوه عزتمند مخلوق دی اودنارینه و لپاره دسکون او آرامي وسیله ده همدارنګه ښځه هغه قیمتي او اوچت نعمت دی چې دځامنو او لمسیانو وسیله ده الله تعالی فرمائی : (( والله جعل لکم من انفسکم ازواجا وجعل لکم من ازواجکم بنین وحفده ))

)سورة النحل آیت ۷۲(

ژباړه : الله تاسې ته ستاسې دجنس څخه ښځې پیدا کړې او ستاسو دښځو نه ئې تاسې ته ځامن او لمسیان پیدا کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ - انساني ټولنه الله تعالی دښځو او نارينه و نه جوړ کړيدی او دځمکې په سر دانسان پاتې کيدل او له منځه تلل دښځو او نارينه و دواړو پورې تړلي دي که يو جنس نه وي نو بشريت جنس له منځه ځي .

الله تعالی فرمائي : (( يا ايها الناس انا خلقناکم من ذکر وانثی ))

)سورة الحجرات آيت ١٣ (

ژباړه : ای خلکو مونږه تاسې ديو نر ( ادم ) او يوې ښځې ( حوا ) نه پيداکړي ياستئ

٤ � ښځه دانسانانو ترمنځ دنزدې والي او دوستي يوه مهمه وسيله ده الله تعالی فرمائي (( وهوالذي خلق من الماء بشرا فجعله نسبا وصهرا ))

)سورة الفرقان آيت ٥٤ (

ژباړه : او الله تعالی هغه ذات دی چې بشر ئې داوبو نه پيدا کړيدی او بيا ئې ګرځولی دی خاوند دنسب او سخرګنی .

او دا معلومه خبره ده چې دسخرګنی او زوملي قرابت دښځو په واسطه منځ ته راځي .

٥ - الله تعالی دښځو پيدايښت يوه تحفه ګڼلی ده او هغه ئې په ايت کريمه کې دنارينه و نه مخکې ذکر کړی ده .

الله تعالی فرمائی: ( يهب لمن يشاء اناثا ويهب لمن يشاء الذکور ) (

)سورة الشوری ايت ٤٩(

ژباړه : چاته چې دالله تعالی خوښه وشي نو جينکی ورکوی او چاته ئې چې خوښه وشي نارينه ورکوي .

٦ -الله تعالی ښځې هغه مخلوق ګرځولی دی چې په هغې باندې دنارينه و سترګو يخې او روښانه کيږي الله تعالی فرمائی : (( والذين يقولون ربنا هب لنا من ازواجنا وذرياتنا قرة اعين ))

)سورة الفرقان ايت ٧٤(

ژباړه : او دالله تعالی نيکان بندګان هغه کسان دي چې دوی وائې ای ربه زمونږ مونږ ته پخپلو ښځو او ځامنو باندې دسترګو يخ والی راوبښه.

يعني زمونږه ښځې او ځامن نيکان وګرځوه چې دوی زمونږ ددنيا و اودآخرت دسعادت او دسترګو ديخی او روښانيدو وسيله وګرځي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷-الله تعالی جنت د نیکانو ښځو او نارینه و دواړو لپاره داوسیدو ځاې ګرځولی دی او ادم او حواء علیهما السلام ته ئې امر وکړ چې دواړه جنت کې ووسیږی لکه چې فرمائی (( اسکن انت وزوجک الجنة ))

)سورة الاعراف ایت ۱۹(

ژباړه : اوسیږه ته ای ادم او ستا ښځه جنت کې .

او بیا ئې ادم علیه السلام ته وفرمایل : (( ان هذا عدو لک ولزوجک فلا یخرجنکما من الجنة فتشقی ))

)سورة طه ایت ۱۱۷ (

ترجمه : بیشکه دا ابلیس ستا او ستا دښځې دشمن دی پس خبردار ودې نه باسي خامخا تاسې له جنته پس په مشقت کې به پریوځئ .

نو معلومه شوه چې شیطان دښځو او نارینه و دشمن دی او دواړه دوکه کوي نو بیا ولې ښځې یواځې ملامت ګڼل کیږي .

۸-په ورځ دقیامت کې به نارینه مومنان او دهغو مومنانو ښځو ته به دالله تعالی له طرف نه خطاب وشي چې جنت ته داخل شئ هلته به تاسې خوشحالولی شئ .

الله تعالی فرمائی : (( ادخلوا الجنة انتم وازواجکم تحبرون ))

)سورة زخرف ایه ۷۰ (

ژباړه: داخل شی جنت ته ای مومنانو تاسې او ستاسې ښځې هلته به تاسې خوشحالولی شي

۹ -ښځه او نارینه هر یو که په دنیا کې نیک عمل وکړي دجنت مستحق کیږي الله تعالی فرمائي : (( ومن عمل صالحا من ذکراو انثی وهو مومن فاولئک یدخلون الجنة یرزقون فیها بغیر حساب(

)سورة المومن ایت ٤۰(

ژباړه : او هرهغه څوک چې نیک عمل وکړي که له نارینه و وي یا له ښځو وي حال داچې مو من وي پس دغه نیکان بندګان به جنت ته ننوځي هغوې ته به روزي ورکول کیږی دغلته بې حسابه .

۱۰-د عرش او داسمانونو ملائک نیکان سړی او دهغوې نیکانې ښځې ته دعا کوي الله تعالی فرمائي : (( ربنا وادخلهم جنات عدن التي وعدتهم ومن صلح من ابائهم وازواجهم وذریاتهم .... ))

)سورة المومن آیت ۸(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او وائی دغه ملائک ای ربه زمونږ داخل کړه دغه نیکان بندګان دهمیشوالی په جنتونو کې هغه چې وعده کړېدی تاله دوي سره او څوک چې نیکان وي ددوي له پلرونو او ددوي له ښځو او ددوي له اولادونه .

۱۱-الله تعالی هغه کسان چې دجینکو په پیدایښت باندې خفه کیږي سخت تقبیح کړی او دهغوې دغه کارته ئې بد ویلي دي الله تعالی فرمائی : (( واذا بشراحدهم بالانثی ظل وجهه مسودا وهو کظیم یتواری من القوم من سوء مابشربه ایمسکه علی هون ام یدسه فی التراب الا ساء ما یحکمون ))

)سورة النحل اية ۵۸ (

ژباړه : او کله چې خبر ورکړی شي يو تن ددغو کفارو ته په پیدا کیدو دلور سره نو تېوله ورځ وګرځي مخ دده تک تور له غمه حال دا چې دي ډک وي له قهر ه او بیا له خپله قومه پټ ګرځي له سببه دناخوښی دهغه شی چې خبر ورکړی شوی ده ته په هغه سره او بیا دځان سره سوچ کوي چې دغه لور سره دسپکوالي وساتي او که ژوندی ئې په خاورو کې ومنډي خبردار چې بد دی هغه چې حکم کوي دغه کفار.

ددغه مبارک ایت څخه دا معلومه شوه چې کافران دلورګانو په ولادت باندې خفه کیږي او دلورګانو په پیدایښت باندې خفه کیدل دکافرانو صفت دی نه دمسلمانانو .

۱۲ -الله تعالی امر کړیدی چې دمور او پلار سره نیکې وکړی او دهغوی د سپکاوی او هغوی ته د ضرر سولو څخه یی منع فرمایلی دی الله تعالی فرمایي ((و قضی ربک الا تعبدوا الاایاه و بالوالدین احسانا اما یبلغن عندک الکبر احدهما او کلاهما فلا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولا کریما و اخفض لهما جناح الذل من الرحمه وقل رب ارحمهما کما ربیانی صغیرا ))

)سورة الاسراء ایت ۲۳-۲۴(

ترجمه : او حکم کړیدی رب ستا چه عبات مکوی تاسی د بل هیچا مګر یوازې د همدغه الله او نیکې کوی له مور او پلار سره که یو د دوی او یا دواړه زوړوالی ته ورسید نو مه وایه ته دوی ته کلمه د اف او مه رټه دوی ووایه دوی ته ښائسته خبره او ښکته کړه دوی دواړو ته وزری د تواضع له مهربانی اووایه ای ربه څما مهربانی وکړی پر دوی دواړو باندې لکه چې پالنه او تربیه یې کړیدی څما په هغه حال کی چې وړوکی ووم.

همدارنګه الله تعالی په نورو ایاتونو کی هم دا خبره کړیده چې د مور او پلار سره احسان کوی او د هغوی شکریه ادا کړی او د خپل عبادت د حق نه وروسته یې دمور او پلار حق بیان کړی چې هغه عبارت دی د لاندې آیتونو څخه:

سورة بقره ایه۲۳ ، سورة النساء ایه ٣٦ ، سورة لقمان ایه ١٤_١٥، سورة الاحقاف ایت ١٥ سورة العنکبوت ایه ٨

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳_الله تعالی هغه کسان چې په پاک لمنو ښځو باندې تهمت وائی په دنیا او اخرت کې ملعونان گرځولی او دغه تهمت ویونکو ته یې د لوې عذاب وعده ورکړی دی.

الله تعالی فرمائی :(( ان الذین یرمون المحصنات الغافلات المومنات لعنوا فی الدنیا و الاخرة و لهم عذاب عظیم))

)سورة النور آیت ۲۳(

ترجمه : بیشکه هغه کسان چه په پاک لمنو او نا خبرو او مومنانو ښځو باندې د زنا تهمت لگوی لعنت کړی شویدی پر دوی باندې په دنیا او په اخرت کې او شته ددوی لپاره لوې عذاب.

۱٤_الله تعالی امر کړی دی چه هغه کسان چه په مومنو او پاک لمنو ښځو باندې د فحشاو تهمت لگوی اتیا دری ووهی او په راتلونکی کی یې هیڅ کله گواهی مه قبلوې او دغه تهمت کوونکی فاسقان دی مگر هغه څوک چه ځان اصلاح کړی او توبه اوباسی.

الله تعالی فرمائی (( و الذین یرمون المحصنات ثم لم یاتوا باربعة شهداء فاجلدوهم ثمانین جلدة ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا و اولئك هم الفاسقون الا الذین تابوا من بعد ذلک و اصلحوا فان الله غفور رحیم))

)سورة النور ایت ٥_٤(

ترجمه : هغه کسان چه په پاک لمنو ښځو باندې تهمت لگوی او دوی څلور گواهان ونه لري. پس تاسی دغه تهمت ویونکی اتیا دری ووهی او هیڅکله هم ددوی گواهی مه قبلوې مگر هغه کسان چه توبه وباسی او نیت او عمل اصلاح کړی نو الله بښوونکی او مهربانه دی.

سبحان الله : څومره الله تعالی د یوی مؤمنی ښځې په عفت او شرف او عزت باندې اهتمام کړی دی ان تر دی پوری چې څوک په مومنه ښځه تهمت وائی هغه یې په دنیا او اخرت کې ملعون گرځولی او د هغه

گواهی یې مردوده شمیرلی ده او هغه یې د فاسقانو د جملی څخه گرځولی او هغه ته یې د لوې عذاب وعده ورکړی دی.

۱٥ _کله چې منافقانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها باندې بد تهمت ولگولو نو الله تعالی د هغی په برائت او پاکی کی لس ایانونه نازل کړل او تهمت ویونکو ته یې د لوې او دردناک عذاب وعده ورکړی دی دغه واقعه په سورة النور کې د لسم آیت څخه تر شلم آیته پورې ذکر دي .

سبحان الله : الله تعالی دیوی مومنی ښځې د برائت لپاره جبریل د لسو ایاتونو سره لیږی او د یوی مومنی ښځې څخه پخپله دفاع کوی چه دا یوی لوې عزت او کمال او افتخار دی دښځو د پاره.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦-یوه صحابیه ښځه چه خولة بنت ثعلبه نومیده د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته راغله او د خپل میړه څخه یې شکایت وکړو نو الله تعالی ددغی ښځې شکایت واورید او دهغه د مشکل د حل لپاره جبریل علیه السلام سره د لس ایاتو ولیږل لکه چې الله تعالی فرمائی (( قد سمع الله قول التی تجادلک فی زوجها و تشتکی الی الله و الله یسمع تحاورکما ان الله سمیع بصیر )).

)سورة مجادله ایات ۱-٤ (

ترجمه : په تحقیق سره وورارید الله تعالی خبره د هغې ښځې چې سوال او جواب یې کاوه په شان دخاوند خپل کې او شکایت یې کاوه طرف د الله ته او الله اوریده سوال او جواب ستاسی بیشکه چې الله ښه اوریدونکی او ښه کتونکی دی.

سبحان الله : الله تعالی د یوی ښځې د مشکل د حل دپاره دومره ډیر اهتمام کوی یقینا پدغه الهی اهتمام کې پدغه ښځه باندې د ټولو ښځو د پاره لوی افتخار او کمال عزت او کرامت دی او ددغی ښځې قصه داسې وه چې ددغی ښځې میړه اوس بن الصامت رضی الله تعالی عنه د هغې څخه ظهار کړی وو چې او ظهار په شریعت کې دی ته وای چې یو کس خپله ښځه د خپلې مور یا بل محرم سره مشابه کړی وی لکه چې داسې ووائی چې ستا شا پرما داسې حرامه ده لکه ځما دمور شا نو دغه ښځه پر خپله میړه باندې حرامه ده او تر څو چې میړه یی کفاره نه وی ادا کړی خپلې ښځې ته نشی نزدی کیدلی.

نو دغه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړو او وی ویلی چې ما په ځوانی کی د خپل خاوند خدمت وکړلو او بچیان می ورته وزیږولو او اوس چې بوډی شومه نو زه یې پر ځان حرامه کړم او زه یې بی سرپرسته کړمه نو زه اوس څه وکړم یا رسول الله نو پدغه وخت کې جبریل راغی او دسورة مجادلی اولنی ایاتونه نازل شول چې مضمون یې دادی که دغه سړی د ددې ظهار کفاره ادا کړی نو ښځه یې ورته بیرته حلالیږی او دغه کفاره به یا دیوی مرئی ازادول وباو یا شپیتو مسکینانو ته ډوډې ورکول او کنه بیا دوه میاشتی روژه نیول دی.

او همدارنګه په نورو آیاتو کی یې د ظهار عمل سخت تقبیح کړیدی او دائی بده او دروغ ګڼړلی دی چې دا ټول پر ښځو باندې الهی کمال شفقت او ترحم دی.

۱۷_الله تعالی مؤمنان نارینه او مؤمنانې زنانه وو ته د ضرر رسولو څخه منع کړی دی او دغه کار یې سخت تقبیح کړی دی او داسې فرمائی (( والذین یؤذون المؤمنین و المؤمنات بغیر ما اکتسبوا فقد احتملوا بهتانا و اثمامبینا))

)سورة احزاب ایت ٥٨(

ترجمه : او هغه کسان چې ضرر رسوی مومنان سړی او مؤمنانې ښځو ته ( په اتهام سره ) به غیر دهغه کار چې کړی وی دوی (یعنې په ناکړی کار ) پس په تحقیق سره دوی باروی پخپل ځان غټ دروغ او بیکاره ګناه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸_همدارنگی الله تعالی په بل ځای کې داسې فرمائی (( ان الذین فتنوا المؤمنین والمؤمنات ثم لم یتوبوا فلهم عذاب جهنم و لهم عذاب الحریق))

)سورة البروج آیت ۱۰(

ترجمه : بی شکه هغه کسان چه په فتنه کی یي غورځولی وی یعنې ضرر یې رسولی وی مومنانو سړیو ته او مومنانو ښځو ته او بیا یې توبه نه وی ویستلی نو دوي نه دی (په اخرت کې ) عذاب ددوزخ او دوی ته دی عذاب د اور سوزونکی.

د پورتنې آیاتونو څخه معلومه شوه چې بی مو جبه مؤمنانو نارینو او ښځو ته ضرر رسول حرام او ګناه او ددوزخ د داخلیدو سبب دی.

۱۹_الله تعالی امر کړیدی چې خپل ځانونه او خپلې ښځې او بچی ددوزخ داور څخه بچ کړی یعنې هغوی دالله تعالی طرف ته دعوت کړی او هغوی ته روغه او صحیحه اسلامي تربیه ورکړی.

الله تعالی داسې فرمائی : (یا ایهالذین امنوا قوا انفسکم و اهلیکم نارا وقودها الناس والحجارة)

)سورة التحریم ایت ٦(

ترجمه (ای مومنانو تاسی خپل ځانونه او اهل او عیال له اور څخه وساتۍ له هغه اور څخه چې خس او خاشاک یې خلک او تیږی دی.

۲۰_الله تعالی دمسلمانو او مؤمنو سړیو او ښځو ستاینه کړیدی او هغوی سره یې دمغفرت او لوي اجر وعده کړیدی او تول یې نیکو کارونو ته دعوت کړیدی الله تعالی فرمائی :((ان المسلمین والمسلمات والمؤمنین والمؤمنات والقانتین والقانتات والصادقین والصادقات والصابرین والصابرات والخاشعین والخاشعات والمتصدقین والمتصدقات والصائمین والصائمات والحافظین فروجهم والحافظات والذاکرین الله کثیرا والذاکرات اعدالله لهم مغفرة و اجرا عظیما (

)سورة الاحزاب ایت ۳۵(

ترجمه: یقینا مسلمان سړی او مسلمانې ښځې او مومنان سړی او مؤمنانې ښځې او تابعداری کوونکی سړی او تابعداری کوونکی ښځې او رشتیا ویونکی سړی اورشتیا ویونکی ښځې او صبر کوونکی سړی او صبر کوونکی ښځې او عاجزی کوونکی سړی او عاجزی کوونکی ښځې او صدقه کونکی سړی او صدقه کوونکۍ ښځې او روزه نیونکی سړی او روژه نیونکی ښځې او بچ ساتونکی عورتونو خپلو لره سړی او بچ ساتونکی ښځې او ډیر یادونکی الله تعالی لره سړی او ډیر یادونکی ښځې تیار کړی الله تعالی دوی لره بخشش او لوي ثواب.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱ _همدارنګه الله تعالی ښځو ته خصوصی خطاب کړی دی او داسې يې فرمائيلی (و اقمن الصلاه واتين الزكاه واطعن الله ورسوله ........)

)سورة الاحزاب ايت ۳۲(

ترجمه : (ای دپيغمبر بيبيانو )( پابندی کوی دمونځ او ورکوی زکات او تابعداری کوی دالله او درسول د هغه ..).

۲۲_همدارنګی الله تعالی فرمائی چې مومنان نارينه او مؤمنانې ښځې سره دوستان دی او ټول امر کوی په نيکې باندې او منع کوی د بدوکارونو څخه او دمونځ پابندی کوی او زکات ورکوی او دالله او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم فرمانبرداری کوی.

الله تعالی داسې فرمايي : (والمؤمنون والمؤمنات بعضهم اولياء بعض يامرون بالمعروف وينهون عن المنكر ويقيمون الصلاة ويؤتون الزكاة و يطيعون الله ورسوله .....)

)سورة التوبه ايت ۷۱(

ترجمه : او مومنان سړی اومؤمنانې ښځې بعضې ددوی د بعضو دوستان دی دوی امر کوی په نيکې سره او منع کوی دبدی نه او پابندی کوی د لمانځه او زکات ورکوی او تابعداری کوی دالله جل جلاله او درسول دهغه.

د ذکرشوی آياتونه څخه د جندر موضوع هم ښه معلومه شوه چه اسلام هغه سوارلس سوه کاله مخکې بيان کړی دی او جندر دنارينو او زنانه و نقش او فعاليت ته وائی د يوی ټولنې په مختلفو سطحو کې.

۲۳_همدارنګه الله تعالی د پيغمبر بيبيانو ته خصوصی خطاب کوی او هغوی ته دشرعی علم د تحصيل امرکوی او داسې فرمائی ( واذكرن ما يتلى فی بيوتكن من ايات الله والحكمه )

)سورة الاحزاب آيت ۳۴(

ترجمه : اويادوی هغه چې لوستل کيدي شی په کورونو ستاسو کی داياتونو دالله تعالی او حديث دنبی صلي الله عليه وسلم) څخه.

په ذکر شوی ايت کې اګر که خطاب بيبيانو ته دی خو حکم ټولو مسلمانو ښځو ته عام دی نو ټولو مسلمانو ښځو ته ضرور دی چې قران او حديث ولولی ځکه چې دا دټولو علومو اساس دی او دغه دواړه ياد کړی او پر دغه دواوه ځانونه پوه کړی او په هغه باندې عمل وکړی ترڅو ددنيا او اخرت سعادت اودالله تعالی رضا او دايمی جنت ددوی په نصيب شی.

۲٤_همدارنګه الله تعالی چې نارينه يې دبدکارونو څخه منع کړی نو زنانه يې په خصوصی توګه د بدو کارونو څخه منع کړيدی چې دا په زنانه باندې کمال مهربانی او شفقت دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی داسې فرمائی ( یا ایهالذین امنوا لا یسخر قوم من قوم عسی ان یکونو ا خیرا منهم ولا نساء من نساء عسی ان یکن خیرا منهن ولا تلمزوا انفسکم ولا تنابزوا بالالقاب .....)

)سورة الحجرات ١١(

ترجمه : ای مؤمنانو مسخری دی نه کوی هیڅ نارینه په نورو نارینو باندې کیدایشی چې هغوی به غوره وی ددوی نه او نه دی زنانه مسخری کوی په نورو زنانه پوری کیدیشی چې هغه به غوره وی د دوي نه او یو د بل عیبونه مه وائی او یو بل ته په بدو نومونو اواز مه کوي.

٢٥_ددنیا ژوند دښځې او نارینه په مشارکت سره مخ په وړاندې ځی او یو بل ته ضرورت لری او که په دغو دواړو کې یو نه وی نو ژوند سخت دی دغه مطلب ددغه ایت څخه اخیستل کیږی (هن لباس لکم وانتم لباس لهن ) (

)سورة بقره ایت ١٨٧(

ترجمه : ښځې جامه ده ستاسو دپاره او تاسو جامه یې دښځو دپاره

یعنې نارینه دښځې د لباس حیثیت لری او ښځې د نارینه دپاره د لباس حیثیت لری او دا په څو وجه سره دی .اوله وجه دا چې لکه څنګه چې جامه او بدن یو بل سره جوخت او لازم او ملزوم دی نو داسې ښځې او میړه هم سره لازم او ملزوم دی

دویمه وجه داده چې جامه دبدن پټونکی دی نو دارنګې ښځه او خاوند د یو بل دپاره پرده ده د فحش کاری او بدنامی نه.

دریمه وجه داده چه په جامه کې دبدن دپاره سکون او ارام وی نو دغه شانتی ښځه او خاوند هم دیو بل دپاره سکون او ارام دی

څلورمه وجه ئې داده چې ښځه په شان د توشکی ده او خاوند په شان د بړستن دی نو دا دواړه یو بل سره ارتباط لری او یو بل ته محتاج دی او پنځمه وجه داده چې لکه څرنګه چې بغیر دجامو نه ژوند سخت وی نو همدارنګه د نارینه و نه بغیر دښځو ژوند او د ښځو نه بغیر د نارینه ژوند سخت دی (تفسیر احسن الکلام صفحه ٣٥ جلد ٢ )

٢٦ _الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته امر کړیدی چې دمومنو زنانه و سره بیعت وکړی او هغوی د پاره دالله تعالی نه مغفرت وغواړی چې دا دښځو د پاره ډیر لوې شرف او عزت دی.

الله تعالی داسې فرمائی ( یاایهاالنبی اذا جاءک المومنات یبا یعنک علی ان لا یشرکن بالله شیئا ولا یسرقن ولا یزنین ولا یقتلن اولادهن ولا یاتین ببهتان یفترینه بین ایدیهن و ارجلهن ولا یعصینک فی معروف فبایعهن واستغفرلهن الله ان الله غفور رحیم )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)سورة الممتحنه ايه ۱۲(

ترجمه : ای نبی کوم وخت چې راشی تا ته مؤمنانې ښځې ددې دپاره چې بیعت وکړی دوی له تا سره پدی خبرو باندې چې دوی به شریک نه گنۍ الله تعالی سره هیڅ څیز او نه به غلا کوی او نه به زنا کوی او نه به وژنی خپل بچی او دوی به راتگ نه کوی داسې دروغ ته چې جوړوی دخپلو لاسونو او خپو تر منځ (یعنې دیو چا اولاد بل چا ته منسوب نکړی ) او نافرمانی به نه کوی په هیڅ کار ددین کې نو ته بیعت وکړه دوی سره او بښنه وغواړه ددوی دپاره د الله تعالی نه یقینا الله تعالی بښونکی او رحم کوونکی دی.

۲۷ _الله تعالی هغو کسانو ته ډیر بد وویلی دی چې څوک غواړی دښځې او خاوند د محبت نه ډک علاقات خراب کړی او دهغوی ترمنځ جداوالی راولی .

الله تعالی فرمائی (فیتعلمون منهما ما یفرقون به بین المرءوزوجه....)

)سورة البقره ایت ۱۰۲(

ترجمه : یهودیانو به دهاروت او ماروت نه هغه شی زده کولو چې دهغه په وسیله به یې دښځې او دخاوند تر منځ جداوالی راوستله.

او بیا ددې ایت په اخر کې ئې فرمائلی دی چې دغه کسان چې دښځې او خاوند تر منځ جداوالی راولی دجنت څخه به محروم وی او د ایت څخه دا هم معلومه شوه چې چه پر ښځو ظلم او دښځې او خاوند تر منځ جدایې راوستل دا دیهودو دبدو کارونو څخه یو کار دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه ښځې چې الله تعالی په قران کې ذکر کړې دي

په قرانکریم کې دځو ښځو ذکر او حکایت شویدی چې په هغه جمله کې دبی بی مریم نوم په صراحت سره بار بار ذکر شویدی خو دنورو ښځو نومونه صراحتا نه دی ذکر البته حکایات يې په مختلفو سورة ونو کې بیان شویدی همدارنگی په قران کې دوه غټ سورة ونه دښځو په نوم باندې نومول شوي دی چې یو ته سورة النساء وائی او نساء په عربی ژبه کې ښځو ته وائی او بل سورة په سورة مریم باندې نومول شویدی چې دا هم په اسلام کې د ښځې دعظمت او عزت یو لوې دلیل دے مونږه په راتلونکی عباراتو کې دهغو ښځو بیان کوو چې دهغوی نوم او یا حکایت په قرآن کې ذکر شوی وي چې په لاندې ډول دي .

اول : مریم بنت عمران علیها السلام چې دعیسی علیه السلام مور وه دغه نیکه ښځه چې د ولایت مقام ته رسیدلې وه په قرانکریم د هغې نوم صراحتا څلور دیرش کرتې په دولسو سورتونو کې ذکر شویدی چې هغه سورة بقره ، آل عمران او سورة النساء ، سورة المائدة ، سورة التوبة ، سورة مریم ، سورة المومنون ، سورة الاحزاب ، سورة الزخرف ، سورة الحدید ، سورة الصف سورة التحریم دي

الله تعالی دبی بی مریم په باره کې داسې فرمایلي (( اذ قالت الملائکة یامریم ان الله اصطفاک وطهرک واصطفاک علی نساء العالمین ))

)سورة آل عمران ایت ٤٣(

ژباړه : او کله چې وویل ملایکو ای مریم یقینا الله تعالی غوره والی ورکړي تاته او پاکه ساتلې ئې ته او غوره کړې ئې ته په زنانه و د خلکو باندې.

او په بل ځاې کې يې دهغې په صفت کې داسې فرمائلی : (( ومریم بنت عمران التی احصنت فرجها فنفخنا فیه من روحنا وصدقت بکلمات ربها وکتبه وکانت من القانتین ))

)سورة التحریم ایت ١٢(

ژباړه : او بیان کړیدی الله تعالی مثال دمریم لور دعمران هغه زنانه چې بچ ئې وساتلو عورت خپل نو پوکی وکړلومونږ په هغې کې دروح دطرف زمونږ نه او تصدیق کړی وه دې دکلمو درب خپل او دکتابونو دهغه او داوه دپوره تابعداری کوونکو څخه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدرانگه چې کله بی بی مریم پخپله عبادتخانه کې په عبادت باندې مصروفه وه نو په ژمی کې ورته د اوړی میوه غائبانه راتله او په اوړی کې به ورته دژمی میوه غائبانه راتله چې داد هغې لپاره یو لوې کرامت وو الله دغه خبره داسې بیان کړی دی:

))کلما دخل علیها زکریا المحراب وجد عندها رزقا قال یا مریم انی لک هذا قالت هو من عندالله ان الله یرزق من یشاء بغیر حساب((

)سورة ال عمران ایت ۳۷(

ژباړه : هرکله چې به داخل شو زکریا علیه اسلام په هغې باندې عبادتخانې ته نو وبه موندلو دهغې سره روزي ( یعنې دژمي میوه په اوړی کې او داوړی میوه په ژمی کې نو زکریا علیه السلام به وویل چې ای مریم دا روزی دکوم ځې نه تاته راغله ؟ نو هغې به وویلې چې دا دالله تعالی له طرف نه دی یقینا الله تعالی روزی ورکوي چاله چې وغواړي بغیر حسابه .

همدارنگه الله تعالی دبی بی مریم خدمت او ساتنه او پالنه دماشومتوب نه زکریا علیه السلام ته سپارې وه چې دا دټولو ښځو لپاره یو لوې افتخار او عظمت دی چې دخپلې زمانې پیغمبر دیوې ښځې خدمت او پالنه او ساتنه کوی ددې نه معلومیږي چې نیکې ښځې دالله په نزد او هم دهغه دپیغمبرانو په نزد څومره اوچته مرتبه لري الله تعالی داسې فرمائی : (( وکفلها زکریا ))

)سورة ال عمران ایت ۳۷(

ژباړه : الله تعالی دبی بی مریم پالنه او ساتنه زکریا علیه السلام ته وسپارلو . ان تردې پورې چې کله بی بی مریم دمور نه پیدا شوه نومور ئې هغه بیت المقدس ته راوستله چې هلته زکریا علیه السلام او نور علماء ناست وه نو هغوی ته ئې وویلی چې دغه ماشومه ما دبیت المقدس دخدمت لپاره ورکړې نو په دغه وخت کې په دغه مجلس کې هر یو غوښتل چې هغه دې د بی بی مریم خدمت او ساتنه او پالنه وکړي خو آخر فیصله په دې وشوه چې هریو به خپل قلم دریاب ته وغورځوي نو که دهرچا قلم داوبو دپاسه ودرید نو هماغه به دبی بی مریم خدمت او پالنه کوي نو دوي چې کله خپل قلمونه وغورځول په دریاب کې نو یواځې دزکریا علیه السلام قلم داوبو دپاسه ودریده نو بی بی مریم هغه ته دخدمت لپاره وسپارل شوه . دغه قصه الله تعالی داسې ، بیانوی (( وما کنت لدیهم اذ یلقون اقلامهم ایهم یکفل مریم وما کنت لدیهم اذ یختصمون ))

)سورة ال عمران ایت ٤٤(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او نه وي ته (ای پیغمبره ) ددوی سره حاضر چې کله دوی غورځول خپل قلمونه ( اوبو ته چې معلومه شی ) چې کوم یو کس به پالنه کوی دمریم او نه وی ته حاضر ددوی سره کوم وخت چې دوي بحث کول په باره دساتلو دمریم کې (

همدارنګه الله تعالی دبی بی مریم څخه یو عظیم پیغمبر چې عیسی علیه السلام و زیږولې وه او خپل عظیم قدرت ئې پکې ښودلې دی چې هغه ئې بغیر دپلاره پیدا کړې وه دغه قصه الله تعالی داسې بیانوی : (( اذ قالت الملائکة یا مریم ان الله یبشرک بکلمة منه اسمه المسیح عیسی بن مریم وجیها فی الدنیا والاخرة ومن المقربین ویکلم الناس فی المهد وکهلا ومن الصالحین قالت رب انی یکون لي ولد ولم یمسسنی بشر قال کذلک الله یخلق ما یشاء اذا قضی امرا فانما یقول له کن فیکون ویعلمه الکتاب والحکمة والتوراة والانجیل ورسولا الی بنی اسرائیل ))

)سورة ال عمران ایت ٤٥ -٤٩(

ژباړه : کوم وخت چې وویل ملایکو ای مریم یقینا الله تعالی زیری درکوی تاته په یوی کلمی دطرف دالله تعالی نه چې نوم دهغه مسیح عیسی ځوې دمریم دی چې مخور به وي په دنیا او په آخرت کې او الله ته دنزدې کړی شوی بندګانو څخه به وی او دې به خبرې کوي دخلقو سره په غیږ دمور کې او په پوخ عمر کې او دپوره نیکانو څخه به وي . نو وویل مریم : ای ربه څرنګې به ځما لپاره ځوې وي او حال دا چې هیڅ یو بشر ماباندې لاس نه دی لګولی نو وویل ( جبریل ) دغسې الله تعالی پیدا کوی څه چې وغواړی هر کله چې هغه دیو کار دکیدلو فیصله وکړي نو هغه ته ووائی اوشه نو هغه وشي او ښودنه به کوي ده ( عیسی ) ته دکتاب او دسنت اود تورات او دانجیل او دي به رسول وګرځوي بنی اسرائیلو ته یعنې دبني اسرائیلو پیغمبر به وي .

همدرانګې الله تعالی دبی بی مریم لاندې ښه صفتونه او کرامات بیان کړیدی

١-ملائکو دهغې سره خبرې کړې وه .

٢-هغه الله تعالی په ټولو ښځو دزمانې باندې غوره کړی وه

٣-هغه الله تعالی دګناه څخه پاکه ساتلې وه

٤-هغه یوه پاک لمنه ښځه وه

٥-هغه یوه ریښتینی ښځه وه

٦-هغه دالله تعالی په خبرو او کتابونو ایمان او باور درلوده .

٧-هغه دالله تعالی تابعداره بنده وه .

٨-هغې ته به غیبی او خارق العاده رزق ورکول کیده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹-دهغې نه الله تعالی بغیر خاوند نه پیغمبر پیداکړو .

۱۰-دهغې خدمت او پالنه دزمانې پیغمبر زکریا علیه السلام کوله .

دوهم : حنة بنت فاقوذ چې دعمران ښځه او دبی بی مریم موروه :

ددغې نیکې ښځې حکایت په سورة ال عمران کې ذکر شویدی دغې ښځې حمل درلود او دا يې نذر ایښی و چې کله دغه حمل پیدا شی نو هغه به دبیت المقدس خدمت کوي نو کله يې چې دغه حمل وزیږاوه نو هغه ښځه وه نو دهغې نوم ئې مریم کیښوده . نو الله تعالی دغه نذر قبول کړلو او مریم بیا په بیت المقدس کې دزکریا علیه السلام ترپالنې لاندې اوسیدله او هغې ته ئې یوه خاصه کوټه جوړ کړې وه .

الله تعالی فرمائی : (( اذقالت امراة عمران رب اني نذرت لک ما فی بطنی محررا فتقبل منی انک انت السمیع العلیم فلما وضعتها قالت رب انی وضعتها انثی والله اعلم بما وضعت ولیس الذکر کالانثی واني سمیتها مریم واني اعیذها بک وذریتها من الشیطن الرجیم فتقبلها ربها بقبول حسن وانبتها نباتا حسنا وکفلها زکریا ..))

)سورة ال عمران ۳٦-۳۷(

ژباړه : هر کله چې ووئیل ښځې دعمران علیه السلام ای ربه زما یقنیا ما منخته کړې ده خاص تالره دهغه ماشوم چې ځما په خیټه کې دی ازاد کړی شوی ددین لپاره نو قبول کړې زمانه یقینا ته هرڅه اوری او په هر څه باندې عالم ئې نو هر کله چې هغې وزیږوله هغه نو هغې وویلې یا ربه یقینا ما جینی وزیږوله او الله تعالی ښه پوهه دی په هغه چې هغې زیږولی دی او نه دی هغه نارینه (چې ده طلب کړې وه د هغه) پشان دهغه زنانه (چې ورکړی شوه) او یقینا ما نوم ایښودلې دی د هغې مریم او یقینا زه پناه غواړم هغې لره په تاسره او اولاد د هغې لره د شیطان رټلی شوی نه نو قبول کړلو هغه رب د هغې په ښائسته قبلولو سره او زرغون ئې کړو هغه په ښائسته زرغونولو سره او هغه ئې زکریا ته وسپارلو (د خدمت او پالنې لپاره)

دریم : آسیه بنت مزاحم علیها السلام چې دفرعون ښځه وه او مسلمانه وه فرعون هغې ته سخت عذابونه ورکړلو چې هغه بیرته داسلام څخه وګرځیږي خو هغه دقوي ایمان او عقیدې خاونده وه او دحق په لار کې ئې شهادت قبوله کړه او فرعون هغه شهیده کړه . الله تعالی دهغې په صفت کې داسې فرمائی : (( وضرب الله مثلا للذین امنوا امراة فرعون اذقالت رب ابن لی عندک بیتا فی الجنة ونجنی من فرعون وعمله ونجنی من القوم الظالمین ))

)سورة ا لتحریم ایت ۱۱(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او بيان کړيدی الله تعالی مثال دمومنانو لپاره دښځې دفرعون کوم وخت چې وويل هغې ای ربه ځما جوړ کړه ما لپاره ستا په خوا کور په جنت کې او ماته نجات راکړه دفرعون او دهغه دعمل څخه او ماته نجات راکړه دظالم قوم څخه.

څلورم : بی بی سارة چې دابراهيم عليه السلام ښځه وه:

ددغې ښځې څخه دوه پيغمبران پيدا شوی وه چې يو اسحق عليه السلام وه او بل يعقوب عليه السلام يعنې دی د دوو پيغمبرانو مور وه او دپيغمبرښځه وه الله تعالی دهغې حکايت په سورة هود او سورة الذاريات کې داسې کړيدی : (( وامراته قائمة فضحکت فبشرناها باسحاق ومن وراء اسحق يعقوب ))

)سورة هود ايت٧١(

ژباړه : او دابراهيم عليه السلام ښځه ولاړه وو نو هغه خوشحاله شوه نو مونږه زيری ورکړلو هغې ته په اسحق او وروستو داسحق نه په يعقوب سره .

او په سورة الذاريات کې يې داسې فرمائی : (( وبشروه بغلم عليم ، فاقبلت امراته فی صرة فصکت وجهها وقالت عجوز عقيم ، قالوا کذلک قال ربک انه هوالعليم الحکيم))

)سورة الذاريات ايت ٣٠(

ژباړه او ملائکو زيری ورکړلو ابراهيم عليه السلام ته په يو علم والا ځوې سره نو مخامخ شوه ښځه دهغه په ډله دملائکو کې په چغې سره نو خپل مخ ئې په لاس ووهلو او وې وئيلې زه يوه شنډه بوډۍ يمه نو ملايکو وويل دغسې به ئې ته ستا رب ويلي دي يقينا هغه حکمتونو والا دی.

پنځم :دزکريا عليه السلام ښځه چې دبی بی مريم خاله وه اويوه مسلمانه ښځه وه ددغې ښځې ذکر دسورة ال عمران په څلويښتم ايت او سورة مريم په پنځم او اتم ايت کې شويدی .

شپږم : دموسی عليه السلام مور چې يوه مسلمانه ښځه وه دسورة طه په اته ديرشم او څلويښتم ايت کې او دسورة القصص په اووم او دولسم ايت کې ئې ذکر شويدی .

اووم : بلقيس : دغه ښځه مخکې دايمان راوړلونه ديمن ملکه وه سليمان عليه السلام هغې ته يو خط وليږلو او هغه ئې اسلام ته دعوت کړې وه چې ددغه خط نه وروسته هغه سليمان عليه السلام ته راغله او مسلمانه شوه او دشرک او دکفر نه ئې خپل برائت اعلان کړلو .

الله تعالی ددغې ښځې قيصه په سورة النمل کې د ٢٣ اايت څخه تر ٤٤ ايت پورې په تفصيل سره ذکر کړی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم: زينب بنت جحش رضی الله عنها چي دزيد بن حارثة رضي الله عنه ښځه وه او زيد ته رسول الله صلی الله عليه وسلم ځوي ويلې وه او دهغه سره ئې ئې زياته مينه درلودله زيد بن حارثة خپله ښځه طلاقه کړه او دهغه دطلاق نه وروسته الله تعالی دغه ښځه خپل پيغمبر ته په نکاح کړلو او الله تعالی دغه قصه داسې بيانوی : (( فلماقضی زيد منها وطرا زوجناکها لکی لايکون علی المومنين حرج فی ازواج ادعيائهم اذا قضوا منهن وطرا وکان امرالله مفعولا ))

)سورة الاحزاب ايت ٣٧ (

ژباړه : پس هرکله چې پوره کړلو زيد دهغې ( زينب بنت جحش ) نه حاجت نو په نکاح سره مونږ درکړله تاته دغه ښځه ددې لپاره چې نه وي په مومنانو باندې تنګسيا په باره دنکاح کولو دښځو دمتبنی ګانو ددوي هر کله چې پوره کړي دوي دهغوې نه حاجت او دې حکم دالله تعالی پوره کړی شوی .

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه ښځه دومره اوچته مرتبه درلودله چې رب العالمين پخپله دعرش دپاسه دهغې نکاح دخپل پيغمبر سره ترلې وه ځکه خوبه دغه ښځه درسول الله صلی الله عليه وسلم په نورو ښځو افتخار کولو او دابه ئې ويلی چې ځما نکاح رب العالمين د عرش دپاسه دخپل پيغمبر سره تړلی دی .

نهم :عائشه رضي الله عنها چې درسول الله ښځه وه دسورة النور دلسم ايت څه تر شلم ايته پورې د هغې دبرائت لپاره نازل شويدی .

لسم : درسول الله صلی الله عليه وسلم نوري بيبيانې :

درسول الله صلی الله عليه وسلم دټولو بيبيانو ذکر په سورة الاحزاب او سورة التحريم کې په تفصيل سره شوی دی .

سورة الاحزاب ايت ٦ او ايت ٢٨ الی ٣٤ او ايت ٥٠ تر ٣ او ايت ٥٩ اوسورة التحريم دايت ٣ څخه تر ايت ٥ پورې .

يوولسم : دشعيب عليه السلام لورګانې چې يوه ئې بيا دموسی عليه السلام ښځه شوه . ددوی حکايت په سورة القصص کې الله تعالی ذکر کړی دی . سورة القصص ايت ٢٣ .

دولسم : دعزيز مصر ښځه چې راعيل نوميده او مشهوره په زليخا باندې وه .

ددغې ښځې حکايت الله تعالی په سورة يوسف کې په تفصيل سره ئې ذکر کړی دی .

ديارلسم :دنوح عليه السلام ښځه او دلوط عليه السلام ښځه دغه دواړه ښځې اګر که دپيغمبرانو ښځې وې خو کافري وې ځکه دواړه دجهنم مستحق شول الله تعالی ددغو دواړو په باره کې داسې فرمائي : (( وضرب الله مثلا للذين کفروا امراة نوح وامراة لوط کانتا تحت عبدين من عبادنا صالحين فخانتاهما فلم يغنيا عنهما من الله شيئا وقيل ادخلا النار مع الداخلين (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)سورة التحريم ایت ۱۰(

ژباړه : او بیان کړیدی الله تعالی مثال کافرانولره دښځې دنوح او دښځې دلوط چې دا دواړه ځما ددوه صالحو بندګانو په نکاح کې وه نو خیانت وکړو دغو دواړو دخپل میړونوسره ( ایمان ئې رانه وړ ) نو دفع نه کړلو هغوی د دوې نه هیڅ شی دالله دعذاب نه او وویل شو چې داخلې شی اورته داخلیدونکو سره .

څوارلسم : دابو لهب ښځه چې ام جمیل نومیده او کافره وه الله تعالی ددغې ښځې حکایت په سورة اللهب کې کړیدی او داسې ئې فرمائلی دی : (( وامراته حمالة الحطب في جيدها حبل من مسد ))

)سورة اللهب ایت ٤-٥(

ژباړه: او ښځه دده چې بارونکې دخاشاک ده په سټ دهغې کې رسی ده دپوستکو دکجورو څخه .

مطلب دا چې د ابو لهب ښځه به هم د جهنم اور ته داخلیږی دغه ښځه ډیره سخته کافره وه او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به زیات تکلیف رسولو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم بحث

دنبوی احادیثو په ذخیره کې داسې ډیر روایتونه موجود دي چې په هغې کې دښځو اوچت مقام ذکر شوی دی خو زه په دغه لویه ذخیره کې صرف یو څو روایتونه ذکر کوم چې دهغې څخه دښځو اوچت مقام په اسلام کې ډیر ښه معلومیږي چې هغه په لاندي ډول دی :

۱-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت کړی چې هغه ویلی دي : (( اتی جبریل النبی صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله هذه خدیجة قد اتت معها اناء فیه ادام وطعام فاذا اتتک فاقرا علیه السلام من ربها ومني وبشرها ببیت فی الجنة من قصب لا صخب فیه ولا نصب ))

)متفق علیه مشکوة صفحه ۵۷۳(

ژباړه : جبریل علیه السلام نبی علیه السلام ته راغی او هغه ته یې وویلې چې ای رسول الله صلی الله علیه وسلم خدیجة تاته راتلونکې ده او دهغې سره یو لوښی دی چې په هغه کې قتغ او دخوراک څه شی دی نو چې کله تاته راغله نو په هغې باندې دهغې درب له طرفه او ځما له طرفه سلام ووایه او هغې ته زیری ورکړه په یو کور سره په جنت کې چې دمرغلرو څخه جوړ دی او په هغه کې شور او تکلیف نشته

سبحان الله!

یوه ښځه په اسلام کې دومره اوچتې مرتبې ته رسیږي چې رب العالمین او دهغه مقرب ملائک جبریل علیه السلام په هغې باندې سلام وائی او هغې ته په دنیا کې دجنت زیری ورکوي . یقینا دغه ټولو ښځو ته لوې افتخار او دیر لوې عزت دی .

۲-امام ترمذي رحمه الله دانس رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( حسبک من نساء العالمین مریم بنت عمران وخدیجة بنت خویلد وفاطمة بنت محمد وآسیة امراة فرعون (

)مشکوة صفحه ۵۷۳ (

ژباړه : کافي ده تاته پیژندل دفضیلت دمریم لور دعمران او دخدیجې لور دخویلد او دفاطمې لور دمحمد صلی الله علیه وسلم او داسیه ښځه دفرعون.

یعنې دغې ښځې داسې اوچتو مرتبو ته رسیدلي دي چې ډیر نارینه هغې ته نه دی رسیدلي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-امام بخاري او امام مسلم رحمه ا الله دعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( يا عائشة هذا جبريل يقرئک السلام قالت وعليه السلام ورحمة الله قالت وهو يرى مالا ارى ))

)مشکوة صفحه ۵۷۳(

ژباړه : ای عائشې دغه جبريل دی او پرتا سلام وائی نو عائشة رضي الله عنها وويلې چې په هغه دې سلام او رحمت دالله وي او بيائې وويلې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم جبريل ليده او مانه ليده .

٤-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړيدي چې هغې فرمائلی دی : (( کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يکثرذکرها( خديجة) وربما ذبح الشاة ثم يقطعها اعضاء ثم يبعثها في صدائق خديجة ))

)متفق عليه مشکوة صفحه ۵۷۳(

ژباړه : رسول الله صلی الله عليه وسلم به خديجة رضي الله عنها ډيره يادوله او ډير کرتې به يې چې کله ګډ حلاله کړه نو دهغه اندامونه به ئې جداجدا کړله او بيا به ئې دخديجې رضي الله عنها په دوستانو تقسيموله .

۵-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دعلي رضي الله عنه څخه روايت کړيدي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( خير نسائها مريم بنت عمران وخير نسائها خديجة بنت خويلد ))

)متفق عليه مشکوة صفحه ۵۷۳(

ژباړه : مريم لور دعمران د خپلې زمانې بهتره ښځه وه او خديجه لور دخويلد دخپلې زمانې بهتره ښځه ده.

٦-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فاطمه رضي الله عنها ته وويل : (( يا فاطمة الا ترضين ان تکوني سيدة نساء اهل الجنة ))

)مشکوة صفحة ۵٦۸(

ژباړه : ای فاطمې ايا ته نه خوشحاليږی چې دجنت دښځو سرداره شې.

او په بل روايت کې امام ترمذی دعائشة رضي الله عنها روايت کړي دی چې فاطمة رضي الله عنها داسې فرمائلی دی : (( واخبرنی انی سيدة نساء اهل الجنه ))

)متفق عليه مشکوة صفحه ۵۷٤(

ژباړه : رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته خبر راکړه چې زه دجنت دښځوسرداره يم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷-امام بخاري او امام مسلم دعمروبن العاص رضي الله عنه څخه روایت کړیدی چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویلې : ((ای الناس احب الیک ؟ قال عائشة ))

)متفق علیه � مشکوة صفحه ۵۵۵(

ژباړه : په خلکو کې څوک تاته ډیر خوښ دی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل چې عائشة رضي الله عنها .

۸-امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله دمسوربن مخرمة رضي الله عنه څخه روایت کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (فاطمة بضعة منی فمن اغضبها اغضبنی وفی روایة یریبنی ما ارابها ویوذیني ما آذاها )

)متفق علیه � مشکوة صفحه ۵٦۸(

ژباړه : فاطمه ځما دبدن ټوټه ده او چاچې هغه په غصه کړله نو زه ئې په غصه کړلم او په بل روایت کې ئې داسې ویلی دی : (( ما خفه کوی هغه شی چې فاطمه خفه کوی او ماته تکلیف او ضرر رسوی هغه شی چې فاطمه ته تکلیف او ضرر رسوی .

دپورتني احادیثو څخه دا معلومه شوه چې داسلام مقدس دین پرښځو څومره زیات اهتمام کړی دی او دا چې ښځې کولای شي هغه اوچتو درجو او مرتبو ته ورسیږي کوم چې دیر سړي ورته نه شي رسیدلای البته دغو او چتو مرتبو ته به دتقوی او دیانتداری او خوش اخلاقې له لارې رسیږي .

۹-امام احمدبن حنبل او امام نسائی رحمهما الله دانس رضي الله عنه څخه روایت کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( حبب الی من الدنیا النساء والطیب وجعلت قرة عینی فی الصلاة ))

)مشکوة صفحه ٤٤۹(

ژباړه : ددنیا څخه ماته ښځې او خوشبوئې محبوب شویدی او ځما دسترګو یخوالي په لمانځه کې ګرځول شوي دي .

۱۰-همدارنګې امام نسائی دانس رضي الله عنه څخه روایت کړیدی چې هغه ویلی دی : (( لم یکن شی احب الی رسول الله صلی الله علیه وسلم بعد النساء من الخیل(

)نسائی صفحه ۹٤ جلد ۲(

ژباړه : داسې شی چې رسول الله صلی اله علیه وسلم ته پس له ښځو دیر خوښ وه هغه اسونه وه ، یعنې په اوله درجه کې ئې دښځو سره مینه زیاته وه او دهغوې نه وروسته ئې داسونو سره مینه زیاته وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱-امام مسلم رحمه الله دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( الدنيا متاع وخير متاعها المراة الصالحة))

)مشکوة صفحه ۲٦۷(

ژباړه : دنيا يوه شتمنې ده او غوره شتمنی ددنيا صالحه ښځه ده .

۱۲-امام ابوداود رحمه الله دابوالطفيل غنوی رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې هغه ويلی دی : (( کنت جالسا مع النبی صلی الله عليه وسلم اذاقبلت امراة فبسط النبی صلی الله عليه وسلم رادءه حتی قعدت فلما ذهبت قيل هذه ارضعت النبی صلی الله عليه وسلم ))

)مشکوة ۲۷٤(

ژباړه : زه دنبی عليه السلام سره ناست وم چې يوه ښځه راغله نو نبی عليه السلام خپل څادر هغې ته هواره کړه او هغه وربانديې کښيناستله نو هرکله چې دغه ښځه لاړله نويو چا وويلې چې دا هغه ښځه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ئې شيدې ورکړيده . يعنې دهغه رضاعی مور وه .

۱۳-امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله دام هانی بنت ابی طالب رضي الله عنها نه چې درسول الله صی الله عليه وسلم دتره لور روايت کړې دی چې هغې په فتح دمکې کې دوو مشرکانو ته چې دده دميړه خپلوان وو امان ورکړې وه او علی رضي الله عنه غوښتل چې دغه کسان ووژنې نو ام هاني رضي الله عنها رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دغه خبره وکړله نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :( قداجرنا من اجرت يا ام هانئ )

)مشکوة صفحه ۳٤۷(

ژباړه : مونږ امان ورکړيدی هغه چاته چې تاورته امان ورکړيدی ای ام هانئ .

سبحان الله !

داسلام په مقدس دين کې دښځې دتصميم او نظر څومره زيات احترام شويدی او په هغه بانديې څومره زيات اهتمام شويدی چې يوه مسلمانه ښځه دوو کافرانو ته امان ورکوي او دالله تعالی رسول دغه امان ورکول قبول او نافذوي .

۱٤-امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت کړيدی چې يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل : (من احق الناس بحسن صحابتی ؟ قال امک قال ثم من ؟قال امک .قال ثم من ؟ قال امک . قال ثم من ؟ قال ابوک )

)مشکوة صفحه ٤۱۸(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چې څوک پر ما باندې ډېر حقدار دی په ښه ملګرتیا کې ؟ نو رسول الله صلی علیه وسلم ورته وویل ستا مور هغه سړی بیا وویل څوک ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل ستا مور هغه سړی وویل بیا څوک ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چې ستا مور هغه سړی وویل بیا څوک ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل ستا پلار.

سبحان الله.

دا یو لوې شرف عزت او افتخار دی د ټولو ښځو دپاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی دری ځلی مکرر زیات حقدار د ښه ملګرتیا او ښې معاملی بولی او نارینه یې په څلورمه درجه کې حقدار ګڼلی دی.

۱۵-امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله دابو هریرة رضي الله عنه نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( استوصوا بالنساء خيرا ))

)مشکوة صفحه ۲۸۰(

ژباړه : ترجمه : یو بل ته دښځو په هکله ښه وصیت او سپارښتنه وکړی .

سبحان الله :

وګورئ داسلام د مقدس دین کمال ته چې دښځو په خیراو صلاح باندې څومره زیات اهتمام کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ټول امت ته امر کوي چې یو بل ته دښځو په باره کې ښه وصیت وکړئ یعنې یو بل ته پرښځو باندې درحم او دهغوې سره دنیکې رویې په باره کې وصیت وکړئ .

۱۶-امام احمدبن حنبل او امام نسائی او امام بیهقی رحمهم الله دمعاویه بن جاهمه رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې جاهمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی نو هغه ته یې وویل چې( یا رسول الله صلی الله علیه وسلم اردت ان اغزو وقد جئتک استشیرک فقال هل لک من ام ؟قال نعم قال فالزمها فان الجنة عند رجلها )

)مشکوة صفحه ٤۲۱(

ژباړه : ای رسول الله ما اراده کړې چې غزا ته لاړ شم او تاته راغلی یم چې ماته مشوره راکړئ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ایا مور دې شته ؟ نو هغه وویل هو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دهغې سره دخدمت لپاره اوسیږه ځکه جنت دهغې دخپو سره دی .

۱۷-امام خطیب بغدادی په خپل کتاب الجامع لاخلاق الراوي کې د انس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائلی دی : (( الجنة تحت اقدام الامهات ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)رواه احمد و النسايی و ابن ماجه و الحاکم والقضاعی فی مسنده مشکوة صفحه ٤٢١ حاشیه ٤ واورده الذهبی فی الکبائر و ذکره الساعاتی فی بلوغ الامانی شرح الفتح الربانی جلد ١۴ صفحه ٥٨ الفتح الربانی ج ١۴ صفحه ٥٨ کشف الخفاج 1 ص ٣٣٥(

ژباړه : جنت دمورګانو دقدمونو لاندې دی .

سبحان الله!

دایولوې افتخار او عزت دی ټولو ښځو ته چې جنت ته تلل دمورګانو په خدمت او پالنه پورې تړل شوي دي.

١٨-امام مسلم او امام بخاری او امام ترمذي دانس رضي الله عنه نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( من عال جار یتین حتی تبلغا جاء یوم القیامة انا وهو کهاتین واشار بالسبابه والوسطی ))

)ریاض الصالحین صفحه ١٥٥ مشکوة صفحه ٤٢١ الادب المفرد جلد ١ صفحه ٤١(

ژباړه : چاچې ددوو جنکیانو خدمت او پالنه دهغوې تربالغیدو پورې وکړلو نو په ورځ دقیامت کې به څما سره دومره نزدې وي لکه څنګه چې منځنی ګوته دشهادت د ګوتی سره نزدی دی .

ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې دښځو خدمت او پالنه او پرهغوی شفقت درسول الله صلی الله علیه وسلم دخوشحالیدو او دجنت دداخلیدو سبب دی .

١٨-امام احمدبن حنبل او امام نسائی او امام ابن ماجه رحمه الله د ابوهریرة رضي الله عنه او دابو شریح خزاعی رضي الله عنه څخه روایت کړي دی چې رسول الله صلی اله علیه وسلم فرمائلی دی : ((اللهم اني احرج حق الضعیفین الیتیم والمراة))

)الفتح الربانی ج ١٦ صفحه ٢٣٢ ریاض الصالحین صفحه ١٥٦(

ژباړه : ای الله زه په سختی سره منع کوم ددوو ضعیفانو یتیم او ښځه دحق دتلفولو څخه یعني دیتیم او ښځې دحق دپیمالولو څخه خلک سخت ویروم او سخت منع کوم او دیتیم او ښځې دحق پیمالونکې ګنهګار ګڼم .

سبحان الله !

وګورئ داسلام مقدس دین ته چې څومره زیات اهتمام کوی دښځو په حقونو باندې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوې دحقوقو دضائع کولو څخه څومره په سختی سره خلک منع کوي .

١٩-امام بخاري او امام مسلم دعائشی رضي الله عنها نه روایت کړي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( من ابتلی من هذه البنات بشئ فاحسن الیهن کن له سترا من النار (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مشکوة صفحه ٤٢١ الادب المفرد صفحه ٤١ جلد ١ (

ژباړه : چاته چې لورګاني ورکړی شوی وي او دې ورسره احسان وکړي ( يعنې دهغوې ښه خدمت او پالنه او تربيه وکړي ) نو دغه لورګانې به دده او ددوزخ داور ترمنځه به ديوې پردی په شان وي يعنې دغه لورګاني بۀ دده دنجات سبب شی ددوزخ داور څخه .

٢٠-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دابو هريرة رضي الله عنه روايت کړيدی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دی : (( الساعى على الارملة والمسكين كالمجاهد في سبيل الله وكالقائم الذي لا يفتر وكالصائم الذي لا يفطر ))

)مشکوة صفحه ٤٢٢ رياض الصالحين صفحه ١٥٥(

ژباړه : څوک چې دکونډو ښځو او مسکينانو په مرسته او خدمت او پالنه کې کوشش کوي په درجه او ثواب کې دهغه چاسره برابر دی چې دالله تعالى په لار کې جهاد کوي او دهغه چاسره چې هميشه به لمانځه ولاړ وي او نه ستړي کيږي او دهغه چاسره چې هميشه روژه نيسي او نه بوزه کيږي .

سبحان الله!

وګورئ داسلام مقدس دين ته چې دښځو خدمت او پالنی ته ئې څومره اوچته مرتبه ورکړيدی چې دهغوې دخدمت او پالنې ثواب ئې دجهاد او دايمی تهجد او روژه داري دثواب سره برابر کړی دی حال دا چې جهاد او هميشه تهجد او روژه نيول سخت عبادت دي .

٢١-امام احمد بن حنبل او امام ابو داود او امام ابن ماجه او امام دارمی د اسماء بنت يزيد رضى الله عنها نه روايت کړيدی چه هغې ويلی دی (مر علينا رسول الله صل الله عليه وسلم ونحن فى نسوه فسلم علينا )

)الفتح الربانى ج ١٦ ص ٢٢٩ مشکاه ص ٤٠٠(

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه و سلم د ښځو پر يوه ډله تيريده چې زه هم پکی ووم نو پرمونږ يې سلام واچاوه.

يقينا دا دټولو ښځو دپاره يو لوې عزت او افتخار دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم پر دوی باندې سلام اچوی .

٢٣-امام ابو داود او امام نسائى د ابو هريره رضى الله عنه نه روايت کړيدی چې رسول الله صلى عليه وسلم فرمائلی دی : رحم الله امراة قامت من الليل فصلت و ايقظت زوجها فصلى فان ابى نضحت فى وجهه الماء (

)مشکوة صفحه ١٠٩(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : الله تعالی دی رحم کړی په هغه ښځه باندې چې دشپې دخوبه پاځیږی او لمونځ کوی او خپل خاوند هم پاځوی او که خاوند یې پانځید نو د هغه په مخ اوبه شیندی.

په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ښځې ته چې خپل رب سره مینه لری او دهغه تابعداری کوی په خصوصی توګه درحمت دعا کوی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم هره دعا مقبوله ده.

۲٤-امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله د عبدالله بن عباس نه روایت کړیدی چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل :( یا رسول الله امراتی خرجت حاجه واکتتبت فی غزوة کذا و کذا قال ارجع فحج مع امراتک )

)مسلم صفحه ۴۳۴ جلد ۱ ، بخاری صفحه ۷۸۷ جلد ۲(

ترجمه : ای رسول الله صلی الله علیه وسلم ځما ښځه حج ته روانه ده او زه د فلانی غزا په لښکر کې لیکلی شوی یم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل غزا پریږده او ښځې سره حج ته لاړ شه.

سبحان الله ! دغه دي په اسلام کې د ښځو اوچت مقام چې د حج په سفر کې د هغې د ملګرتیا او د هغې د ځان او عزت د ساتنې لپاره فرضی جهاد د خاوند څخه ساقطیږي او په هغه باندې دا لازمیږي چې جهاد پریږدی او د هغې سره حج ته لاړ شي.

۲۵-امام ترمذی د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (ان من اکمل المومنین ایمانا احسنهم خلقا والطفهم باهله )

)مشکوة صفحه ۲۸۲(

ترجمه : په مومنانو کې پوره ایمان والا هغه څوک دی چې دډیرو ښو اخلاقو خاوند وی او په خپله ښځه باندې ډیر شفقت کونکی وی.

۲٦-امام ترمذی د ابوهریره نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی (اکمل المومنین ایمانا احسنهم خلقا وخیارکم خیارکم لنسائهم )(

)مشکوة ۲۸۲(

ترجمه: په مومنانو کې پوره ایمان والا هغه څوک دی چه دډیرو ښو اخلاقو خاوند وی او په تاسو کې غوره خلق هغه دی چه د خپلو ښځو سره غوره معامله او چلند کوي.

۲۷-همدارنګی امام ترمذی او ابن ماجه د عایشه رضی الله عنها نه روایت کړی دی چې رسول الله فرمائلی (خیرکم خیرکم لاهله)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مشکوة ۲۸۱(

ترجمه : په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د خپلې ښځې سره غوره اخلاق او معامله ولری.

۲۸-امام ترمذی او ابوداود او نسائی د سعید بن زید رضی الله عنه نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی (( من قتل دون اهله فهو شهید ))

)مشکوة ۳۰٦(

ترجمه : څوک چې دخپلې ښځې او محارمو څخه په دفاع کې ووژل شی نو هغه شهید دی

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې ښځه په اسلام کې دومره او چته مرتبه لری چې دهغې د عفت نه دفاع په هر مسلمان باندې فرض کړی شویدی او هر مسلمان ته امر شویدی چې د خپل عفت او ناموس نه په دفاع کې تر مرګه وجنګیږی او که په دفاع کې ووژل شی نو شهید دی یقینا دا د ښځو د پاره لوې عزت دی مو نږ باید زرکرته د اسلام مقدس دین باندې شکر وباسو او په هغه باندې افتخار وکړو خصوصا د اناثو طبقه.

۲۹-امام ابو داود د ابوهریره نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی (( لیس منی من خبب امراة علی زوجها ))

ترجمه : هغه کس څما دډلی څخه نه دی چې د ښځې او خاوند ترمنځ علاقات خرابوی یعنې حرام دی چې یو کس دی د ښځې او خاوند تر منځ شیطانت وکړی تر څو هغوی سره جدا کړی .

یقینا دغه فرمان کمال ترحم او شفقت دی پر ټولو مسلمانو ښځو باندې.

۳۰-امام مسلم (رح) د ابو هریره نه روایت کوی چې رسول الله صلی علیه وسلم فرمائلی دی چې (( لا یفرک مومن مومنة ان کره منها خلقا رضی الله منها آخر ) ) (

)مشکوة ۲۸۰(

ترجمه : مومن سړی دی د مؤمنې ښځې سره بغض نه کوی که د هغې کوم خصلت یې خوښ نه شی نو بل خصلت به یې خوښ شی.

ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې دښځې د یو بد خصلت په وجه د هغې نور ښه خصلتونه باید نظر انداز نه کړی شي یعنې دښځې یو بدخصلت باید دهغې سره دبغض سبب نه شي حال دا چې نور ښه خصلتونه هم ولري چې دا یو کمال ترحم او شفقت دی پر ښځو باندې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱-امام ابوداوداو ترمذي او نسائي او ابن ماجه دانس بن مالک الکعبي رضي الله عنه نه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي : (( ان الله وضع عن المسافر الصوم و شطر الصلاة و عن الحبلی و المرضع الصوم ))

)مشکوة ۱۷۸(

ژباړه : الله تعالی مسافر ته دفرضې څلور رکعتې لمونځ نيمائی معاف کړی دی او همدارنګه روژه ئې مسافر ته او هغې ښځې ته چې ماشوم ته شيدی ورکوي او حامله ښځې ته معاف کړی دی .

وګورئ داسلام دمقدس دين دغه ترحم او شفقت ته پرښځو باندې چې هغې ته ئې دحمل او ماشوم ته دتی ورکولو په حالت کې روژه معاف کړی دی البته دحمل او دماشوم درضاعت دمودې څخه وروسته يې ورباندې قضا لازمه کړيده.

۳۲-امام احمدبن حنبل او امام نسائی دعبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله صی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( ثلاثة قد حرم الله عليهم الجنة مدمن الخمر والعاق والديوث الذي يقر اهله الخبث ))

)مشکوة ۳۱۸(

ژباړه : د دريو کسانو الله تعالی جنت حرام کړی دی شراب خور او هغه کس چې مور اوپلار خفه کوي او هغه ديوث چې دخپلې ښځې او محارمو عفت ته توجه نه کوي

سبحان الله!

وګورئ داسلام دمقدس دين دغه عظيم اهتمام ته دښځو دشرف او عزت په باره کې چې څوک دښځې او محارمو دعفت څخه دفاع نه کوي اودهغوې په ساتنه او خدمت کې کوشش نه کوي او هغوې خفه کوي او هغوې ته ضرر رسوي هغه دالله تعالی درحمت او دجنت څخه محروم دي .

۳۳-امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله تعالی دعبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي:

))المراة راعية علی بيت زوجها وولده وهي مسئولة عنهم ((

)مشکوة ۳۲۰(

ژباړه : ښځه دخپل خاوند دکور او اولاد ساتونکې ده او دهغوې په باره کې ورڅخه پوښتنه کيږي يعنې ښځه دخپل خاوند په کور کې دهغه څخه وروسته دمسئوليت مرتبه لري دا دټولو ښځو لپاره يو شرف او عزت دی چې رسول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله صلی الله علیه وسلم هغوي ته دمسئوول خطاب کړی دی او دا هم معلومه شوه چې ښځې کولای شي دداسې کاروو مسئولیت په غاړه واخلي چې دهغوې دطبیعت او فطرت سره برابروي او دهغوې دتحمل وړ وي .

٣٤ -انس رضي الله عنه داسې روایت کوي : (( کان النبی صلي الله علیه وسلم یجلس عند بعیره فینصب رکبته فتضع صفیة رجلها علی رکبته حتی ترکب ))

)متفق علیه فتح الباري صفحه ٥٣٢ جلد ٤ کتاب البیوع و مسلم صفحه ٧٧٥ جلد ٢(

ژباړه : نبي علیه السلام به دخپل اوښ سره کښیناست او بیا به یې خپل مبارک زنګون ودراوه نو صفیة بی بی رضي الله عنها به خپله خپه دده په زنګون باندې ایښودله چې په اوښ باندې سوره شي .

سبحان الله!

وګورئ داسلام د ستر پیغمبر دغه شفقت او ترحم ته چې یوې ښځې ته یې خپل مبارک زنګون زینه جوړه کړه ترڅو په اوښ باندې سوره شي.

٣٥-یوبل صحابي رضي الله عنه روایت کوي : (( کانت زوجة عثمان بن عفان رقیة بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم مریضة في غزوة بدر فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اقم معها ولک اجر من شهد بدرا و سهمه ))

)بخاري صفحه ٥٧٤ جلد ٢(

ژباړه : بي بي رقیة رضي الله عنها چې دعثمان رضي الله عنه ښځه وه او درسول الله صلي الله علیه وسلم لور وه د بدر د غزا په وخت کې مریضه وه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم عثمان رضي الله عنه ته وفرمایل چې ته دخپلې ښځې سره اوسیږه او غزا ته مه ځه او تاته به دهغه چا په اندازه ثواب او د غنیمت برخه ورکول کیږي چې څوک دبدر په غزا کې شریک شوی وي .

وګورئ په اسلام کې دښځې دغه عظمت او عزت ته چې دهغې دخدمت ثواب دجهاد دثواپ یو برابر ګرځولی شوی دی .

٣٦-امام بخاري او امام مسلم دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( لا یخلون رجل بامراة ولا تسافرن امراة الا ومعها محرم ))

)مشکوة صفحه ٢٢١(

ژباړه : هیڅکله دې اجنبی سړی داجنبي ښځې سره یوازی والی ونکړي او هیڅکله دې کومه ښځه سفرونکړي مګر چې محرم ورسره وي ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورئ چې د اسلام مقدس دين دښځو په عفت او شرف او عزت باندې ځومره اهتمام کړی دی او دکوم عمل نه ئې چې په دغه حديث کې منع فرمائلې دې دا ددې لپاره نه دی چې په ښځو سختې راولې بلکه دا ددې لپاره دی چې دښځو عزت او عفت ته څوک ضرر ونه رسوي چې دا پر ښځو باندې کمال ترحم او شفقت دی .

۳۷-امام احمدبن حنبل رحمه الله دعرباض بن سارية رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : (( ان الرجل اذا سقى امراته من الماء اجر ))

)الفتح الربانى جلد ١٦ صفحه ٢٢٣(

ژباړه : سړی چې کله خپلې ښځې ته اوبه ورکړي نو هغه ته اجر ورکول کيږي.

ددغه حديث څخه معلومه شوه چې دښځو خدمت د الله تعالى په نزد يو ښه عمل دی او ډير ثوابونه لري .

۳۸-امام ابن ماجه دسراقة بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : (( الا ادلکم على افضل الصدقة ابنتک مردوده اليک ليس لها کاسب غيرک ))

)مشکوة صفحه ٤٢٥(

ژباړه : آيا زه تاسې ته بهترينه صدقه ونه ښايم بهترينه صدقة داده چې ستا لور دخاوند دکور څخه ستا کور ته راغلى وي او بل کوم کسب ګرونه لري او ته ئې خدمت او پالنه کوي او نفقه ورکوي يعنې ستا لور کونډه شوی وي او يا خاوند طلاقه کړی وي او ته يې ساتنه او خدمت کوی .

ددغه حديث نه معلومه شوه چې خيرات پرښځو پاندې دبل هر خيرات څخه غوره ده .

۳۹-امام مسلم رحمه الله دابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائلي دي : (( دينارا نفقته في سبيل الله ودينار انفقته في رقبة و دينار تصدقت به على مسکين ودينار انفقته على اهلک اعظمها اجرا الذين انفقته عى اهلک ))

)رياض الصالحين صفحه ١٦٨(

ژباړه : هغه دينار ( اشرفى ) چې ته دالله په لار کې خرچ کوی او هغه دينار چې ته ديو مريې دازادولو لپاره خرچ کوي او هغه دينار چې ته يو مسکين ته صدقه ورکوی او هغه دينار چې ته پخپل ښځه او اولاد باندې خرچ کوی په دې ټولو کې هغه دينار ډير زيات ثواب لري چې کوم دې پخپل ښځه او اولاد باندې خرچ کړی وي .

سبحان الله!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دی داسلام دمقدس دین ترحم او شفقت پر ښځو پاندې چې که څوک سخاوت کوي نو اول دې پخپله ښځه او اولاد باندې وکړي .

٤٠-امام حاکم دعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې هغه ويلی دی : (( جاءت عجوز الی النبی صلی الله عليه وسلم فقال : کيف انتم ؟کيف حالکم ؟ کيف انتم بعدنا ؟ فقالت بخيربابي انت وامي يا رسول الله ))

)رواه الحاکم في المستدرک والبيهقي فی السنن الکبری(

ژباړه : يوه بوډۍ ښځه نبي عليه السلام ته راغله نو نبي عليه السلام هغې ته وويل : تاسو څنګه ياستئ؟ستاسو حال څنګه دی ؟ ددې نه مخکې تاسو څنګه وی ؟ نو هغې وويلې زه ښه يم څما دې مور او پلار درنه قربان شي يا رسول الله صلی الله عليه وسلم.

ددغه حديث نه معلومه شوه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم څومره زيات متواضع او خوش اخلاقه او مهربان وه چې ديوې عادي بوډۍ ښځې سره ئې داسې يو رفتار وکړلو چې داحترام او محبت او شفقت څخه ډکه وه چې دغه ټولو ښځو ته يو لوې عزت او لوې افتخار دی همدارنګې ددغه حديث معلومه شوه چې زنانه لکه دنارينه و غوندې لائق داحترام دی او بايد دهغوې عزت او احترام وشي او دهغوې بې احترامي ونشي او دهغوې سره ښه رفتار وشي.

٤١-امام مسلم او امام ابوداوددعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې هغې ويلي دي : (( کنت اشرب وانا حائض فيضع رسول الله صلی الله عليه وسلم فاه علی موضع في فيشرب واتعرق العرق ثم اناوله النبي صلی الله عليه وسلم فيضع فاه علی موضع فی ))

)صحيح مسلم صفحه ١٤٣جلد ١ سنن ابي داود صفحه ٣٤(

ژباړه : زه به دحيض په حالت کې وم او چې کله به مې په کوم لوښي کې اوبه وڅښلې نورسول الله صلی الله عليه وسلم به خپله خوله څما دخولې په ځاې کيښوده او دهغه لوښي څخه به يې اوبه وڅښلې او چې کله به ما په يوه غوښه لرونکی هډوکې باندې خوله ووهله نو بيا په مې هغه هډوکی رسول اله صلی الله عليه وسلم ته ورکوله نو هغه به خپله خوله څما دخولې په ځاې ايښوده .

سبحان الله!

داسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم ديوې ښځې پس خورده په کمال محبت او لذت او تواضع سره خوري نو معلومه شوه چې ښځه په اسلام کې څومره اوچته مرتبه لري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤٢-امام احمدبن حنبل رحمه الله دربيع بنت معوذ رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې هغې ويلي دي (( دخل علي رسول الله صلی الله عليه وسلم يوم عرسی فقعد في موضع فراشي هذا وعندی جاريتان تضربان بالدف))

)الفتح الرباني صفحه ٢١٤ جلد ١٦(

ژباړه : زما دواده په ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ کور ته راغی او ځما سره نژدې کښيناست او لما سره دوه جينکی وې چې هغوې به داريا وهلې.

دغه دی داسلام دستر پيغمبر تواضع او شفقت چې جينکی دهغه په وړاندې په کمال جرئت او خوښې سره داريا وهي ..

٤٣-امام ابوداود رحمه الله دعوف بن مالک الاشجعي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي (( انا وامراة سفعاء الخدين في الجنة کهاتين وجمع بين اصبعيه السبابه والوسطی امراة ذات منصب وجمال آمت من زوجها حبست نفسها علی ايتامها حتی ماتوا اوباتوا ))

)مشکوة صفحه ٤٢٣(

ژباړه : هغه کونډه ښځه چې خاونده دمنصب او ښائست وي اودخپلو يتيمو بچيانو دډيرخدمت له وجې نه ئې پرمخ باندې توروالی پيدا شوی وي او دخپلو يتيمو بچيانو په خدمت کې ئې دهغوي تروفات يا جداېې پورې صبر کړی وي نو دغه کونډه به لما سره په جنت کې داسې نژدې وي لکه چې منځنی ګوته او دشهادت ګوته سره نژدې دی وګورئ دښځې عظمت ته په اسلام کې چې ديو نيک عمل په وجه داسې اوچتې درجې ته رسيږي چې درسول الله صلی الله عليه وسلم سره به په جنت کې نزدی وي .

٤٤-امام ابوداود او امام ترمذي وغيره دعائشة رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( ان النساء شقائق الرجال ))

)مشکوة صفحه ٤٨(

ژباړه : ښځې دسړو پشان دي په پيدائش او طبيعت کې . يعني ښځې او نارينه ټول دادم او حواء عليهما السلام څخه پيدا شويدي نو نارينه و ته روا نه دي چې پرښځو کبر او لوئی وکړی او هغوې ته په سپک نظر وګوري بلکه زنانه هم لکه دنارينه و غونډې دقدراو احترام وړ او مستحق دي .

٤٥-امام ابونعيم په حليه الاولياء کې دانس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دی : (( المراة اذا صلت خمسها وصامت شهرها واحصنت فرجها واطاعت بعلها فلتدخل من ای ابواب الجنة شاءت ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مشکوة صفحه ۲۸۱ (

ژباړه : کومه ښځه چې خپل پنځه وخته لمونځ اداء کړی وي او خپل عورت یې ساتلی وي ( دحرامو څخه ) او دخپل خاوند تابعداری ئې کړی وي ( په نیکو کارونو کې ) نو په ورځ دقیامت کې به هغې ته اختیار ورکړی شي چې جنت ته په کومه دروازه داخلیږی داخله دې شي .

وګورئ چې داسلام مقدس دین د ښځې په عزت او شرف باندې څومره تاکید کړی دی چې ښځو ته ئې دخپل عفت او عزت ساتل دجنت دداخلیدو یو سبب ګرځولی دی یعنې کومه ښځه چې دخپل عفت او شرف او عزت خیال نه ساتي هغه جنت ته نشي داخلیدی

٤٦-امام ابوداود دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( من کان له انثی فلم یادها ولم یهنها ولم یوثرولده یعنې الذکور، علیها ادخلها الله الجنة ))

)مشکوة صفحه ٤٢٣(

ژباړه : دچاچې لور وه او هغه ئې ژوندی ښځه نه کړه او دهغې سپکاوی ئې ونکړلو او خپل ځامن یې وربانديې غوره ونه ګڼلو نو الله تعالی به ئې جنت ته دا خل کړي .

دغه دي دښځې اوچت مقام په اسلام کې چې دهغې احترام او پرهغې شفقت کول ئې دجنت دداخلیدو سبب ګرځولی دی . نو هرهغه څوک چې ځامنو ته پر لورګانو باندې غوره والی ورکوي او هغوې ته میراث نه ورکوي نو هغه ظالم دی او دالله تعالی درحمت نه به محروم وي او ددۀ دغه کار دجاهلیت دزمانې دخلکو د کار سره مشابه دی . چې هغوی به خپلې لورګانې ژوندی ښخول ځکه خو الله تعالی دهغوې په باره کې داسې فرمائلي دي : (( واذا الموءودة سئلت بای ذنب قتلت ))

)سورة التکویرایت ۸-۹(

ژباړه : او کله چې د ژوندی ښخې شوې جینکو څخه پوښتنه وشي چې دوي په کومه ګناه وژلي شوي وو .

٤٧-امام بخاري او امام مسلم دانس رضي الله عنه څخه روایت کړیدی چې نبي علیه السلام په یو سفر کې خپلې بیبیانې په اوښانو سورې کړی وې او یو صحابي چې انجشه نومیده دغه اوښان چوکاوه نو نبي علیه السلام دغه صحابي ته وویلې (( یا انجشه رویدک سوقا بالقواریر ))

)صحیح مسلم صفحه ۲۵۵ جلد ۲ مشکوة صفحه ٤١٠(

ژباړه : ای نجشه په ارام سره دغه اوښان چو کوه او په دغه ښځو باندې چې دشیشې غوندې نازک دي شفقت وکړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دغه حديث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځې دشیشې سره مشابه کړیدی یعني لکه څرنګه چې شیشه یو نازک شی دی همدارنګې ښځې هم یو نازک مخلوق دی نو باید دهغوې سره زیاته نرمي وشي او دهغوې په حفاظت کې دې زیاته پاملرنه وشي همدارنګې لکه څرنګه چې شیشه یو ښائسته او صفاشی دی او دړنا لپاره استعمالیږي نو ښځې هم یوصفا او ښائسته مخلوق دی اوپه هریو کور کې دیوې ډیوی مثال لري چې کور والا ئې دړنا څخه ګټه اخلي او چې په کوم کور کې ښځه نه وي نو هغه کور برباد او په تیارو کې ډوب وي .

٤٨-امام مسلم او امام احمداو امام ترمذي داسماء بنت یزید رضي الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( لا یحل الکذب الا في ثلاث کذب الرجل امراته لیرضیها والکذب فی الحرب والکذب لیصلح بین الناس ))

)مشکوة صفحه ٤٢٨(

ژباړه : دروغ ویل روا نه دی مګر په دریو شیانو کې یو دمیړه دروغ ویل دخپلې ښځې دخوشحالولو لپاره او بل کافرانو سره دجنګ په حالت کې دروغ ویل او بل دخلکو ترمنځ داصلاح لپاره دروغ ویل

سبحان الله !

سره ددې نه چې دروغ ویل په اسلام کې یوه لویه ګناه ده خو د ښځې دخوشحالولولپاره روا شوی دی چې ددې څخه په اسلام کې دښځو اوچت مقام او لوې عزت دیر ښهٔ معلومیږي .

۴۹ : جلیل القدر صحابی سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم نه روایت کړیدی چې هغه فرمایلی دی : (( اربع من السعاده المراه الصالحه و المسکن الواسع والجار الصالح والمرکب الهنیء ))

)رواه الحاکم فی مستدرکه و ابو نعیم فی الحلیه و البیهقی. کشف الخفاء ج ۱ ص ۱۰۷(

ژباړه : څلور شیان د نیکبختی شیان دی دیندراه ښځه، پراخ کور نیک ګاونډی او د سورلی ښه وسیله.

نو د د غه حدیث څخه معلومه شوه چې د ښځو نه بغیر نارینه نیکبخت کیدی نشی او د نارینه و سعادت د ښځو پوری مربوط دی چې دا د ټولو ښځو د پاره د عزت او شرف خبره ده.

## دوهم فصل

## د ښځو او نارینه و حقوق یو پر بل باندې د قران او سنت په رڼا کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام مقدس دين ددي لپاره چې دښځې او خاوند مشترک ژوند دسعادت او محبت او خوشحالی نه ډک وي ددواړو يو پربل باندې حقوق ئې بيان کړي دي او دهغه په رعايت ئې امر کړی دی ترڅو په کورنی کې د موجوده او راتلونکو ټولو مشکلاتو مخه ونيول شي .

داسلام مقدس دين لکه څرنګه چې نارينه و ته پرخپلو ښځو باندې حقوق ورکړي دي نو همدارنګې ئې زنانه و ته هم پرنارينه و باندې حقوق ورکړي دي الله تعالی فرمائی : (( ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف و للرجال عليهن درجة))

)سورة البقرة ايت صفحه ۲۲۸(

ژباړه : او ښځو لپاره حقوق دي پشان دهغه حقونو چې پر دوي باندې لازم دي چې هغه دخاوند حقوق دي په نيکې طريقې سره يعنې دشريعت مطابق او دنارينه و لپاره پرښځو باندې اوچته درجه ده.

په دغه مبارکه ايت کې الله تعالی دښځو حقوق دنارينه دحقونو څخه مخکې ذکر کړی دی ځکه چې په (( ولهن)) کې هن ضمير دغائب دی چې جمع مونث ته راجع دی نو ددې نه معلومه شوه چې الله تعالی دښځو دحقوقو په موضوع کې زيات اهتمام کړی دی ځکه چې ښځه يو کمزوری مخلوق دی هسې نه چې څوک ئې حقوق ضائع نه کړی چې دا دالله تعالی يو لوي رحمت دی په ښځو باندې او بايد ټولې ښځې ددغه رحمت شکر ادا کړي او الله تعالی ته تسليم او دهغه تابعداری شي ترڅو دوي ته ددنيا او اخرت نيکبختی په برخه شي.

همدارنګه الله تعالی فرمائی (( وعاشروهن بالمعروف ))

)سورة النساء صفحه ۱۹(

ژباړه : اوژوند کوی تاسې دخپلو ښځو سره په نيکې طريقې او مطابق دشريعت.

وګوري چې الله تعالی دښځو پرحقوقو باندې څومره زيات اهتمام کړی دی چې نارينه و ته ئې امر کړی دی چې دخپلو ښځو سره ښه او نيکه رويه او معامله وکړي چې دا يو لوي رحمت دی پرښځو بآندې او دټولو ښځو لپاره يولوې عزت او افتخار دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول بحث

## د ښځو حقوق پر نارینه و باندې د قران او سنت په رڼا کې

ښځه پر خپل خاوندې باندې یو څه حقوق لری چې باید د هغې رعایت وشی چې هغه په لاندې ډول دی:

۱ -دمهر حق : مهر هغه یو اندازه معلوم مال دی که منقول (د یو ځای څخه بل ځای ته نقل کیدای شي لکه نقدي پیسې،سره زر، سپین زر) وی او که غیر منقول (چې د یو ځای څخه بل ځای ته نه نقل کیږي لکه ځمکه، کور) چه د نکاح دعقد په وخت کې د میړه له طرفه ښځې ته معجل (سمدستی) یا مؤجل (راتلونکی) کې ورکول کیږی.

دمهر دواجبوالی دلائل:

الف : الله تعالی فرمائی ((وآتوا النساء صدقاتهن نحلة ))

)سورة النساء ایت ١٩(

ترجمه: تا سو ښځو ته مهرونه په خوښی سره ورکړی.

ب: همدارنګه الله تعالی فرمائی(( فما استمعتم به منهن فاتوهن اجورهن فریضة))

)سورة النساءایت ٩(

ترجمه: پس هغه ښځې چې تاسې ورڅخه فائده اخلی (کوروالی وکړی ورسره) نو هغوی ته خپل مقرر مهر ورکړی.

ج: ابو سلمه رضی الله عنها روایت کوی چې ((سالت عائشه رضی الله عنها عن صداق رسول الله صلی علیه وسلم فقال ثنتا عشرة اوقیة ونش )

)ابوداود٢٨٧و رواه مسلم بلوغ المرام١٨(

ترجمه. ابو سلمه رضی الله عنه فرمائی ما دعائشی رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چه رسول الله صلی علیه وسلم خپلو بیبیانو ته څومره مهر ورکړی وه نو هغې وویل چې دولس نیم اوقیه.

اوقیه: مفرد د اواق دی او هر یو اوقیه څلویښت درهمه وی چې دا ټول پنځه سوه درهمه کیږی.

د-عمر بن الخطاب رضی الله عنها فرمائی: (( ما اصدق رسول الله صلی الله علیه وسلم امراة من نسائه ولا اصدقت امرة من بناته اکثر من ثنتی عشرة اوقیة ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ابوداود صفحه ۲۸۷(

ژباړه : درسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو او لورګانو ته ددولسو اوقیو

( ٤٨٠درهمه ) څخه زیات مهر نه دی ورکړی شوی.

پته دې نه وې چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دښځو او لورګانو مهرونه دولس نیم اوقیې وې لکه چې دابو سلمه په حدیث کې وویل شو خو عمر رضی الله عنه پخپل حدیث کې صرف هغه کسر ( نیم ) ندی ذکر کړی همدارنګې درسول الله صلی الله علیه وسلم په بیبیانو کې دام حبیبه رضی الله عنها مهر څلورزره درهمه وه خو دغه مهر نجاشی رضي الله عنه ورکړې وه .

ر: عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه روایت کوی چې ما د یوې ښځې سره واده وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویلی : (( ما اصدقتها ؟ قال : وزن نواة من ذهب ))

)ابو داود صفحه ۲۸۷(

ژباړه : تاسو خپلې ښځې ته څومره مهر وکړی دی نو هغه وویل چې دخرما دزړی په اندازه سره زر می ورکړی دی .

دغه وه دمهر دوجوب دلائل دقرآن او حدیث څخه او اګر چې په دغه موضوع کې نور زیات احادیث شته دی خو داختصار له خاطره مونږه هغه نه ذکر کوو

دمهر اندازه :

په قرآن او حدیث کې د مهر لپاره کومه اندازه نه دی تعیین شوی بلکه طرفین

( ښځه او خاوند ) چې په هرڅه باندې راضی شی ( چې حرام نه وی ) صحیح دی چې مهر شي اودغه نظر دلیل له مخې زیات قوي دی چې مونږ ددغه نظر دلائل په لاندې ډول ذکر کوو .

اول دلیل : هغه ایاتونه چې مخکې ذکر شو چې په هغې کې دمهر اندازه نه دې تعیین شوې .

دوهم دلیل : جلیل القدر صحابی سهل بن سعد رضی الله عنه روایت کوي چې یو سړی وغوښت چې یوه ښځه په نکاح واخلي نورسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویلي : (( هل عندک من شی تصدقها ؟ قال : ماعندي الا ازاري هذا . قال : فالتمس ولوخاتما من حدید فالتمس فلم یجد شیئاً فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم : هل معک من القرآن شئ ؟ قال : نعم سورة کذا . فقال : قدزوجتکها بما معک من القرآن ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)متفق علیه مشکوة صفحه ۲۷۷ ابوداود صفحه۲۸۷ (

ژباړه : آیا ته څه لرې چې هغې ښځې ته په مهر کې ورکړی؟ نو هغه سړي وویلې چې زه دخپل لنګ نه بغیر بل څه نه لرم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ولټوه که داوسپنې یوه ګوته هم وي راوړه نو هغه سړی داوسپنی ګوته هم پیدا نکړلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دقرآن څخه څه برخه درته په یاد دی ؟ نو هغه سړی وویلو چې هو فلانی سورة مې یاد دی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دغه سورة ونه دغه ښځې ته وښایه همدغه ئې مهر شو .

ددې حدیث څخه معلوم شو چې داوسپنې یوه ګوته او دقرآن تعلیم هم مهر کې صحیح کیږي خو چې طرفین ورباندې راضي وي او همدارنګې ددغه حدیث څخه دعلم او عالم شرف او اهمیت هم ښه معلومیږي چې که عالم مال ونه لري نو دهغه علم هم دمهر لپاره کافي کیږي .

دریم دلیل : جلیل القدر صحابي عامر بن ربیعة رضی الله عنه داسې روایت کوي : (( ان امراة من بني فزارة تزوجت علی نعلین فقال لها رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ا رضیت من نفسک ومالک بنعلین ؟ قالت : نعم فاجازه ))

)رواه الترمذي مشکوة صفحه ۲۷۷(

ژباړه : دفزاره دقبیلې یوه ښځه دیو سړي سره نکاح وکړلو او مهر ئې دوه پڼې وي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دغې ښځې ته وویلې : ایا ته خوښه ئې چې خپل ځان دغه سړي ته وسپارې سره ددې چې ته مال هم لری په مقابل دیو جوړه پڼو کې ؟ نو هغې ښځې وویلې چې هو نورسول الله صلی الله علیه وسلم ددغې ښځې نکاح جائزوګڼله

نوددغه حدیث څخه معلوم شو چې یوه جوړه پڼې هم مهر کیدای شي چې طرفین راضي وي .

څلورم دلیل : جلیل القدر صحابي انس رضي الله عنه روایت کوي چې : (( اسلمت ام سلیم قبل ابي طلحة فخطبها فقالت اني قد اسلمت فان اسلمت نکحتک فاسلم فکان صداق ما بینهما ))

)رواه النسائی مشکوة صفحه ۲۷۷(

ژباړه : ام سلیم رضي الله عنها دابو طلحة رضي الله عنه څخه مخکې مسلمانه شوې وه نو ابوطلحه لا اسلام نه وه قبول کړی چې په ام سلیم باندې ئې مرکه وکړله دنکاح لپاره نوم ام سلیم ورته وویلی کچیرته ته مسلمان شي نوزه به لتا سره نکاح وکړم نو ابوطلحة مسلمان شو او دابو طلحه مسلمانیدل دهغې مهر شو .

نو ددغه حدیث څخه معلوم شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دابو طلحة او ام سلیم دغه عمل رد نکړلو بلکه سکوت ئې ورباندې کړي وه چې دا دلیل دصحی والې ددغه عمل دی نو معلوم شو چې اسلام راوړل هم په مهر کې صحیح کیږی چې طرفین ورباندې راضي وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم دليل :

جليل القدر تابعي سعيدبن المسيب رحمه الله تعالی دخپلې لور مهر دوه درهمه ټاکلي وه کله ئې چې يو عالم ته په نکاح کړې وه.

)فقه السنة صفحه ۲۹۳ جلد ۲ تحفة العروس صفحه ۸۰(

بعضې علماء وائې چې مهر بايد دلسو درهمو څخه کم نه وي او په دغه راتلونکې حديث باندې استدلال کوي چې : (( لا مهر اقل من عشرة دراهم ))

)رواه الدارقطني موقوفا بلوغ المرام صفحه ۱۸۲(

ژباړه : مهر به دلسو درهمو څخه کم نه وي .

لکن دغه حديث ضعيف دی ځکه چې دغه حديث امام دارقطنی روايت کړی دی اوسره ددې نه چې دغه حديث په علی رضي الله عنه باندې موقوف دی ( يعنې دعلی رضي الله عنه خبره ده اود رسول الله صلی الله عليه وسلم خبره نه ده ) بيا هم اسناد ئې ضعيف دي ځکه چې ددغه حديث په سند کې يو ضعيف راوي دي چې مبشر بن عبيدنوميږي امام احمدبن حنبل او امام دارقطنی او امام ابن حبان ددغه راوي په باره کې فرمائلی چې دا دروغجن وه .

)تهذيب التهذيب صفحه ١٦٦ جلد ٦(

همدارنګه امام ابن حجر عسقلاني فرمائلی : ((احاديث اقل الصداق لا يثبت منهاشی ))

)بلوغ المرام صفحه ۱۸۲(

ژباړه : کوم احاديث چې دمهر دکمی اندازي دتعيين په باره کې راغلی دی صحيح او ثابت نه دی . او امام ابن القيم رحمه الله داسې وائی : (( ان الصداق لا يتقدر اقله وان قبضة السويق وخاتم الحديد والنعلين يصح تسميتها مهرا ))

)بلوغ المرام صفحه ۱۸۱ حاشيه ٤(

ژباړه : دمهر کمه اندازه په شريعت کې مقرره نه ده بلکه يوه لپه ستوان يا يوه داوسپنې ګوته يا يوه جوړه پڼې هم مهر کې صحيح کيږي.

## د مهر احکام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-دمهرډیروالی روا دی خو کموالی ئې مستحب دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( ان اعظم النکاح برکة ایسره مونة ))

)رواه احمد والحاکم والبیهقي مشکوة صفحه ۲٦۸(

ژباړه : هغه نکاح ډیر برکت والا دی چې دهغه مهر کم تکلیفه وي.

او په بل حدیث ئې داسې فرمائلی : (( اکثر النساء برکة ایسرهن مونة ))

)اخرجه الطبرانی فی الاوسط فقه السنة صفحه ۲۹٤(

ژباړه : هغه ښځې ډیر برکت والا دي چې دهغي دمهر او نکاح تکلیف کم وي

ددغو احادیثو څخه معلوم شوه چې دمهر دیروالي کوم عزت نه دی بلکه کموالي یې دبرکت سبب دی .

داسلام دوهم خلیفة عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمائلی : (( لا تغالوا صدقة النساء فانها لوکانت مکرمة فی الدنیا وتقوی عندالله لکان اولاکم بها نبي الله )).

)رواه احمدوابوداود والترمذي وابن ماجه والدارمي مشکوة صفحه ۲۷۷(

ژباړه : دښځو په مهرونو کې ډیروالی مکوئ ځکه چې که ډیر مهر په دنیا کې کوم عزت واي او یا دالله په نزد تقوی واې نو دالله پیغمبر به دیر حقدار واې چې دغه کار وکړي ، خو هغه نه دی کړی .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کې فرمائلي دي : (( ان من یمن المرأة تیسیر خطبتها وتیسیرصداقها وتیسیررحمها ))

)رواه احمد والنسائی الفتح الرباني صفحه ۱٦۹ جلد ۱٦(

ژباړه : هغه ښځه برکتي ده چې په هغې باندې مرکه کول ( یعنې دهغې غوښتل ) او دهغې مهر او دهغې زیږونه آسانه وي.

ددغو ټولو أحادیثو څخه معلومه شوه چې دمهر ډیروالی کوم ښه کار نه دی لکن متاسفانه چې زمونږ په ټولنه کې دمهر زیاتوالی دښځې او دهغې دکورنی لپاره عزت ګڼل کیږي چې دا یو غلط نظر او دشریعت مخالف دی بلکه دمهر ډیروالی په ډیر وختونو کې دښځې او دخاوند تر منځ دارتباطاتو دخرابیدو سبب کیږي بلکه دښځې دکورنی او دهغې دخاوند دکورنی ترمنځ دمناسباتو دخرابیدو سبب هم کیږي . همدارنګې په ډیروحالاتو کې نارینه مجبوریږي چې دډیر مهر دورکولو لپاره قرضداري وکړي چې بیا دهمیش لپاره دقرضداري په مشکلاتو کې اخته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او دهغه اقتصادي حالت نه ښه کيږي او په دې وجه دهغه ښځه هم ضررويني او په کور کې مشکلات پيدا کيږي .

همدرانګې که خاوند دخپلې ښځې مهر ادا نکړي نو د غه مهر په هغه باندې يو قرض دى او بايد هغه خپلې ښځې ته ورکړي اوډير وختونه خاوند ئې مړ شي او دښځې مهر ئې ورباندې قرض پاتې شي چې دغه کار په ورځ دقيامت کې دهغه دجنت دداخليدو مانع ګرځي ځکه په حديث کې راغلي دي چې په چا باندې قرض وي او مړ شي نو هغه جنت ته نه شي داخليداى.

)رواه أحمد الفتح الرباني ص٩٠-٩١ ج ١٥(

٢-که دنکاح دتړلو په وخت کې مهرونه ټاکل شى نو نکاح کيږي خو ښځې ته بيا مهر مثل يعنې دتره دلورګانو دمهرپشان مهر ورکول کيږي

٣-مهر که دنکاح دتړلو په وخت کې ټاکل شوى نه وي او سړى دخپلې ښځې سره کور واله يا خلوت صحيحه(په پټ ځاي کې يوازې والى) کړى وي نو په دغه صورت کې ښځې ته به کامل مهر ورکول کيږي.

٤-که دنکاح دتړلو په و خت کې مهر نه وي ټاکل شوى او ښځه يا خاوند ئې مخکې دکوروالي څخه وفات شي نو په دغه صورت کې هم ښځې ته پوره مهر ورکول کيږي .

٥-که مهر ټاکل شوى وي خو سړى خپلې ښځې ته مخکې له کوروالي طلاق ورکړي نو په دغه صورت کې ښځې ته نيمائى مهر ورکول کيږي .

٦-که مهر نه وي ټاکل شوى او سړى خپلې ښځې ته مخکې له کوروالى نه طلاق ورکړي نو په دغه صورت کې ښځې ته متعه ورکول کيږي او متعه هغه شى ته ويل کيږي چې سړى ئې دخپل وس مطابق خپلې ښځې ته ورکوي او بعضې علماء وائي چې متعه يو څادر اويو کميس او يو لنګ يا پرتوګ ته وائى .

٧-ښځه کولاى شي خپل ټول مهر يا يوه برخه دهغه پخپله خوښه خاوند ته بخشش کړي .

٢-د نفقي حق:

داسلام مقدس دين دښځې نفقة په نارينه باندې فرض کړى دى چې دا دټولو ښځو لپاره کمال ، عزت او پرهغوې باندې کمال ترحم او شفقت دى چې نارينه ئې ددوي خادمان ګرځولي دي . دښځې نفقه دواده څخه مخکې پر پلار يا نيکه يا ورور باندې فرض وي خو دواده څخه وروسته دهغې نفقه پر خاوند ئې فرض شي او دغه نفقه بۀ دخاوند د وس او طاقت په اندازه وي او دغه نفقه يو څه شرطونه لري چې وروسته به ذکر شي .

الله تعالى فرمائى : (( وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)سورة البقرة ایت ۲۳۳(

ژباړه : او دماشوم پر پلار باندې دهغه دشیدې ورکوونکی مور نفقة او جامې لازم دی په نیکې طریقې سره .

همدارنگه الله تعالی فرمائی : (( لینفقه ذوسعة من سعته ومن قدر علیه رزقه فلینفق مما اتاه الله ))

)سورة الطلاق ایت ۷(

ژباړه : خرج دې کړي خاوند دفراخي دخپلې فراخي نه ( دمال په لحاظ سره ) او هغه څوک چې تنگه وه په هغه باندې روزي دهغه نو خرچ دې وکړي دهغه مال نه چې الله تعالی ده ته ورکړیدی .

اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( ائت حرثک انی شئت واطعمها اذا طعمت واکسها اذا اکتسبت ))

)ابوداود صفحه ۲۹۱(

ژباړه : دخپلې ښځې سره کوروالې وکړه په کومه طریقه چې دې خوښه وشي او کله چې ته خوراک کوی نو هغه ته هم خوراک ورکوه او چې کله ته جامه آغوندې نو هغې ته هم جامه ورواغونده .

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه سولم داسې فرمائی : (( اطعموهن مما تاکلون واکسوهن مما تکتسون ))

)ابوداود صفحه ۲۹۲(

ژباړه : خپلو ښځو ته خوراک ورکړئ دهغه شي څخه چې تاسو ئې خورئ اوددوي ته جامه ورواغوندوی د هغه شي څخه چې تاسو ئې اغوندئ .

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمائی : (( وحقهن علیکم ان تحسنوا الیهن فی کسوتهن وطعامهن ))

)ترمذي صفحه ۲۲۰ جلد ۱(

ژباړه : ستاسو دښځو حق پر تاسې دادی چې هغې ته ښه جامه او ښه طعام ورکړئ .

اوپه بل حدیث کې راغلی چې جلیل القدر صحابي معاویه بن حیدة رضي الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړله چې دښځې حق په نارینه باندې څه شی دی ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته وفرمایل : (( ان تطعهما اذا طعمت و تکسوها اذا اکتسبت ))

)ابوداود صفحه ۲۹۱(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : دښځې دحقونو څخه دادی چې کله ته خوراک کوی نو هغه ته هم خوراک ورکړه او چې کله ته جامه آغوندې نو هغې ته هم جامه ورواغونده.

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : (( وانفق علی عیالک من طولک ))

)رواه احمد مشکوة صفحه ۱۸(

ژباړه : خپلې ښځې او عیال ته دخپل وس مطابق نفقه ورکړه .

پر سړي باندې دخپلې ښځې دنفقې دفرضیت شرطونه:

۱-دښځې او خاوند نکاح باید په صحیح او شرعي طریقې سره سرته رسیدلې وي

۲-ښځه باید ځان خاوند ته دکوروالي لپاره تسلیم کړي او هغه به دشرعی عذر څخه بغیر دکوروالي څخه نه منع کوي .

۳-ښځه به داسې وي چې کوروالي ورسره کیدای شي او داسې عیب ونلري چې دکوروالي مانع ګرځي.

٤-ښځه به د خپل خاوند تابعداري کوي په هغه کارونو کې دشریعت مخالف نه وي

٥-دښځې خاوند چې چیرته سفر کوي نو ښځه به ورسره ځی مګر په هغه صورت کې چې ښځې ته ضرر رسیږي نو بیا دا شرط ساقط دی .

)فقه السنة جلد ۲ صفحه ۲۰٦ فتاوی النوازل صفحه ۲۲٤(

۳-دلباس ( جامه ) حق

ښځه پرخاوند باندې حق لري چې هغې ته درواج مطابق داسې جامه برابرکړي چې دهغې ضرورتورباندې پوره کیږي

الله تعالی فرمائی : (( وعلی المولود رزقهن وکسوتهن بالمعروف ))

)سورة البقرة صفحه ۲۳۳(

ژباړه : او دماشوم پر پلار باندې دهغه دشیدې ورکونکې مور نفقه او جامې لازم دی په نیکې طریقې سره .

اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( واکسها اذا اکتسیت ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ابوداود صفحه ۲۹۱(

ژباړه : چي کله ته جامه آغوندي نو ښځي ته هم جامه ورواغوندوه.

او په بل حديث کي رسول اله صلی الله عليه وسلم فرمائلی : (( واکسوهن مما تکتسون ))

)ابوداود صفحه ۲۹۲(

ژباړه : خپلو ښځو ته جامي ورواغوندوئ دهغه شي څخه چي تاسو ئي آغوندی.

او همدارنګي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( وحقهن عليکم ان تحسنوا اليهن فی کسوتهن وطعامهن ))

)ترمذي صفحه ۲۲۰ جلد۱(

ژباړه : ستاسو دښځو حق پرتاسي دادی چي هغوي ته ښه جامه او ښه طعام برابر کړئ .

دلباس بعضي احکام:

۱-دښځي جامه بايد دهغي دټول بدن پټوونکي وي .

۲-جامه بايددښځي دخاوند دوس په اندازه وي .

۳-ښځي ته روا دی چي دخپل خاوند ټول بدن ته وګوري او سړي ته روادی چي دخپلي ښځي ټول بدن ته وګوري او د ښځي او دهغي دخاوند ترمنځ دعورت موضوع مطرح نه دی اوددغي خبري دلائل وروسته راځي .

٤-دلمونځ داداء کولو په وخت کي بايد دښځي ټول بدن پټ وي بغير د مخ او ورغوو او قدمو څخه او کچيرته دښځي ديو اندام څلورمه برخه په لمانځه کي ښکاره شو نو مونځ ئي نه کيږي . همدارنګه هغه جامي چي ډيرنری او باريکي وي او بدن په صحيح طريقي سره نه پټوي لکه دګاچ او جالي درختونو څخه جوړ شوي جامي دلمانځه په وخت کي ئي اغوستل روا نه دی ځکه چي لمونځ په داسي جامو کي نه کيږي امادلمانځه نه بغير په نورو حالاتو دداسي جامو اغوستل روا دی خو په دي شرط چي عورت تري ښکاره نه شی او دنامحرمو نارينه و په وړاندي نه وی .

۵-دهرمودجامو اغوستل روا دی خو په دي شرط چي دعورت پټونکی وي او دکافرانو دجامو سره مشابهٔ نه وي .

۷-پر سړی باندي لازم دی چي دواده دجامو څخه بغير په هرکال کي خپلي ښځي ته دوه جوړه نوي جامي وکړي.

)فتاوی النوازل صفحه ۲۲٤(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که سړی خپلې ښځې ته زیاتې جامې اخلي نو روا دی خو په دې شرط چې داسراف او تکبر مرحلې ته ونه رسیږي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( لا یدخل الجنة من کان في قلبه مثقال ذرة من کبر ))

)رواه مسلم مشکوة صفحه ۴۳۳(

ژباړه : جنت ته نشی داخلیدی هر هغه څوک چې دهغې په زړه کې دذرې په اندازه کبر موجود وي . او دا خبره مې ځکه وکړله چې زمونږ ډیرې مسلمانې خویندې خپل ټول مال دغیر ضروري جامو په اخستلو کې مصرفوي او بیا بیچاره او مسکینانو ښځو باندې تکبر کوي چې دا یوه لویه گناه ده . البته که ښځه نوی جامه دخپل خاوند دخوشحالولولپاره اخلي نو دا ښه کار دی او دشریعت امر دادی چې ښځه باید خپلې ښائسته او نوې جامې دخپل خاوند دخوشحالولو لپاره پخپل کور کې واغوندي خو متاسفانه چې ډیرې مسلمانې خویندې خپلې نوې جامې دواده او کوژدې او سنت گري وغیره مناسباتو لپاره ساتي او په کور کې یې نه آغوندي چې ددوې دغه کار نارینه خفه کوي او دښځې او خاوند ترمنځ دبغض او نفرت سبب کیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٤-دمسکن ( داوسیدو ځاې� کور ) حق

ښځه پر خپل خاوند حق لري چې دهغې لپاره داوسیدو داسې ځاې برابر کړي چې دهغې ضروریات پوره کوي خو دغه ځاې به دخاوند دوس مطابق وي او دا په دې خاطر چې دښځې اسباب او مالونه او دهغې عفت او عزت وساتلې شي او ددې لپاره چې دګرمي او دیخنې څخه هم بچ وساتلی شي .

الله تعالی فرمایی : (( اسکنوهن من حیث سکنتم من وجدکم))

)سورة الطلاق ایت ٦(

ژباړه: او ووسوی خپلې ښځې چیر ته چې تاسو اوسیږی د خپل وس مطابق .

دمسکن مواصفات:

١-داوسیدو ځاې باید دخاوند دوس مطابق وي

٢-کور باید یواځې دښځې لپاره وي او بل څوک به پکې نه وي مګر دضرورت په وخت کې او دا ددې لپاره چې ښځه او خاوند یو دبل څخه په صحیح طریقې سره جنسي استفاده وکړي شی .

٣-دکور لوازم او ضروریات باید ښځې ته برابر وي لکه فرش ، چپرکت . اشپزخانه ، دخوراک او څښاک لوښې غسل خانه او نور اسباب چې په کور کې پکاریږي

)خلاصة الفتاوي صفحه ٦٤ جلد ٢ فتاوي النوازل صفحه ٢٢٥(

### ٥-دجماع ( کوروالې ) حق:

ښځه پر خپل خاوند باندې حق لري چې دهغې دجنسی رغبت احترام وکړي او هغه په داسې طریقې سره ترسره کړي چې ښځهورباندې خوشحاله شي او جنسی خواهش ئې پوره شي .

الله تعالی فرمائی : (( فاتوهن من حیث امرکم الله ))

)سورة البقرة ایت ٢٢٢(

ترجمه : تاسو کوروالې وکړئ خپلو ښځو سره دهغه لارې چې الله تاسو ته رواکړیدی ( مخکینې عورت ) .

نو ښځه فطرتاً جنسي خواهش لري او دهغې دغه خواهش که دخپل خاوند په واسطه په شرعي طریقې سره پوره کړی شي نو ښځه به هیڅکله هم بداخلاقې ته اقدام ونکړي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( ان لزوجک علیک حقا ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)بخاري صفحه ۷۸۳جلد ۲(

ژباړه : ستا ښځه پرتا باندې دکوروالې حق لري.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کې داسې فرمائی : ( اذاجامع احدکم اهله فلیصدقها فاذاقضی حاجته قبل ان تقضي حاجتها فلا یعجلها حتی تقضی حاجتها )(

)رواه ابویعلي في مسنده فقه السنة صفحه ۳۲٦ جلد ۲(

ژباړه : کله چې لتاسو څخه کوم یو کس دخپلې ښځې سره کوروالې کوي نو هغې سره دې صادقانه او ریښتینی کوروالې وکړي ( یعنې دهغې خواهش دې پوره او هغه دې خوشحاله کړي ) او چې کله سړی خپل حاجت پوره کړي ( انزال وکړی او خوند واخلی ) نو دکوروالې معامله دې نه ختموي ترڅو چې ښځه ئې هم خپل حاجت پوره کړي ( انزال وکړي او خوند واخلی ) او خواهش یې پوره شي .

ددغه حدیث څخه معلومیږي چې دښځې انزال ( خلاصیدل ) دسړی دانزال څخه وروسته وي نو ځکه نارینه باید زرمعامله ختم نکړي ترڅو دښځې انزال هم وشي او حاجت ئې پوره شي. او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : ((ولک فی جماع زوجتک اجر ))

)رواه مسلم واحمد الفتح الربانی صفحه ۲۳۳جلد ١٦(

ژباړه : ستا لپاره دخپلې ښځې سره په کوروالې کې اجر او ثواب دی .

او دا په دې وجه چې کوروالې دښځې جنسی رغبت پوره کوي او دهغې عفت او شرف محفوظوي .

دکوروالې آداب :

١-دکوروالې څخه مخکې باید دښځې او خاوند ترمنځ ملاعبت ( لوبې او مستی ) وشي ترڅو دواړه په کمال رغبت او شوق سره کوروالې ته تیار شي او پوره خوند دواړو ته حاصل شي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابي ته وفرمایل : (( فهلا جاریة تلاعبها وتلاعبک ))

)بخاري صفحه ۷٦جلد ۲ مسلم صفحه ٤۷٤ جلد ١(

ژباړه : ولې دې پیغله په نکاح نکړه چې هغې به لتا سره لوبې کولې او تابه له هغې سره لوبې کولې .

۲-دکوروالې په وخت کې باید ښځه او خاوند په پوره توګې سره ځانونه لوڅ کړي ترڅو د دواړو بدنونه یو بل سره په صحیح طریقې سره پیوست شي او دواړو ته پوره خوند او لذت حاصل شي او دښځې او دهغې دخاوند ترمنځ دعورت موضوع مطرح نه دی بلکه ښځه کولای شی چې دخپل خاوندعورت او ټول بدن ته وګوري او نارینه کولای شي چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې ښځې عورت او ټول بدن ته وګوري او دغه خبره په ډېرو احاديثو سره ثابته ده او ددې په خلاف خبره چې ګوندې ښځه او خاوند يو دبل عورت ته نشي کتلی غلطه ده او ثبوت نلري . نو ښځه او خاوند يو دبل عورت ته کتلی شي او په دغه خبره باندې زيات دلائل شته دي چې مونږ ئې يو څو دلته ذکر کوو .

اول دليل : عائشة رضي الله عنها روايت کوي : ((کنت اغتسل انا والنبي صلى الله عليه وسلم من اناء واحدنغترف منه جميعا))

)بخاري صفحه ۳۹ جلد ۱ مسلم صفحه ۱٤۸ جلد ۱ نسائی صفحه ۷۱ جلد ۱(

ژباړه : ما او نبی عليه السلام به له يوې لوښې څخه په ليو باندې اوبه اخيستلې او يو ځاې به موغسل کاوه.

امام ابن حجر ددغه حديث په شرحه کې وائی : (( استدل به الداودي على جواز نظر الرجل الى عورة امراته وعكسه ))

)فتح الباري صفحه ٤۷۹ جلد ۱(

ژباړه : امام داودی دغه حديث دليل نيولی ددې لپاره چې ښځه او خاوند کولای شي يو دبل عورت ته وګوري .

او علامه ناصرالدين الباني رحمه الله ددغه حديث په شرحه کې داسې فرمايي : (( فيه اشارة لطيفة الي جواز نظر الزوج الي عورة زوجته بل صرحه بذلك ابن حبان في صحيحه في روايته لهذا الحديث و هو الذي يقتضيه النظر الصحيح و كل ما روي في النهي عن ذلك او كراهته لا يصح منه شيئ))

)مشكاة بتحقيق الالباني طبع بيروت جلد ۱ صفحه ۱۷۲(

ژباړه: په دغه حديث کې يوه باريکه اشاره ده دې خبرې ته چې سړی ته روا دي چې د خپلې ښځې عورت ته وګورې بلکې ابن حبان په خپل کتاب کې ددغه حديث د روايت کولو نه وروسته په دغه خبره باندې تصريح کړې دي،او صحيح نظر ددغې خبرې تقاضا کوی او چې کوم حديثونه ددې نه په منع يا کراهت کې راغلی دی هغه يو هم صحيح نه دي.

دوهم دليل :

امام ابن حبان رحمه الله روايت کوي : ((سال عتبة بن ابى حكيم سليمان بن موسى عن الرجل ينظر الى فرج امراته فقال سالت عطاء فقال سالت عائشة فقالت كنت اغتسل انا وحبى صلى الله عليه وسلم من الاناء الواحد تختلف فيه اكفنا ) )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)صحيح ابن حبان صفحه ۳۹۰ جلد ۱۲ فتح الباري صفحه ٤٨٠ جلد ١(

ژباړه : عتبة بن ابی حکیم دسلیمان بن موسی څخه پوښتنه وکړلو چې آیا سړی کولاې شي دخپلې ښځې عورت ته وګوري نو هغه وویلي ما ددغه مسئلې پوښتنه دعطاء څخه کړیده او عطاء ویلي چې ما ددغې مسئلې پوښتنه دعائشې رضي الله عنها څخه کړې وه نو هغې راته وویل چې ما او ځما محبوب ( محمد صلی الله علیه وسلم ) به له یوه لوښی څخه یو ځاې غسل کولو چې کله به هغه دلوښی څخه اوبه اخیستلې او کله به مااخیستلی .

دریم دلیل : امام نسائی دعبدالرحمن بن هرمز الاعرج څخه روایت کړی دی چې : ((ان ام سلمة رضي الله عنها سئلت اتغتسل المراة مع الرجل ؟ قالت نعم اذا کانت کیسة رایتنی ورسول الله صلی الله علیه وسلم نغتسل من مرکن واحد نفیض علی ایدینا حتی تنقیها حتي نفیض علیها الماء(

)مسلم صفحه ١٤٩ جلد ١ نسائی صفحه ٤٧ جلد ١(

ژباړه : دام سلمة رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړې شو چې آیا ښځه دخپل خاوند سره یو ځاې غسل کولای شی ؟ نوهغې په جواب کې وویلې چې هو هوښیاره ښځه دا کار کوي ځکه ما او رسول الله صلی الله علیه وسلم به دیوه لوښی څخه غسل کاوه نو اول به مو په لاسو اوبه اچولې چې پاکې ئې کړو ددې لپاره چې په هغې باندې بیا نورې اوبه راواخلو .

څلورم دلیل : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې ((اخبرتني میمونه انها کانت تغتسل هي والنبي صلی الله علیه وسلم فی اناء واحد ))

)مسلم جلد ١٤٨ جلد ١ نسائی صفحه ٤٧ جلد١(

ژباړه : میمونه رضي الله عنها ماته خبر راکړی چې دې او رسول الله صلی الله علیه وسلم به په یوه لوښې څخه غسل کاوه .

پنځم دلیل : جلیل القدر صحابی معاویه بن حیدة رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : (( احفظ عورتک الا من زوجتک او ما ملکت یمینک ))

)ترمذی ابوداود ابن ماجه مشکوة صفحه ٢٦٩(

ژباړه : دخپلې ښځې او خپلې وینځې نه بغیر نور دهرچا نه خپل عورت پټ ساته .

د مشکاة محشي ددغه حدیث په شرحه کې داسې فرمایی : (( هذا یدل علي ان الملك والنکاح یبیحان النظر الي السورتین من الجانبین))

)مشکاة صفحه ٢٦٩ حاشیه ٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: دغه حديث په دې باندې دلالت کوی چې د وينځې ملکيت او د ښځې نکاح جانبينو ته دا روا کوی چې يو د بل عورت ته وګوري.

شپږم دليل : امام مالک رحمهما الله او امام اصبغ بن الفرج رحمه الله فرمائلی : (( لاباس ان ينظرالرجل الی فرج زوجته ))

)النوادر والزيادات صفحه ٦٢٥ جلد ٤ البيان والتحصيل صفحه ٨٠ جلد ٥ شقائق الاترج صفحه ١٠٨ مواهب الجليل صفحه ٤٠٦ جلد٣ الوشاح فی فوائد النكاح صفحه ٢٥٤(

ژباړه : هيڅ باک نيشته چې سړی دخپلې ښځې عورت ته وګوري .

همدارنګه امام مالک رحمه الله فرمائی : (( لا باس بالتجرد عند الجماع وان لم يكن بينه وبين زوجته ستر حينئذ وقد كان النبي صلى الله عليه وسلم يغتسل هو وعائشة عريانين والجماع اولى بالتجرد ولا باس ان ينظر الى الفرج فی الجماع ))

)النظر فی احكام النظر صفحه ١٢٦ النوادر والزيادات صفحه ٦٢٦ جلد ٤ فن تعامل النبی الزوجيه صفحه ٧٩، مراقي الزلف(

ژباړه : باک نشته چې ښځه او خاوند دکوروالې په وخت کې ځانونه بربنډ کړي اګر که ددواړو ترمنځ کومه پرده هم نه وي ځکه چې نبي صلى الله عليه وسلم او عائشة رضي الله عنها به دواړو يو ځاې بربنډ غسل کاوه نو دکوروالی په وخت کې بايد ښځه او سړی ځانونه بربنډ کړي او باک نشته چې ښځه او خاوند يو دبل عورت ته دکوروالی په وخت کې وګوري

اووم دليل : امام ابن عروة حنبلي رحمه الله فرمائی : (( ومباح لكل من الزوجين النظر الى جميع بدن صاحبه ولمسه حتى الفرج لهذالحديث ( حديث معاوية بن حيدة )) ولان الفرج يحل له الاستمتاع به فجاز النظراليه ولمسه كبقية البدن )(

)كتاب الكواكب صفحه ٥٧٥ جلد ١ اداب الزفاف صفحه ٣٥(

ژباړه : ښځه او خاوند ته روا دي چې يو دبل ټول بدن ته وګوري او هغه ته لاس وروړی ځکه چې حديث دمعاويه بن حيده ددې دليل دی او بله دا چې سړی ته روا دی چې دښځې دفرج څخه جنسګتېه واخلي نو دهغې فرج ته کتل او هغه مسح کول په لاس سره هم روا دی لکه دنور بدن غونډي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم دليل : امام برهان الدين مرغيناني حنفی مولف دهدایه فرمائی ((وینظرالرجل من امته التی تحل له وزوجته الی فرجها لان مافوق ذالک من المسیس والغشیان مباح فالنظر اولی وکان ابن عمر رضي الله عنه یقول : الاولی ان ینظر لیکون ابلغ في تحصیل معنی اللذة ))

)هدایة صفحه ٤٥٩ جلد ۲ فصل فی النظر(

ژباړه : سړی ته روا دی چې دخپلې وینځی او د خپلې ښځې عورت ته وګوري ځکه چې ښځې ته لاس وروړل او دهغې سره کوروالی کول روا دی نو دهغې عورت ته کتل خو په طریق اولی سره روا دی او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به ویل چې ښه او غوره دادی چې سړی دخپلې ښځې عورت ته د کوروالې په وخت کې وګوری ددې لپاره چې ډیر خوند ورته حاصل شي .

نهم دليل : امام ابوالليث سمرقندي رحمه الله فرمائی : (( ویجوزللرجل ان ینظر الی فرج امراته وکذا نظر المراة الی فرج زوجها ) )

)فتاوی النوازل صفحه ۲۷٤ کتاب الکراهیة(

ژباړه : سړی ته روا دی چې دخپلې ښځې عورت ته وګوری او ښځې ته روا دی چې دخپل خاوند عورت ته وګوري .

لسم دليل : امام بن خویزمنداد فرمایی : (( اما الزوج فیجوز له ان ینظر الی سایر الجسد و ظاهر الفرج و کذلک المراة یجوزلها ان تنظر الی عورة زوجها ))

)تفسیر قرطبی صفحه ۲۱۱ جلد ۱۲(

ترجمه: میړه ته روا دی چې د ښځې ټول بدن او عورت ته وګوری او ښځې ته روا دی چې د خپل میړه ټول بدن ته و ګوری

یوولسم دليل : امام قرطبی ویلی دی چې صحی خبره داده چې ښځه او خاوند یو د بل عورت ته کتلی شی .

)تفسیر قرطبی جلد ۲۱۱ جلد ۱۲(

یوه شبهه او د هغې جواب :

بعضې خلک وائی چې دجماع ( کوروالی ) په وخت کې دښځې او خاوند ځانونه بربنډول اویو دبل عورت ته کتل او دکوروالی په وخت کې خبرې کول ناروا دي او دوي یو څو دروغ او ضعیف او بې ثبوته حدیثونه په دلیل کې پیش کوي چې مونږ هغه ذکر کوواو دهغې نه جواب کوو :

اول : حدیث دعائشة رضي الله عنها ( ما رایت عورة رسول الله صلی الله علیه وسلم قط )(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)طبرانی فی المعجم الاوسط . صفحه ۲۷(

جواب : دغه حدیث دروغ او باطل دی ځکه چې ددې په سند کې یو راوي دی چې برکة بن محمد الحلبي نومیږي او هغه یو لوی دروغجن وه امام حافظ بن حجر په لسان المیزان کې ویلي دي چې دغه حدیث باطل دی او امام بوصیری په زوائد ابن ماجه کې دغه حدیث ته ضعیف ویلی دی ((

)وګوره اداف الزفاف والباني صفه ٣٤ او تفسیر قرطبی جلد ۱۲ صفحه ۲۰۲ حاشیه ۱(

دوهم : دغه حدیث چې (( اذا اتی احدکم اهله فلیستتر ولا یتجردا تجردالعیرین ))

)رواه ابن ماجه صفحه ۱۳۸(

جواب : دغه حدیث دسند له مخې ضعیف دی ځکه ددې په سند کې دوه ضعیف راویان دي یو الاحوص بن حکیم او بل ولید بن قاسم الهمداني نومیږي ځکه خو امام زین الدین العراقي او امام بوصیري ویلي دي چې ددغه حدیث سند کمزوری دی او امام نسائی او امام بیهقي ویلي دي چې دغه حدیث منکر دی .

)اداب الزفاف صفحه ٣٤(

دریم : دغه حدیث چې : (( اذا جامع احدکم زوجته فلا ینظر الی فرجها فان ذلک یورث العمی ولا یکثر الکلام فانه یورث الخرس ) )

جواب : دغه حدیث دروغ دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت ندی امام ابوحاتم الرازي او امام ابن حبان او امام ابن الحوزي او امام عبدالحق او امام ابن دقیق العید او امام محمد طاهر فتني او علامه ناصرالدین الباني رحمهم الله فرمائلي دي چې دغه حدیث دروغ تړل شوی په رسول الله باندې

)اداب الزفاف صفحه ٣٥ تذکرة الموضوعات صفحه ۱۲٦(

دکوروالی دریم ادب :

دکوروالی په وخت کې دې ښځه او خاوند دعشق او محبت نه ډکې خبرې وکړي او یو دبل دې ښه ښه ظاهري او معنوي صفتونه بیان کړي . دکوروالی په شروع کې بایدنارینه بسم الله ووائی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( اذا اراد ان یاتی اهله قال بسم الله اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا ))

)صحیح مسلم صفحه ٤٦٣ جلد ۱(

ژباړه :چې څوک غواړي دخپلې میرمنې سره کوروالی وکړي نو ودې وائی چې دالله په نوم کوروالی شروع کوم ای الله مونږه دشیطن څخه وساته او شیطان لری وساته دهغه شی څخه چې تا مونږ ته راکړي دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥-سړی باید اقلاً پس له هرو دریو ورځو له خپلې ښځې سره کوروالی وکړي .

٦-ښځه که مریضه وي نو خاوندئې باید دهغې ترروغیدو پورې صبر وکړي .

٧-دحیض ( دښځې میاشتنی مرض ) او نفاس ( دولادت وینه ) په حالت کې دښځې سره کوروالی حرام دی ترڅو چې پاکه شي .

الله تعالی فرمائی : (( فاعتزلوا النساء فی المحیض ولا تقربوهن حتی یطهرن فاذا تطهرن فاتوهن من حیث امرکم الله ))

)سورة البقرة ایه ٢٢٢(

ترجمه : تاسو دخپلو ښځو نه جدا شئ دحیض په حالت کې او هغوې ته مه نزدی کیږئ ( کوروالی مه کوئ ) ترڅو چې پاکې شي ( دحیض نه ) نو چې کله دوي پاکې شوې نو تاسو ددوي سره کوروالې وکړئ دهغه لارې نه چې الله تعالی تاسو ته روا کړیده ( مخکینې نې عورت )

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی ( اتق الدبر والحیضة )

)رواه الترمذي مشکوة صفحه ٢٦٧(

ترجمه : دشاتنې عورت له لارې او دحیض په حالت کې دکوروالی څخه ځان وساته .

٨-دشاتنې عورت له لارې دښځې سره کوروالی کول حرام دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( ملعون من اتی امراة في دبرها ))

)رواه احمد وابوداودومشکوة ٢٦٧(

ترجمه : ملعون دی هغه کس چې دخپلې ښځې سره دشا له لورې کوروالی کوي .

٩-دکوروالی رازونه بل چاته بیانول حرام دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : ( ان شر الناس منزلة عندالله یوم القیامة الرجل یفضی الی المراة وتفضی الیه ثم ینشرسرها )(

)رواه مسلم واحمد مشکوة ٢٧٦(

ترجمه : په خلکو کې بدترین کس دالله تعالی په نزد په ورځې دقیامت کې هغه سړی دی چې خپلې ښځې سره کوروالی وکړي او بیا دهغې رازونه افشا کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰-کوروالي باید په پوره رڼائی کې وشی چې ښځه اوخاوند یو بل ښه ووینی ترڅو ددوي جنسی احساسات په صحیح طریقې سره راوپاریږي او دواړو ته پوره خوند حاصل شي . اودا خبره مې ځکه وکړه چې زمونږه په ټولنه کې یوخرافی رواج دی چې نارینه به دخپلو ښځو سره په تیاره کې کوروالي کوي . دغه کار یو ډیر بداوغلط او دشریعت دمقاصدوخلاف کاردی او دښځې او خاوند ترمنځ نفرت او بغض پیدا کوی ځکه چې دواړو د کوروالي څخه هیڅ خوند نه اخلی .

۱۱-کوروالی باید په پټ او محفوظ ځاي کې وشی حتی چې دتی رودونکو ماشومانوپه وړاندې هم باید ونشی .

۱۲-دکوروالی په وجه په ښځه او نارینه باندې غسل فرض کیږي خو چې دغه غسل ژرومره زر وشي نو بهتره ده او دا ځکه چې دغسل په وجه د بدن سستی له منځه ځی او بله دا چې دبې اودسۍ په وخت کې دشیطان سلطه په انسان باندې زیاتیږي او هغه ته ضرر رسوي نو ددغه ضرر څخه دځان ساتلو لپاره باید په غسل کې چالاکی وکړی شی .

۶-د زینت ( ځان سینګارول ) حق:

ښځه حق لري چې خاوند ئې ورته ځان ښائسته کړی لکه چې هغه پرهغې دغه حق لري الله تعالی فرمائی : (( ولهن مثل الذين عليهن بالمعروف ))

)سورة البقرة اية ۲۲۸(

ترجمه : دښځو لپاره حقوق دي لکه چې دخاوندانو پر دوي باندې حقوق دي او یو دبل حقوق به په نیکي طریقې سره ادا کوي .

او جلیل القدر صحابی عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائی : (( انی لاحب ان اتزين لامراتی كما احب ان تتزين لی ))

)رواه ابن ابی حاتم وابن جريرالطبري تفسير قرطبی صفحه ۱۱۸ جزء۳(

ترجمه : زه خوښوم چې خپلې ښځې ته ځان ښائسته کړم لکه چې خوښیږم چې هغه دې ماته ځان ښائسته کړی .

او په یو روایت کې راغلي دی چې یو ګردوهلی او ببر سری سړی دخپلې ښځې سره عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته راغی نو دهغه ښځې وویل چې ای امیر المومنین!ما دخپل خاوند څخه خلاصه کړه نو عمربن الخطاب رضي الله عنه ددغې ښځې خاوند ته امر وکړلو چې لاړشي او دخپل سرویښتان برابر او دګوتو نوکان پرې او ځان پاک او ښائسته کړي نو دغه سړی لاړ او ځان ئې ښه پاک او برابر او ښائسته کړ. او بیا راغی نو چې کله دهغې ښځې نظر په هغه ولګیده نو خوشحاله شوه او وې ویلې چې همدا مې قبول دی او دخلاصی د ارادې څخه بیرته وګرځیدله نو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې عمررضي الله عنه وفرمايل (( وهکذا فاصنعوا لهن فوالله انهن ليحببن ان تتزينوا لهن کما تحبون ان يتزين لکم ))

)منهاج العشرة الزوجية صفحه ۷٦(

ترجمه : ددغه سړی غوندې تاسو هم خپلو ښځو ته ځانونه جوړوئ قسم دی په الله باندې چې ښځې په دې خوښيږي چې تاسو ورته ځانونه جوړ او ښائسته کړئ لکه چې تاسو خوښيږئ چې هغوې دې تاسې ته خپل ځانونه جوړ او سينګار کړی.

او په بعضې رواياتو کې داسې راغلی دی : (( اغسلوا ثيابکم وخذوا من شعورکم واستاکوا وتزينوا وتنظفوا فان بني اسرائيل لم يکونوا يفعلون ذلک فزنت نساؤهم ))

)منهاج العشرة الزوجية صفحه ۷۷(

ترجمه : خپلې جامې پاکې کړئ او دسر او د ګيرې ويښتان جوړ کړئ ( دشريعت په حدودو کې ) او مسواک ووهئ او ځانونه ښائسته او پاک کړئ ځکه چې بني اسرائيلو به دغه کارونه نه کول نو دهغوې ښځې په زنا کې اخته شول يعنې دخپلو خاوندانو نه يې دناپاکې په وجه نفرت پيدا شو او دپردو سړو سره په زنا کې مبتلا شول .

او جليل القدر صحابی جابربن عبدالله رضي الله عنه روايت کوي چې زه يو ځل درسول الله صلی الله عليه وسلم سره غزاته لاړم او چې کله بيرته دغزا څخه راوګرځيدو او مدينې ته نزدې شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې تاسو تر شپې پورې صبر وکړئ او کورونو ته مه ورځئ ترڅو ستاسو ښځې خپل ويښتان ګمنځ کړی او دخپلو تخرګونو او دنامه لاندې ويښتان لرې کړي.

)رواه البخاری صفحه ۷۸۹جلد ۲(

نوناريته بايد په خپل کور کې داسې پاک اوښائسته او خوشبويه وي چې دهغه دښځې زړه ورباندې خوشحاله کيږي او مينه ئې ورسره زياتيږي.

دپورتنيو رواياتو څخه دا معلومه شوه چې دخپل ځان او جامو دښائست او پاکوالی په باره کې دسړی اهتمام دهغه دښځې په عفت او ددواړو ترمنځ دلازيات تفاهم اومحبت په موضوع کې غټ رول لري نو ځکه داسلام مقدس دين په دغه موضوع باندې زيات اهتمام کړيدی .

دسړي دزينت څخه دلته څه مراد دی ؟

دلته دزينت څخه لاندې شيان مراد دي :

۱-دسرويښتانو او دګيری ګمنځول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-دسردوینبتانو او دگیری اصلاح کول ( دشریعت په حدودو کې )

۳-دښائسته او پاکو جامو اغوستل چې دشریعت او دطاقت سره برابر وي .

٤-دمسواک استعمالول او دخولې پاکول .

٥-بدن پاکول او دتخرگونو او دنامه لاندې دويښتو لرې کول او دنوکانو کينچی کول ( پريکول )

٦-دچرس او پوډراوسگرت او نسوار څخه پرهيزکول .

۷-دخام پياز او اوږي او هر هغه شی چې خوله بدبويه کوي دهغې څخه ډډه کول ( مگر که پوخ شي بيا پروا نلري )

۸-عطر او خوشبوئی استعمالول .

۷-دعفت دساتلو حق:

ښځه پرخپل خاوند باندې حق لري چې دهغې دعفت او شرف ساتنه وکړي او دهغې د عفت څخه دفاع وکړي ځکه چې د هغې دعفت څخه دفاع فرض ده او کوم سړی چې دخپلې ښځې دعفت څخه دفاع نه کوي او دخپلې ښځې دشرف ساتنه نه کوي هغه دووس دی .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی : (( ثلاثة قدحرم الله عليهم الجنة مدمن الخمر والعاق والديوث الذي يقر فی اهله الخبث ))

)رواه احمد والنسائی مشکوة صفحه ۳۱۸(

ترجمه : پر دريو کسانوباندې الله تعالی جنت حرام کړ ی دی دشرابو معتاد او دمور او پلار خفه کوونکی او دووس سړي چې دخپلې ښځې دعفت اهتمام نه کوي او پردو سړو ته اجازه ورکوی چې دهغه دښځې سره ناسته پاسته او راشه درشه وکړی.

بلکې داسلام مقدس دين امر کړی دی چې نارينه دې دخپل عفت او ناموس څخه دفاع وکړي او که په دغه لار کې څوک ووژلی شی نوهغه شهيد دی .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( من قتل دون اهله فهو شهيد ))

)ترمذي ابوداود نسائی مشکوة صفحه ۳۰٦(

ترجمه : څوک چې دخپلې ښځې دعفت نه په دفاع کې ووژلی شی نو هغه شهيد دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنارينه غيرت پخپله ښځه باندې يو فطرى او طبعى خبره ده يوه ورځ جليل القدر صحابى سعدبن معاذرضي الله عنه وويل که ما دخپلې ښځې سره څوک وليدل نوپه توري سره به ئې ووژنم نو دده دا خبره رسول الله صلى الله عليه سلم ته ورسيده نو هغه وويلې چې ايا تاسو دسعد د غيرت څخه تعجب کوئ ځما دې په الله قسم وي چې زه دسعد څخه زيات غيرتي يم او الله ځما څخه زيات غيرتي دى او الله تعالى دخپل غيرت له وجې نه دبد کارې ټول ښکاره او پټ عملونه حرام کړيدي .

)متفق عليه مشکوة صفحه ۲۸٦(

اما متاسفانه چې په ډيرو بى دينو خلکواو خاص طور سره ډمانو او سندر غاړو ښځو او سړو کې دغه غيرت چې په انسانانواو حيواناتو کې يو فطري شى دى کم ليدل کيږي چې د دوې دغه بې غيرتي يو جرم او بدعمل دى چې دوي به دهغې جزا په دنيا او اخرت کې وګوري .

-داحترام او کرامت حق:

سړى ته پکار دى چې دخپلې ښځې احترام وکړي او دهرهغه وينا او عمل څخه ځان وساتى چې دهغه دښځې دخفگان سبب گرځي او دا ځکه چې ښځه يوه باعزته انسان ده او بايد دهغې سره ديوې مزدورې په څير معامله ونشي ، اونه دا چې صرف دجنسى لذت دحاصلولو لپاره ديوې وسيلې په څير ورته وکتلى شي . بلکه دښځو بې عزتى کول او هغوې ته په سپک نظر کتل دا دکم اصلو او کم عقلو نارينه و کار دى الله تعالى فرمائى (( ولقدکرمنا بني آدم(

)سورة اسراء ايت ۱۷(

ترجمه : مونږه دآدم اولادې ته عزت او کرامت ورکړى دى نو ښځه هم دآدم له اولادې څخه ده او الله تعالى هغې ته دنارينه و غوندې عزت اوکرامت ورکړى دى .

او په يو حديث کې داسې راغلى دى : (( ما اکرمهن الا کريم ولا اهانهن الا لئيم))

)رواه ابن ماجه وابن عساکر فى تاريخه منهاج العشره صفحه ٦(

ترجمه : عزتمند سړى دښځو عزت کوي او سپک او رذيل سړي دښځو سپکاوى کوى . يعنې دښځو عزت کول دځان عزت کول دى او دښځو سپکاوى دځان سپکاوى دى.

همدارنگه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دى : (( بحسب امرئ من الشران يحقر اخاه المسلم ))

)رواه مسلم صفحه ۳۱۷ جلد ۲ مشکوة صفحه ٤۲۲(

ترجمه : دا ډير بدکار دى چې يو مسلمان دې خپل مسلمان ورو ر( ياخور ) ته په سپک نظر وګوري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( ولا تضرب الوجه ولا تقبح ))

)رواه احمد وابوداود وابن ماجه مشکوة صفحه ۲۱۸(

ترجمه : ښځې ته په مخ ګذار مه ورکوه او مه ورته بدې خبرې کوه.

نو لکه څرنګه چې نارینه په خپل احترام باندې خوشحالیږي نو همدارنګې ښځې هم په خپل احترام خوشحالیږي او دیو مسلمان احترام کول اودهغه خوشحالول دوه نیک عملونه دي اوډیر اجرونه او ثوابونه لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹-د تعلیم حق

نارینه باندې لازم دی چې خپلې ښځې او لورګانو ته ددیني او اخلاقي مسئولیتونو په ورزده کولو کې خپل ټول کوششونه وکړي ترڅو دناپوهۍ تیاري له منځه لاړي شي او دپوهې رڼا ئې پر کورنی باندې ( مسلط شی ) اوپه کورنی کې دتفاهم اومحبت او حق شناسی فضا منځته راشي .

الله تعالی فرمائی : (( یا ایها الذین امنوا قوا انفسکم واهلیکم نارا وقودها الناس والحجارة ))

)سورة التحریم ایت ٦(

ترجمه : ای مومنانو تاسې بچ کړئ خپل ځانونه او خپلې ښځې او اولاد د دوزخ دهغه اور څخه چې دهغه خاشاک خلک او تیږې دي.

یعنې خپلو ښځو اواولادو ته صحیح تعلیم او تربیه ورکړی داسې تعلیم چې ددوزخ داور څخه ددوي دنجات سبب وګرځي چې هغه دقرآن اودسنت علم دی چې دغه دواړو دټولو علومو مرجع او منبع دی.

الله تعالی په بل ایت کې داسې فرمائلی : (( وانذر عشیرتک الاقربین ))

)سورة الشعرا ایت ۲۱٤(

ترجمه : ای پیغمبره خپل نزدې خپلوان د الله دعذاب څخه وویروه.

او په بل ایت کریمه ئې داسې فرمائلی : (( وامراهلک بالصلاة واصطبرعلیها ))

)سورة طه ایت ۱۳۲(

ترجمه : خپلې کورنی ته په مانځه باندې امر وکړه ( ای پیغمبره ) او دلمونځ په اداء کولو باندې صبر وکړه .

ددغوټولو ایتونو څخه دا معلومه شوه چې ښځه پرخپل خاوند حق لري چې هغه ته دینی او اخلاقي او فرهنګي ښوونه وکړي او دخاوند دغه کار نکول به دالله تعالی نافرماني ګڼل کیږی او دګناه سبب به وي.

جلیل القدر صحابی ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت کوی چه (( قال النساء للنبی صلی الله علیه وسلم غلبنا علیک الرجال فاجعل لنا یوما من نفسک فوعدهن یوما لقیهن فیه فوعظهن وامرهن))

)بخاری جلد ۱ صفحه ۲۰کتاب العلم(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : نارینه زمونږ په نسبت له تا څخه زیات وخت نیولی دی نو دځان له طرفه یو ورځ مونږ ته وټاکی (دتعلیم دپاره) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی سره یو ورځ وټاکله او ورته ورغی او هغوی ته یې نصیحت وکړلو او په ښو کارو باندې یې ورته امر وکړلو.

همدارنگی جلیل القدر صحابیه ام عطیه رضی الله عنه فرمائی(( امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان نخرجهن فی الفطر والاضحی العواتق والحیض وذوات الخدور فاماالحیض فیعتزلن الصلاة ویشهدن الخیر دعوة المسلمین ))

)رواه البخاري صفحه ۱۳۳ جلد ۱ ومسلم صفحه ۲۹۱ جلد ۱(

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کړیدی چې پیغلې او حائضه او دستر او پردې والا ښځې دوړوکی او لوې اختر دلمانځه لپاره دکورونو څخه وباسو خو حائضه ښځې به لمونځ نه کوي البته د خیر او دعوت او تبلیغ په مجلس کې به گډون کوی.

او جلیل القدر صحابي عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي : (( خرجت مع النبي صلی الله علیه وسلم یوم فطر او اضحی فصلی ثم خطب ثم اتی النساء فوعظهن وذکرهن وامرهن بالصدقة ))

)رواه البخاري صفحه ۱۳۳ جلد ۱(

ترجمه : زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وړوکې یا لوې اختر په ورځ ووتم نو هغه داختر لمونځ وکړلو او بیا ئې خطبه وویلې او بیا دښځو صفونو ته ورغی نو هغوې ته یې وعظ او نصیحت وکړلو.

او هغوې ته ئې دصدقې امر وکړلو . او جلیل القدر محدث عبدالملک بن جریج دجلیل القدر تابعي عطاء رحمهما الله نه روایت کوي هغه فرمائي چې جلیل القدر صحابي جابر بن عبدالله رضي الله عنه داسې فرمائلی : (( قام النبي صلی الله علیه وسلم یوم الفطر فصلی فبدابالصلاة ثم خطب فلما فرغ نزل فاتی النساء فذکرهن قلت ( القائل بن جریج ) لعطاء اتری حقا علی الامام ذ لک یذکرهن قال انه لحق علیهم ومالهم لا یفعلون ))

)رواه البخاري صفحه ۱۳۳ جلد ۱(

ترجمه : نبی علیه السلام دوړوکی اختر په ورځ اول ئې داختر لمونځ اداء کړلوبیائی خطبه وویلې او چې کله دخطبې نه فارغ شو نو دمنبر نه کوز شو او دښځو صفونو ته ورغی او هغوی ته ئې نصیحت وکړلو . ابن جریج فرمائی چې ما دعطاء څخه پوښتنه وکړلو چې ایا ستا په نزد په امام او مشر باندې لازم دی چې ښځو ته وعظ او نصیحت وکړی نو هغه په جواب کې وویلې چې هو پر امام دا کار لازم دی او څه وجه ده چې اوس خلکو دا کار پریښی دی؟ او په یو بل حدیث کې راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جلیل القدر صحابیه شفاء رضي الله عنها ته وفرمائیل : (( الاتعلمین هذه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( حفصه ) رقية النملة كما علمتيها الكتابة ((

)ابوداود صفحه ۵٤۲ مشكوة صفحه ۲۹۱(

ترجمه : ای شفا ولې ته حفصی ته دتخرگونو ددانو دم نه ښائی لکه څرنگه چې هغې ته دې لیک ښودلی دی ؟

ددغه حدیث څخه معلوم شو چې دلیک زده کړه لکه چې نارینه وته ضرور دی همدارنگې زنانه و ته هم ضرور دي او لکه چې نارینه دعلم زده کړه کوي او دکتابونو دتالیف او تصنیف له لارې خپل علم خپروي نو ښځې هم باید علم حاصل کړي او دتالیف او دتصنیف له لارې خپل علم خپور کړي ترڅو خلک ددوي دعلم څخه استفاده وکړي او دغه کتابونه ددوي لپاره صدقه جاریه وگرځي .

امام خطابي رحمه الله دشفاء رضي الله عنها دحدیث په باره کې داسې فرمائی : (( فیه دلیل علی ان تعلم النساء الكتابة غير مكروه ))

)مرقات شرح مشكوة صفحه ۳۲٦ جلد ۸ حاشية ابوداود صفحه ۵٤۲(

ترجمه : دغه حدیث ددې لپاره دلیل دی چې ښځو ته دلیک زده کړه مکروه نه دی .

خو بعضې خلک وائی چې ښځو ته روا نه دی چې لیک زده کړي او دلیل کې يې دغه حديث ذکر کوي چې (( لا تعلموهن الكتابة ))

)مرقاة صفحه ۳۲۷ جلد ۸ تذكرة الموضوعات صفحه ۱۲۹(

ترجمه : ښځو ته لیک مه ورزده کوئ .

خو دغه خبره غلطه ده او دمنعې دغه حدیث ثابت نه دی ځکه چې ددغه حدیث په سند کې يو دروغجن او بل په دروغو متهم راویان دي او داسې حدیث مردود وي.

)تذكرة الموضوعات صفحه ۱۲۹(

همدارنگې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( ايما رجل كانت له جارية فادبها فاحسن تاديبها وعلمها فاحسن تعليمها ثم اعتها فتزوجها فله اجران ))

)بخاري ج ۱ صفحه ۲۰ وصفحه ۳٦٤ باب تعليم الرجل امته و اهله(

ترجمه : هر يو سړی چې وينځه ولري او هغې ته ښائسته ا دب او ښائسته تعليم ورکړي او بيا ئې ازاده کړي او ځان ته ئې په نکاح کړي نو دغه سړی ته دوه اجرونه دي . نو چې کله ديوې وينځې په تعليم او تربيه کې دومره ثواب دی نو ديوې اصيلی مسلمانې ښځې په تعليم او تربيه کې به ددې نه زيات ثواب او اجر وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ام المومنين عائشة رضي الله عنها فرمائی (( نعم النساء نساء الانصار لم يمنعهن الحياء ان يتفقهن فی الدين ))

)بخاري صفحه ٢٤ جلد ١(

ترجمه : دانصارو ښځې نيکې او بهترې ښځې دي ځکه چې هغوي ددين په پوهه کې شرم او حياء نه کوي .

او جليل القدر تابعي عروة بن الزبير رضي الله عنه فرمائی : (( ما رايت احدا اعلم بفقه ولا طب ولا شعرمن عائشة ))

)اسلامنا للسيد سابق صفحه ٢١٦(

ترجمه : ما داسې هيڅ يو کس نه دی ليدل چې دعائشة رضي الله عنها څخه په فقه او طب او شعر کې ډير پوه وي . يعنې عائشة رضي الله عنها په علم فقه او طب او شعر کې هغه اوچتې مرتبې ته رسيدلې وه چې دهغې په زمانه کې څوک ورسره برابرنه وه . د دغه روايت څخه دا معلومه شوه چې ښځې کولای شي په علم کې اوچتو مرتبو ته ورسيږي او معلومه شوه چې ښځې کولای شي چې دطب دعلم زده کړه وکړي . او دا هم معلومه شوه چې ښځه کولای شي داسې اشعار وليکي او خپور ئې کړی چې ديانت او خوش اخلاقي او عفت ته دعوت کوي.

او جليل القدر صحابي ابوموسی رضي الله عنه فرمائی (( ما اشكل علينا اصحاب رسول الله ؛صلی الله عليه وسلم حديث قط فسالنا عائشة الا وجدنا عندها منه علما))

)ترمذي صفحه ٢٢٧ جلد ٢ مشكوة ٢صفحه ٥٧٤(

ترجمه : چې کله هم درسول الله صلی الله عليه وسلم په صحابوو باندې دکومې خبرې پوهيدل مشکله شوه نو مونږ به دعائشة رضي الله عنها څخه دهغې په باره کې پوښتنه وکړله نو دهغې سره به دمسالې په باره کې خامخا علم او پوهه وه او مساله به ئې حل او روښانه کړه .

نو ددغه حديث څخه معلومه شوه چې دښځو څخه دنارينه و په زده کړه کې څه عيب نشته چې کله دشريعت دحدودو رعايت پکې وشي .

او امام ابن شهاب زهری رحمه الله فرمائی : (( لو جمع علم الناس كلهم وامهات المومنين لكانت عائشة اوسعهم علما ))

)مستدرک الحاکم صفحه ١١ جلد ٤(

ترجمه : که دټولو خلکو علم او درسول الله صلی الله عليه وسلم دنورو بيبيانو علم يو ځاې کړی شي بيا هم دعائشة رضي الله عنها علم ددې ټولو څخه زيات دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امام ذهبی رحمه الله فرمائی : (( وما علمت من النساء من اتهمت ولا من ترکوها ))

)میزان الاعتدال صفحه ۲ جلد۱(

ترجمه : دحدیث په ښځو راویانو کې ماته داسې ښځه معلومه نده چې دحدیث په روایت کې په دروغو متهمه شوی وي او یا دحدیث علماوو دهغې حدیث پریښي وی .

ددې څخه معلومه شوه چې پخوا بهٔ دمسلمانانو ښځې دحدیث په زده کړه او روایت کې څومره کوشش او احتیاط کاوه خو اوس ډېرې مسلمانې ښځې قران هم نشی لوستلی .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم بهٔ چې کله صحابه کرامو ته وعظ او نصیحت کولو نو بیا به ئې هغوې ته وویلې : (( الا فلیبلغ الشاهد الغائب ))

)بخاري صفحه ۲۱ جلد ۱(

ترجمه : خبردار حاضر خلک دې ځما خبرې غیر حاضرو خلکو ته ورسوي.

په دغه حدیث کې دیته اشاره ده چې نارینه دې ځما خبرې زنانو ته ورسوي ځکه چې زنانه به زیاتره په خپلو کورنو کې په خدمت مشغولې وې .

او جلیل القدر صحابی عرباض بن ساریة رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې : (( ان الرجل اذا سقی امراته من الماء اجر قال فاتیتها فسقیتها وحدثتها بما سمعت من رسول الله صلی الله علیه وسلم))

)رواه احمد الفتح الربانی صفحه ۲۳۳ جلد ۱٦(

ترجمه : چې کله سړی خپلې ښځې ته دڅښاک اوبه ورکړي نو هغه ته ثواب ورکول کیږي . عرباض فرمائی چې ددغه حدیث داوریدو څخه وروسته زه دخپلې ښځې څنګ ته لاړم او هغې ته مې دڅښاک اوبه ورکړې او درسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث مې ورته وویلې ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې صحابه کرامو به کله ددین او ثواب کومه خبره درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل نو هغه بهٔ ئې خپلو ښځو ته هم سمدستی ورښودل نو معلومه شوه چې صحابه کرامو به دښځو په تعلیم او تربیې باندې زیات اهتمام کاوه .

او په یو روایت کې داسې راغلی دی : ((طلب العلم فریضة علی کل مسلم ))

)مشکوة صفحه ۳٤ تذکرة الموضوعات صفحه ۱۷(

ترجمه : طلب دعلم پرمسلمان نارینه او مسلمانه ښځه باندې فرض دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغو ټولو احاديثو څخه دا معلومه شوه چې داسلام مقدس دين دښځو په تعليم باندې زيات اهتمام کړی دی خو دښځو په تعليم کې دا شرط دی چې دهغوې عفت او عزت ته کوم خطر متوجه نه وي او که دتعليم په لار کې دهغوې عفت او شرف ته کوم خطر متوجه وي بيا ئې تعليم ضرور نه دی.

۱۰-دښه کرداراورفتار اوښه معاملې حق:

ښځه د الله تعالی له طرفه يوه تحفه ده چې خپل خاوند ته امانت ورکړی شويدی اودهغوسره داحترام نه ډک ښه رفتار او ښه کردار او ښه معامله واجب دی ځکه چې الله تعالی فرمائی : (( وعاشروهن بالمعروف ))

)سورة النساء ايت ۱۹(

ترجمه : او دخپلو ښځو سره په ښۀ او نيکې طريقې سره ژوند کوئ يعنې پر هغوې ظلم مه کوئ او دهغوې شرعي حقوق پوره ورکوئ .

اورسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : (( لا يفرک مو من مومنة ان کره منها خلقا رضي منها آخر ))

)رواه مسلم مشکوة صفحه ۲۸۰(

ترجمه : هيڅ يو مومن سړی دې د خپلې مومنې ښځې سره بغض نکوي که دهغې يو خراب عادت ئې خوښ نه شی نو دهغې بل ښه عادت به ئې خوښ شي .

او په بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې فرمائی : (( اکمل المومنين ايمانا احسنهم خلقا والطفهم باهله ))

)ترمذي مشکوة صفحه ۲۸۲(

ترجمه : ښه پوره ايمان والا مومنان هغه دې چې ډېرو ښو اخلاقو خاوندان او پخپلو ښځو او اولادونو باندې ډېر شفقت کوونکی وي.

او په بل حديث کې داسې فرمائی : (( خيرکم خيرکم لاهله وانا خيرکم لاهلي ))

)الترمذی والدارمي مشکوة صفحه ۲۸۱(

ترجمه : غوره په تاسو کې هغه څوک دی چې دخپلې ښځې او اولاد سره سره ښۀ رفتار او معامله کوي اوزه ستاسو دټولو نه ډېر زيات غوره معامله کوونکی يم دخپلې کورنی سره .

ځکه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم به دخپلو بيبيانو سره ډېر ښۀ رفتار او چلند کاوه عائشة رضي الله عنهافرمائی چې زه يو ځل درسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يو سفر کې ملګری ومه نو رسول الله صلی الله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عليه وسلم لما څخه وغوښت چې زه ورسره دمنډې مسابقه وکړم نو چې کله مسابقه وشوه زه ورڅخه مخکې شمه بیا څه موده وروسته په یو بل سفر کې زه بیا ورسره ملګری وم نو بیائې راڅخه دمسابقې غوښتنه وکړله نو چې کله مسابقه وشوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په منډه کې لما څخه مخکې شو او بیا ئې وخندل او وې وئیلې چې دا دهغې پخوانی مسابقې په بدل کې وشو (( .

)احمدوابوداود مشکوة ۲۸۱(

او په یو بل روایت کې عائشة رضي الله عنها فرمائی چې دحبشو ماشومان به په مسجد نبوی کې دغشو سره لوبې کولې او ما به خپل سر درسول اله صلی الله علیه وسلم په اوږه باندې ایښې وه او د هغوې سیل مې کاوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم بهٔ ترهغې ناست وه ترڅو چې زه دسیل څخه مړه شوی نه وم. نو نارینه و ته پکار دی چې دخپلو ښځو سره دجنسی لوبې نه علاوه نورې دساعت تیری لوبې وکړي خو دا لوبې باید په یو پټ او محفوظ ځاې کې وي چې دهغوې دښځو عفت ته کوم خطر متوجه نه وي او هم ددین فرائض او واجبات ترپښو لاندې نشی

همدارنګې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( کل شئ لیس من ذکر الله لهوولعب الا ان یکون اربعة ملاعبة الرجل امراته وتادیب الرجل فرسه ومشي الرجلین بین الغرضین وتعلیم الرجل السباحة ))

)رواه النسائی صفحه ۱۲۳ جلد ۲(

ترجمه : هرهغه عمل چې په هغه کې دالله تعالی ذکر نه وي نو هغه یو بی فائدې مشغولتیا او لوبې دي مګر څلورعملونه ددې څخه مستثنی دي دسړی لوبې کول دخپلې ښځې سره او خپل آس ته ادب او تربیه ورکول او دنښو دویشتلو په وخت کې د دوو سړوګرځیدل د نښو ترمنځ اویوکس ته دلامبو چل ورزده کول.

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې دخپلې ښځې سره هرقسمه لوبې کول یو نیک عمل او داجر او ثواب دلاسته راوړلو وسیله ده خو په دې شرط چې الله تعالی او د مور او پلار حقوق پیمال نشي . نو دښځې سره ښه معامله او ښه چلند دادی چې هغې ته دې داسې خبره ونکړي چې هغه ورباندې خفه کیږی او باید دهغې کرامت او شخصیت او مرتبې ته بې احترامي ونشي او دهغې سره بایدپه غصه او په سختي سره چلند ونشي او دزندګی دضروریاتو لکه جامې خوراک څښاک او نورو شیانو په موضوع کې باید ترخپلې وسعې هغه خوشحاله وساتی او دبخیلی نه دې ځان وساتی او دهغې په وړاندې دې دنورو ښځو صفت نکوي ځکه خو الله تعالی فرمائی : (( ولاتمسکوهن ضرارا لتعتدوا ومن یفعل ذلک فقد ظلم نفسه ))

)سورة البقرة ایت ۲۳۱(

ترجمه : او تاسې مه ساتئ دا ښځې دضرر دپاره چې زیاتي وکړي تاسو په هغوي باندې او چاچې دا کار وکړلو نو یقینا پر خپل ځان ئې ظلم وکړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱-دکوروالې درازونو دساتنې حق

یو دهغو حقوقو څخه چې ښځه پر خپل خاوند لري دادی چې دهغې سره دکوروالې رازونه باید بل چاته ونه وائی ځکه چې دا ډیر بدعمل دی رسول الله صلی الله علیه وسله فرمائی : (( ان شر الناس عندالله منزلة یوم القیامة الرجل یفضی الی المراة وتفضي الیها ثم ینشر سرها ))

)رواه مسلم واحمد مشکوة صفحه ۲۷٦(

ترجمه : په خلکوکې بدترین کس دالله تعالی په نزد په ورځې دقیامت کې هغه څوک دی چې دخپلې ښځې سره کوروالې وکړی او بیا دهغې رازونه خلکو ته ووائی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲- دعدالت حق

که یو سړی دیوې نه زیاتې ښځې ولري نو په هغه باندې لازم دی چې دهغوې ترمنځ په مسکن ، لباس، نفقه او علاج ، شپه تیرول او تعامل او چلند کې عدالت وکړي بلکه الله تعالی نارینه و ته امر کړیدی کچیرته دوي دزیاتو ښځو ترمنځ دعدالت دنه کولو نه ډارېږي نو بیا دې هر یوکس یوه ښځه وکړي الله تعالی فرمائی : (( وان خفتم الا تعدلوا فواحدة ))

)سورة النساء ایت ۳(

ترجمه : که چیرته تاسو ډاریدئ چې دزیاتو ښځو ترمنځ به عدالت ونشي کړای نو بیا یوه ښځه وکړي .

خوکه دزړه عشق او محبت او میلان یوې ښځې سره زیات وي نو په دې باندې الله تعالی نارینه نه نیسی ځکه چې دادنارینه داختیار او ارادې څخه خارج دی خو په دې شرط چې دښځو ترمنځ ئې په تعامل او اخلاق او چلند کې کوم فرق رانشي او دهغوې ترمنځ په مادي او معنوی لحاظ سره دعدالت رعایت وکړي ، الله تعالی فرمائی : (( ولن تستطیعوا ان تعدلوا بین النساء ولوحرصتم فلا تمیلوا کل المیل فتذروها کالمعلقة ))

)سورة النساء ایت ۱۲۹(

ترجمه : تاسو نه شی کولای چې دخپلو ښځو ترمنځ دزړه په محبت کې عدالت وکړی اګر که زیات کوشش هم وکړئ . او دا ځکه چې دزړه محبت داختیار څخه وتلی دی .

او عائشة رضي الله عنها روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمائل : (( اللهم هذا قسمي فیما املک فلا تلمني فیما تملک ولا املک ))

)ترمذي ابوداود نسائی ابن ماجه دارمي مشکوة صفحه ۲۷۹(

ترجمه : ای الله دا هغه عدالت او تقسیم دی چې ځما په واک کې دی مامه ملامتوه دهغه څیز په باره کې چې ستا په واک کې دی او ځما په واک کې نه دی ( یعني دزړه محبت )

نوکه یو سړی دیوې څخه دزیاتو ښځو خاوند وي او غواړي چې دخپلې یوې ښځې په ملګرتوب چیرته سفر وکړي نو باید دهغوې ترمنځ قرعه کشي وکړي ترڅو هیڅوک هم خفه نشي او رسول الله صلی الله علیه وسلم به دسفر په وخت کې دخپلو بیبیانو ترمنځ قرعه کشی کوله ځکه خو عائشة رضي الله روایت کوی چې : (( کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا اراد سفر ضرب القرعة بین نسائه فایتهن خرج سهمها خرج بها معه ))

)بخاري ومسلم مشکوة صفحه ۲۷۹(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله دکوم سفر اراده وکړلو نو دخپل ښځو ترمنځ به ئې قرعه کشی کوله نو دچا نوم به چې ووتلو نو هغه به ئې دځان سره په سفر کې ملګرې کوله . همدارنګې دښځو ترمنځ په شپه تیرولو کې هم عدالت ضرور دی که هر څومره یوه ښځه ناجوړه او بوډۍ هم وي خو چې نوبت ئې راشي باید خاوند ئې ورسره شپه تیره کړي او که کومه ښځه خپل نوبت بلې ته وبښي نو کولی شي ځکه خو عائشة رضي الله عنها فرمائی: چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم مریضی زیاته شوه نو هغه دخپل ټولو بیبیانو څخه اجازه وغوښتله ددې لپاره چې څما په کوټه کې وه ووسیږي او زه دهغه خدمت وکړم نو ټولو بیبیانو ئې ورته اجازه وکړله.

)بخاری مشکوة صفحه ۲۷۹(

نو دښځو ترمنځ په مسکن ( داوسیدو ځاې ) او جامه او نفقه او شپه تیرولو کې عدالت فرض دی او دهغوې ترمنځ عدالت نه کول حرام او لویه ګناه ده .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( من کانت له امراتان فمال الی احداهما جاء یوم القیامة واحد شقیه ساقط ))

)ترمذي ابوداود ، نسائی ابن ماجه مشکوة صفحه ۲۷۹(

ترجمه : چاچې دوه ښځې درلودلې او یوې ته ئې توجه وکړلو او بلې ته ئې ونکړلو ( یعنې دهغوی ترمنځ ئې عدالت ونکړلو ) نو په ورځ دقیامت کې به ئې دبدن یو طرف غورځیدلی وي او وجود به نه لري .

### ۱۳-په کورنی کارونو کې دمرستې حق:

نارینه ته پکار دی چې دخپلې میرمنې سره دکور په کارونو کې مرسته وکړی او دا درسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه وه چه دکور په کارونو کې به یې دخپلو بیبیانو سره یې مرسته کوله ځکه بي بي عایشه رضی الله عنها روایت کړیدی چې ( کان رسول الله صلی الله علیه وسلم فی مهنة اهله فاذا حضرت الصلاه قام الی الصلاه )

)بخاری صفحه ۸۰۸ جلد ۲(

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کور کې دخپلو بیبیانو خدمت کاوه او چه کله به د لمانځه وخت داخل شو نو لمانځه ته به ودریده یعنې دمانځه ادا کولو لپاره به مسجد ته تللو او د کور کار به یې پریښوده.

او د اسلام څلورم خلیفه او درسول الله صلی علیه وسلم زوم حضرت علی رضی الله عنه روایت کوی چې ((کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذااوی الی منزله جزءدخوله ثلاثه اجزاء جزءا الله و جزءا لاهله وجزءا لنفسه(

)شمایل ترمذی صفحه ۲۲ جلد ۲(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کله کور ته ورغی نو خپل وخت به يې په دريو حصو ويشل يوه حصه دالله تعالی د عبادت دپاره او بله حصه دخپل کورنی دپاره او بله حصه د خپل ځان د خدمت لپاره.

همداراز بي بي عايشه رضی الله عنها روايت کړيدی چې ((کان رسول الله صلی علیه وسلم بشرامن البشر يفلی ثوبه ويحلب شاته ويخدم نفسه))

)رواه الترمذی فی الشمائل ص۲۳ جلد ۲(

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم يو بشر و او دبشر په څير به يې ژوند تيراوه او هغه دا چې خپلې جامی به يې پخپله پاکولې او خپله ميږه يې به يې پخپله لشله او خپلې پڼی به ئې پخپله گنډلی.

## ١٤-د ښځې د خپلوانو احترام کول:

نارينه ته پکار دی چه دخپلې ښځې دخپلوانو او دوستانو قدر او احترام وکړی او دهغې په وړاندې دی دهغې خپلوانو پسی بدی خبری نه کوی او که وسه يې رسيږی دهغې خپلوانو سره دی مرسته او کمک وکړی او هغوی دی خوشحاله وساتی بي بي عايشه رضی الله عنه داسې روايت کوی ( کان رسول الله صلی الله علیه وسلم يکثر ذکرها (خديجه)وربما ذبح الشاة ثم يقطعها اعضاءا ثم يبعثها فی صدائق خديجه )

)متفق عليه مشکوة صفحه ۵۷۳(

ترجمه: رسول الله صلی علیه وسلم به خديجه رضي الله عنها دوفات نه وروسته ډيره يادوله او چه کله به يې گډ ذبح کوله نو هغه به يې ټوټې ټوټې کړ او دبي بي خديجی دوستانو ته به يې ليږله.

او په يو بل روايت کې عايشه رضی الله عنها فرمائی چې يوه بوډی ښځه رسول الله صلی علیه وسلم ته راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې دحال پوښتنه وکړه چه څنگه ئي نو هغې بوډی ښځې ووېلی چې ښه يمه . څما مور او پلار دی تا نه قربان شی ای رسول الله صلی الله علیه وسلم نو چه کله دا بوډی واپس لاړله نو ما رسول الله صلی علیه وسلم ته وويل چې تا ددغې بوډی سره ولې دومره ښه چلند وکړ ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل (يا عايشه انها کانت تاتينا زمان خديجه )

)رواه الحاکم فی المستدرک(

ترجمه: ای عائشې دغه بوډی دخديجې په ژوندانه کې به زمونږ کورته راتله يعنې دغه بوډی د خديجې ددوستانو څخه ده نو ځکه مې د هغې قدر او احترام وکړو.

او په بل حديث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمائلی ( احق ما اکرم به الرجل ابنته او اخته )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مسند احمد الفتح الربانی صفحه ۱۷٦ جلد ۱٦(

ترجمه:ښه قدر او عزت دیوی سړی (خسرګنی) په دې کیږی چې دهغه دخور یا لور عزت او احترام وشی.

یعنې سړی باید د خپلې ښځې قدر او احترام وکړی او دخپلې ښځې قدر او احترام د هغه دخسرګنی قدر او احترام دی

## ۱۵-د مشورې حق

نارینه ته پکار دی چه د ژوند په کارونو کې د خپلې ښځې سره مشوره وکړی او پدغه مورد کې درسول الله صلی الله علیه وسلم په پل قدم کیږدی ځکه چې هغه به همیشه به دخپلو اصحابو او خپلو بیبیانو سره مشوره کوله او دا ځکه چې الله تعالی فرمائی(وشاورهم فی الامر)

)سورة آل عمران ایت ۱۵۹(

ترجمه: دخپلو اصحابو سره په مهمو کارونو کې مشوره کوه.

او الله تعالی په بل ایت کې دمومنانو په صفت کې داسې فرمائی (وامرهم شوری بینهم )

)سورة الشورې ایت ۳۸(

ترجمه: او کار ددوی دی مشوره کول پخپلو منځو کې یعنې دوی خپل کارونه په مشوری باندې حل او فصل کوی .

او رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمائی (آمروا النساءفی بناتهن)

)ابو داود صفحه ۲۸۵(

ترجمه: د ښځو سره دهغوی دلورګانو په ازدواج کې مشوری وکړی.

او امام بخاری دحصرت عایشی څخه روایت کړی دی چې کله رسول الله صلی علیه وسلم غارحراء کې دنبوت څخه مخکې عبادت کاوه نو یوه ورځ جبریل علیه السلام هغه ته یې وحی راوړله او هغه یې خپله سینه کې کیمنډله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وډار شو او بي بي خدیجی رضی الله عنها ته ورغی او ورسره یې مشوره وکړه او بیا دواړه ورقه بن نوفل ته ورغلل او هغه ته یې قیصه بیان کړله نو ورقه بن نوفل ورته وویل چې مبارک دی وی ته ددې امت پیغمبر ئې .

)بخاری ج۱ص۲(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداشان چې کله رسول الله صلی علیه وسلم د مدینې څخه مکې ته دعمرې لپاره د خپلو اصحابو سره روان شول او ټول احرامونو تړلي وو او دقرباني ځاروي يې هم دځانونو سره روان کړي وو نو چې کله دوی دحدیبی مقام ته ورسیدل نو دمکې مشرکانو دوی مکې ته د داخلیدو او عمرې اجازه ورنکړله او دیو څه بحث څخه وروسته رسول الله صلی علیه وسلم دهغوی سره يو تړون لاسلیک کړلو چې يوه خبره پکې داوه چې سږ کال به رسول الله صلی علیه وسلم به دخپلو اصحابو سره ځی او راتلونکی کال به ورته دعمرې دادا کولو اجازه وی.

نو رسول الله صلی علیه وسلم خپلو صحابوو ته امر وکړلو چې ځانونو داحرامو څخه وباسی یعنې دسر ویښتان وخرئی یا کم کړی او داحرام جامی وباسی نو صحابه کرامو دډیر غم او خفگان دلاسه ځانونه داحرام څخه ونه ویستل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې خیمی ته ننوته او خپله بي بي ام سلمه سره يې مشوره وکړه چه څه وکړم نو ام سلمه هغه ته وویلی چه تاسو ووځی او دخپلې قربانی ځاروی ذبح کړی او دسر ویښتان وخروی او دچا سره خبری مکوی نو رسول الله صلي علیه وسلم دهغه دغه مشوره عملی کړله نو چې کله صحابه کرامو رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدل چه ځان يې داحرام څخه وویسته نو ټولو دغه کار وکړلو اومشکل حل شو.

)بخاری ج١ص٣٧٢(

## ١٦-د مریضی په حالت کی د ښځې د علاج حق

ښځه پر خپل خاوند باندې حق لری چې دناجوړتیا په حالت کې دهغې علاج وکړی او ددې خبرې دلیل دادی چه يو صحابی نقل کوی چه دبدر د غزا په وخت کې د عثمان رضی الله عنه ښځه بي بي رقیه چې درسول الله صلی علیه وسلم لور وه مریضه وه نو رسول الله صلی علیه وسلم عثمان رضی الله عنه ته وویل چه ته غزا ته مه ځه او دخپلې ښځې خدمت کوه تاته به بدر غزا ثواب او غنیمت درکړی شی.

نو ددغه حدیث څخه معلوم شو چې د ښځې علاج پر خاوند باندې لازم دی او ددې دومره لوې اجر او ثواب دی چې د الله تعالی په لارکې دغزا سره برابره ده.

## ١٧-دانتقاد حق

که دښځې خاوند دشریعت خلاف کوم کار وکړی نو ښځه حق لری چه د اصلاح په نیت په هغه باندې احترامانه انتقاد وکړی او خپلې غلطی ته يې متوجه کړی.

الله تعالی فرمائی (والمؤمنون والمؤمنات بعضم اولیاء هم بعض یامرون بالمعروف وینهون عن المنکر ویقیمون الصلاة ویؤتون الزکاة ویطیعون الله ورسوله )

)سورة التوبة ایت ٧١(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: مومنان سړی او مؤمناني ښځې بعضې د بعضو دوستان دی په نیکو کارونو امرکوی او د بدو کارونو څخه منع کوی او مونځونه ادا کوی او دالله او رسول اطاعت کوی.

نو نیکو کارونو ته بلنه ورکول یوازې دسړو وظیفه نه بلکه د زنانه و هم دی.

او روایت شویدی چه عمر بن خطاب رضی الله عنه دخپل خلافت په دور کې په نبوی مسجد کې دخطبی په حال کې وویلی چا چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دبیبیانو دمهر څخه زیات مهر واخسته نو هغه زیاتی به ورڅخه بیرته واخستل شی نو یوه ښځه پاسیدله او وی ویله ای عمره الله تعالی فرمائی (واتیتم احداهن قنطار فلا تاخذا منه شیئا)

)سورة النساء ایت ۲۰(

ترجمه : که تاسې کومی ښځې ته په مهر کې ډیر مال ورکړی وی نو تاسو دغه مال څخه هیڅ کوم شی بیرته مه اخلی.

نو چه کله حضرت عمر ددغی ښځې خبره واریدله نو هغه وفرمایل (اخطا عمرواصابت امراة)

)مسند ابی یعلی ، سنن سعید بن منصور فقه السنة صفحه ۲۹۴(

ترجمه : عمر پخپله خبره کې خطا شو او ددغی ښځې خبره صحیح ده.

دغه وه دوخت پر خلیفه باندې د یوې ښځې انتقاد چې دهغه ستاینه وشی.

## ۱۸-د میراث حق

ښځه دخپل خاوند دوفات نه وروسته د هغه په مال کې حق لری او هغه داسې دی چه که دخاوند یې ځامن یا لورګانې وی نو هغې ته دخاوند په مال کې اتمه حصه حق کیږی او که د خاوند نه یې ځامن یا لورګانې پاتی نه وی نو بیا هغې ته څلورمه حصه ورکول کیږی الله تعالی فرمائی (ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن لکم ولد فان کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم من بعد وصیة توصون بها اودین )

)سورة النساء ایت ۱۲(

ترجمه : او ښځې دپاره څلورمه حصه ده هغه مال چې پریښودلی وی تاسو که چرې نه وی تاسو لره اولاد (ځامن یا لورګانې ) نو که وی تاسو دپاره اولاد نو بیا ښځو دپاره اتمه حصه ده دهغه مال نه چه پریښودلی تاسو وروسته دپوره کولو دوصیت نه چه وصیت کوی تاسو به هغه سره او ادا کولو دقرض نه.

## ۱۹ -دکار او ملکیت حق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه حق لری چې د مشروعو او رواوو کارونو له لاری خپل شخصي مال زیاد کړی او دځان سره یې وساتی او تصرفات پکې وکړی خو پدی شرط چې دهغې عفت ته پکې خطره نه وی او دهغې دخاوند او اولاد حقوق پیمال نه شی نو ښځه کولی شی دغسی کارونه وکړی لکه په خپل کور کې دوزګارتیا په وخت کې خیاطی یا ګلدوزی کول یا پخپل کور کې دچرګانو ساتل او ښځو او جینکو ته دفیس په مقابل کې درس ورکول یا ډاکتره او قابله وی پخپل کور کې یا داسې شفاخانه کې چې دنارینه او زنانه پکې اختلاط نه وی دښځو علاج کول نو دغه ټول دښځې حقوق دی او ښځه کولی شی ددې لیارې خپل شخصي ملکیت زیات کړی که منقول وی که غیر منقول.

علامة ابن عابد شامی په خپل کتاب ردالمختار کې داسې ویلی دی (اما العمل الذی لا ضرر فیه فلاوجه لمنعها منه)

)رد محتار صفحه ۲۰۷ جلد ۲(

ژباړه: هغه کار چه په هغه کې ضرر نه وی یعنې دخاوند حقوق پکې نه پیمال کیږی او دښځې عفت ته پکې ضرر نه رسیږی نو ښځه د داسې کارونو څخه نشی منع کیدلاې:

## ۲۰-دخلع حق

خلع دنکاح دعقد له منځه وړل دی دعوض په بدل کې چې ښځه یې خاوند ته ورکوي که دا عوض مهر یا هیز وي یا بل څه وي لکه چې ښځه خاوند ته ووائي ما د زرو روپو په بدل کې پریږده او د هغه خاوند یې ومنی او یا خاوند ته ووائی چې زما مهر او جهیز واخله او ماپریږده او خاوند یې ومنی نو دپورتنې تعریف څخه معلومه شوه چې په خلع کې درې شرطونه دي :

۱-چې دخلع یا ابراء او یا ددې مفهوم سره برابر لفظ باندې وي.

۲-دعوض ذکر ضروري دی.

۳-دښځې موافقه ضروري ده او که ښځه یې ونه منی او یا چپه پاتې شي نو دا خلع صحیح نه ده .

دخلع حکم :

څرنګه چې شریعت نارینه و ته حق ورکړی چې کومه ښځه یې نه خوښیږي نو هغه ته طلاق ورکړي همدارنګه یې ښځې ته هم حق ورکړی چې که میړه یې نه خوښیږي او ژوند یې دتاو تریخوالي او ستونزو سره مخ وي او دالله تعالی ټاکل شوی حدود نه شي مراعتولی نو دهغه څخه بیلتون وغواړي ځکه چې کله ښځه او خاوند یو له بله سره هیڅ ګوزاره نه کوي او ددوي یوځاې ژوند ناممکن وي او یو دبل په نسبت کرکه او نفرت لري او کیدی شي چې هر پلو دخپلې جنسي غریزې داشباع لپاره نامشروعې لارې ولټوي نو په داسې حالت کې یو دبل څخه جداېي او بیلتون پکار دی مګر په عام ډول څرنګه چې خلع دطلاق یو ځانګړي ډول دی دا هم لکه طلاق مکروه او ښه نه ګڼل کیږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چي کله شرائط انسان ديته اړباسي نو بيا روا ده الله تعالی فرمائی : (( ولا يحل لکم ان تاخذوا مما اتيتموهن شيئا الا ان يخافا الا يقيما حدودالله فان خفتم ان لايقيما حدودالله فلاجناح عليهما فيما افتدت به ))

)سورة البقرة ايت ۲۲۹ (په اسلام کې کورنی ژوند صفحه ۹۴-۹۵(

ترجمه : او تاسي ته روا نه ده چي واخلئ خپل ورکړي شوي څيز ښځو ته مګر چي ښځه او خاوند دواړه وويريږي له دي خبري څخه چې دا دواړه به ټينګه ونه ساتلی شي حدودالله ( تعالی ) نو څه ګناه نشته په دواړو باندې چې ښځه بدله ورکړي او ځان خلاص کړي .

او عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت کړی چي دجليل القدر صحابي ثابت بن قيس رضي الله عنه ښځه حبيبه بنت سهل رضي الله عنها رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او وې وئيلې چې ای رسول الله زه دثابت په ديانت او اخلاق کې څه عيب نه ګورم خو هغه مې نه خوښيږي او نه غواړم نور دهغه سره يو ځاې ژوند وکړم نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته ووئيل چې ته کولای شې هغه باغچه چې تاته ئې په مهر کې درکړيدی بيرته هغه ته ورکړی ؟ نو هغې ووئيلې چې هو يارسول الله صلی الله عليه وسلم ، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم ثابت بن قيس ته ووئيل چې باغچه واخله او هغې ته طلاق ورکړه ؟

)بخاري ، نسائی ، ابن ماجه ، مشکوة صفحه ۲۸۳(

همدارنګه علی رض فرمائی چې کله ښځه دخپل خاوند څخه خلع وغواړي نو مستحب دی چې خاوند ئې دهغې دغه غوښتنه ومنې .

خو که ښځه بغير دکوم دليل او عذر څخه دخاوند څخه ځان خلاصول وغواړي نو مکروه دی ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( ايما امراة سالت زوجها طلاقا في غير ماباس فحرام عليها رائحة الجنة ))

)احمد ، ابوداود، ترمذي ، ابن ماجه ، دارمي ، مشکوة صفحه ۲۸۳(

ترجمه : کومه ښځه چې دخپل خاوند څخه بغير دکوم عذر او ضرورت څخه طلاق وغواړي نو پرهغې باندې دجنت بوي حرام دی . او که دښځې خاوند خلع نه قبلوله نو بيا ښځه حق لري چې قضاء ته رجوع وکړي او قضاء دهغوې دواړو ترمنځ جداېي راولې چې ديته دتفريق حق وائی . قضا کولای شي دښځې او خاوند ترمنځ په لاندې حالاتو کې بيلتون راولې:

۱-بيلتون دنفقي دنه ورکولو په وجه .

۲-بيلتون دعيبونو په وجه لکه ضعف جنسي يا ليونتوب يا نور لاعلاج او طولاني مرضونه .

۳-بيلتون دخاوند دبدسلوک او بدګذارنی په وجه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤-بیلتون دخاوند دغائبوالی یا بندي توب په وجه

)په اسلام کې کورنی ژوند صفحه ۹۰، فقه خانواد صفحه ۳۹۹(

۲۱-د سلام حق:

ښځه پرخپل خاوند حق لري چې کور ته دننوتو په وخت کې پر هغې سلام واچوي ځکه چې الله تعالی فرمائی : ((فاذا دخلتم بیوتا فسلموا علی انفسکم تحیة من عندالله مبارکة طیبة ))

)سورة النور ایت ٦١(

ترجمه : چې کله تاسو کورونو ته ننوځئ نو پخپلې کورني باندې سلام واچوئ دادالله تعالی له طرفه برکتونو والا او زړه خوشحالونکی پیشکش ده .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( اذا دخلت علی اهلک فسلم یکون برکة علیک وعلی اهل بیتک ))

)ترمذي مشکوة صفحه ۲۹۹(

ترجمه : کله چې کور ته ورځې نو پخپلې کورني باندې سلام واچوه داستا او ستا دکورني لپاره دبرکت سبب لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم بحث

## د خاوند حقوق پر ښځه باندې

نارینه سره ددې نه چې دخپلې کورنی په ارتباط زیات اخلاقي او مادي مسئولیتونه لري دلاندې حقوقو لرونکی دی :

۱-دشریعت په حدودو کې تابعداري :

څرنګه چې سرې دخپلې کورنی مشر او دهغې داداري اورهبري او ساتنې مسؤول دی او دهغې دعزت او کرامت او سعادت او آرامی او امنیت په لار کې شپه او ورځ پلانونه جوړوي او کوشش کوي خو دغه ټول مصلحتونه او هدفونه په هیڅ یوه ټولنه کې بغیر دمشر داطاعت او نظم څخه لاس ته نه راځي نو ځکه دخاوند تابعداري پرښځه باندې لازم شویدی خو دغه تابعداري به دشریعت په حدودو کې وي او په غیر شرعي کارونو کې دخاوند تابعداري روانه دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق ))

)رواه احمدوالحاکم في مستدرکه مشکوة صفحه ۳۱۹(

ترجمه : په هغه کار کې چې دخالق نافرماني کیږي دمخلوق تابعداري روا نه دی .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( انما الطاعة فی المعروف ))

)متفق علیه مشکوة صفحه ۳۱۹(

ترجمه : دمشرتابعداري په نیکو کارونو او خبرو کې لري

)یعني په غیر شرعي کارونو کې دهغه تابعداري روانه دی .

او ددغه شرعي تابعداري اساس هغه قوامیت ( مشرتوب او حاکمیت ) دی چې الله تعالی دکورني پلار ته ورکړیدی ځکه چې الله تعالی فرمائی : (( ولهن مثل الذي علیهن بالمعروف وللرجال علیهن درجة والله عزیز حکیم ))

)سورة ا لبقرة آیت ۲۲۸(

ترجمه : دښځو لپاره پرخپلو خاوندانو حقوق دي لکه چې په دوي باندې دخپلو خاوندانو حقوق دي په نیکې طریقې سره او دسړو لپاره پرښځو باندې یوه اوچته درجه ده ( دکورنی مسئولیت ) او الله تعالی عزت والا او حکمت والا دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله تعالی فرمائی : (( الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض وبما انفقوا من اموالهم ))

)سورة النساء ایت ٣٤(

ترجمه : نارینه پرښځو باندې حاکمان دي په دي وجه چې الله تعالی بعضو ددوي ته په بعضو باندې غوره والی ورکړیدی او په دی وجه چې نارینه خپل مالونه په زنانه و باندې خرچ کوي .

یعنې څرنګه چې نارینه دښځو په ارتباط زیات مسئولیتونه لري نو الله تعالی دکورنی دنظم او آرامي او سعادت لپاره نارینه و ته دمشرتوب حق ورکړی دی او هغه ته ئې په بعضو صفاتو کې پر ښځو باندې فضیلت ورکړی دی . نو الله تعالی نارینه ته په کورنی کې دمشرتوب او دمسئولیت حقونه ددوو علتونو په وجه ورکړی دی :

اول : بدني طاقت : نو الله تعالی نارینه دښځو څخه زیات طاقتور پیدا کړیدی او هغوي یې دښځو څخه زیات دقوي ارادې خاوندان ګرځولي دي .

او ښځې غالبا دبدن او ارادې له مخې کمزوري پیدا شویدي او عاطفې جنبه پرهغوې غالبه ده

دوهم : مالي مسئولیت : مختلف مالي مسئولیتونه لکه مهر ورکول دواده ضروریات پوره کول ښځې ته دنفقې او جامې او داوسیدو دځاې برابرول ټول دسړي په غاړه دي او عملا سړی دخپلې کورنی خدمتګار وي او دهمدغه خدمتګاري په وجه هغه دخپل کورني د ریاست او مشرتوب مستحق ګرځیدلی دی خو دغه مشرتوب به ئې په حکمت او مشورې سره وي یعنې دسړي حاکمیت پرښځه باندې په حقیقت کې یو قسم مسئولیت او مکلفیت دي نه ریاست او فضیلت او په حقیقت کې دغه مسئولیت او مکلفیت کوم عزت او مرتبه نه بلل لري ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي : (( کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته فالامام الذي علی الناس راع وهو مسئول عن رعیته والرجل راع علی اهل بیته وهو مسئول عن رعیته والمراة راعیة علی بیت زوجها ))

)متفق علیه مشکوة صفحه ٣٢١(

ترجمه : تاسو ټول مسئوول یاستی او دخلکو په وړاندې مسئولیت لرئ نو دخلکو مشردهغوې په باره کې مسئوول وي او سړی دخپلې کورني په باره کې مسول دی او ښځه دخپل خاوند دکور په باره کې مسئوله ده.

ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې ښځه هم دخاوند نه وروسته دکورني په باره کې مسئولیت لري . نو پرښځه باندې د خپل خاوند تابعداري دشریعت په حدودو کې فرض دی او په دی باره کې زیات حدیثونه راغلي دي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کې داسې فرمائی : (( لو کنت آمر احدا ان یسجد لاحد لامرت المراة ان تسجد لزوجها ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)رواه الترمذي مشکوة ٢٨١(

ترجمه : که چیرته ما امر کړای وای چې یو کس دې بل کس ته سجده وکړي نو ما به ښځو ته امر کړای وای چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړي .

یعني که د الله تعالی نه بغیر بل چاته سجده روا وای نو ما به ښځو ته امر کړای وای چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړي اودا ځکه چې دخاوند حق پر دوي باندې ډیر زیات دی خو څرنګه چې دالله تعالی نه بغیر بل چاته سجده روا نده نو ځکه ما دغه امر ونکړلو.

او الله تعالی فرمائی : (( فالصالحات قانتات حافظات للغیب بما حفظ الله ))

)سورة النساء ایت ٣٤(

ترجمه : نونیکې زنانه تابعداري کوونکي دي ( دالله اورسول او خاوند ) او ساتونکې دي دځان او مال په وخت دغائب کیدلو دخاوند کې په دې وجه چې الله تعالی ددغو شیانو دساتنې امر کړی دی .

٢-دخاوند دمال او عزت ساتنه:

پرښځه باندې لازمه ده چې دخپل خاوند په غیاب کې دهغه دناموس او مال ساتنه وکړي او دخپل خاوند داجازې نه بغیر چاته دهغه کورته دننوتو اجازه ورنکړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی : (( المراة راعیة في بیت زوجها مسئولة عن رعیتها ))

))متفق علیه مشکوة صفحه ٣٢٠(

ترجمه : ښځه دخاوند دکور ساتونکې ده او دهغه دساتنې مسئووله ده .

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیکو ښځو په صفت کې داسې فرمائی : (( التی تسره اذا نظرو تطیعه اذا امر واذا غاب عنها حفظته فی نفسها وماله ))

)رواه البیهقي في شعب الایمان مشکوة صفحه ٢٦٨(

ترجمه : نیکه ښځه هغه ده چې خاوند ئې دهغې په لیدلو خوشحالیږي او دخاوند فرمانبرداري کوي او که خاوند ئې په کور کې نه وي نو خپل عفت او دخاوند دمال حفاظت او ساتنه کوي .

او په بل حدیث کې داسې فرمائی : (( وحقکم علیهن ان لایوطئن فرشکم من تکرهون ولا یاذن في بیوتکم من تکرهون ))

)رواه الترمذي صفحه ٢٢٠ جلد ١ ریاض الصالحین صفحه ١٥٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : او ستاسو حق پر ښځو باندي دادی چې ستاسو په فرش دې هغه څوک نه کښینوي چې ستاسو ورڅخه بد راځي او ستاسو کور ته دې هغه چاته اجازه ورنکړي چې ستاسو ورڅخه بد راځي .

همدارنګې ښځې ته روا نه دی چې دخاوند داجازې څخه بغير دهغه دمال څخه چاته څه ورکړي ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( لا يجوز لامراة عطية الا باذن زوجها ))

)رواه النسائی صفحه ۳۵۲ جلد ۱ ابوداود صفحه ۲۳۷ جلد۱(

ترجمه : ښځې ته روا نه دی چې چاته څه ورکړي مګر د٠خاوند په اجازې سره

۳-دخاوند په کور کې خدمت:

سړی پر خپلې ښځې حق لري چې دهغه دکور داخلي کارونه سرته ورسوي لکه دطعام تيارول دکور پاکول ، دجامو اودلوښو وينځل وغيره او ددغې خبرې په نبوي احاديثو کې درې دلائله موجود دي .

اول دليل : دبي بي فاطمې رضي الله عنها څخه روايت دی چې دې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او دکور دخدمت څخه ئې شکايت وکړلو او درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ئې وغوښت چې هغې ته يو خادم ورکړي نو رسول اله صلی الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل چې دويده کيدلو په وخت کې درې ديرش ۳۳ ځله سبحان الله ووايه او درې ديرش ۳۳ ځلې الحمدلله ووايه او درې ديرش ۳۳ ځلې الله اکبر ووايه نو دا تاته دخادم څخه غوره دی((

)بخاري صفحه ۸۰۷ جلد ۲ مشکوة صفحه ۲۰۹ (

نو ددغه حديث څخه معلوم شو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فاطمې ته دا ونه ويلې چې ته دکور کار مکوه اويا دکور کار پرتالازم نه دی .

دوهم دليل : داسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها حديث دی دې فرمائي چې ما به دزبير رضي الله عنه دکور ټول کارونه کوله او دهغه دآس لپاره به مې ددوه کيلو متره لرې ځاي څخه واښه راوړله

)رواه مسلم صفحه ۲۱۸ جلد ۲(

دريم دليل : ( ( عن ضمرة بن حبيب قال قضی رسول الله صلی الله عليه وسلم علی ابنته الفاطمة بخدمة البيت وعلی علي ماکان من خارج البيت(

)مطالب عالية صفحه ۳۹ جلد ٤(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم دفاطمة او علي رضي الله عنها ترمنځ فیصله کړې وه چې فاطمة به دکور داخلي کارونه کوي او علي رضي الله عنه به دکور خارجي کارونه کوي .

٤-خپل خاوند ته ځان سینګارول :

دښځې او خاوند یو بل ته ځان سینګارول یو ښه او په شریعت کې مطلوب کار دی او خاوند حق لري چې دخپلې ښځې نه وغواړي چې هغه جامه واغوندې کوم چې دخاوند ئې خوښ وي او ښځه هم حق لري چې دخپل خاوند څخه همداسې غوښتنه وکړي او دا ځکه چې دښځې او دخاوند ترمنځ دغسې متقابل عمل ددواړو ترمنځ دمحبت او تفاهم دزیاتوالی او ددواړو دعفت سبب ګرځي . او په دغه موضوع کې عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائلی چې : ځما دا خوښ دی چې زه دې خپلې ښځې ته ځان سینګار کړم لکه چې ځما دا خوښ دی چې ځما ښځه دې ماته ځان سینګار کړی .

رواه ابن ابي حاتم وابن جریر الطبري تفسیر قرطبي صفحه ۱۱۸ جلد ۳ سورة البقرة

او رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائلی : (( ان الله جمیل یحب الجمال ))

)رواه مسلم مشکوة صفحه ٤۳۳(

ترجمه : الله تعالی ښائسته ذات دی او ښائست خوښوي .

او په بل حدیث کې داسې فرمائی : (( ان الله نظیف یحب النظافة ))

)رواه الترمذي مشکوة صفحه ۳۸۵(

ترجمه : الله تعالی پاک دی او پاکې خوښوي .

نویو عمل ( ښائست او پاکي ) چې الله تعالی ئې خوښوي نو نارینه او زنانه ئې ولې نه خوښوئ بې شکه چې کوم شی دالله تعالی خوښ وي نو هغه به یو فائده مند او د مسلمان دسعادت او کامیابي سبب وي .

٥-دشریعت په حدودو کې ښځې ته ادب ورکول:

.هر کله چې ښځه دخپل خاوند نافرماني شروع کړي او دخاوند دکور دمصلحت خلاف کارونه کوي نو خاوندئې حق لري چې دهغې داصلاح لپاره یو څه شرعي اقدامات وکړي چې دغه اقدامات الله تعالی په څلورو مرحلو تقسیم کړیدی .

الله تعالی داسې فرمائلی : (( الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض وبما انفقوا من اموالهم فالصالحات قانتات حافظات للغیب بما حفظ الله والتی تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فی المضاجع

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واضربوهن فان اطعنكم لا تبغوا عليهن سبيلا ان الله كان عليا كبيرا . وان خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكما من اهله وحكما من اهلها ان يريدا اصلاحا يوفق الله بينهما ان الله كان عليما خبيرا ))

)سورة النساء ايت ٣٤-٣٥(

ژباړه : نارينه حاكمان مقرر شوي دي په ښځو باندې په سبب ددې چې غوره والی وركړی دی الله تعالی ځينې ددوي ته په ځينو نورو باندې او په سبب ددې چې دغه نارينه لګښت کوي پردغو ښځو له خپلو مالونو څخه نو نيکې ښځې تابعداري کوونکي دي ( دالله او درسول او دخاوند ) او ساتونکې دي په غياب دخاوندانو خپلو کې دځانونو خپلو ( عفت )او دخپلو خاوندانو د مالونو او اولادونو په سبب ددې چې ساتلې دي الله ( دوي ته له حقوقو پر خاوندانو) او هغه ښځې چې ويريږي تاسې دسرکشي ( بدخوئی ) د دوی نه نو نصيحت وکړئ دوي ته او جدا شئ دهغوي نه په ځاې دخملاستو کې ( که په نصيحت سمې نشوې ) او ووهئ تاسې هغې لره ( تاديبي وهل نه انتقامي ) که په بيلتون هم سمې نشوې ، نو که اطاعت ئې ستاسې وکړلو مه لټوئ تاسو پردوي باندې بله لاره ( دطلاق ) بيشکه الله جل جلاله ډير اوچت او ډير لوي دی . او که ويريږئ تاسې له مخالفت څخه په مينځ دخاوند او ښځې کې نو مقرر کړئ تاسې يو فيصله کوونکی ( منصف) له خپلوانو ددې سړي او بل فيصله کوونکی ( منصف ) له خپلوانو ددې ښځې که دوي ( زوجين ) غواړي صلح کول نو الله به ددواړو ترمنځ جوړښت پيدا کړي بيشکه الله پوه او خبردار دی .

ددغه ايت کريمه څخه معلومه شوه چې نيکې ښځې نصيحت او تاديبي وهلو ته حاجت نلري بلکه نافرماني کوونکې دغو شيانو ته حاجت لري نو ددې لپاره چې کور دګډوډی او بې نظمي څخه وژغورل شي دهغه داصلاح او نظم لپاره بايد لاندې مراحل عملي شي :

اول : ښوونه او نصيحت : سری بايد خپلې نافرمانې ښځې ته په حکيمانه او ښائسته طريقې سره ښوونه او نصيحت وکړي او په مختلفو طريقو سره بايد هغه خپل مسئوليت ته متوجه کړئ

دوهم : هرکله چې حکيمانه او ښائسته نصيحت پرنافرمانې ښځې څه اثر ونکړي نو خاوند بايد دهغې سره دخملاستو څخه ډډه وکړي او خپله بستره دې ترې جدا کړي ځکه چې دغه کار کولای شي پرهغې اثر وکړي او هغه دې ته واداره کړي چې دخپلې نافرمانی څخه لاس واخلي په هرصورت دغه جدايې بايد دخلورو مياشتو څخه زياته نه وي .

دريم : بدني تنبيه ( تاديبي او خفيف وهل ) :

چې کله په نافرمانه ښځه باندې دبسترې جدا کول هم اثر ونکړي نو سړی به داسې طريقې سره هغه وهي چې دهغې مخ او دبدن حساس اعضاؤ ته څه ضرر ونه رسيږي او دا وهل به دادب په نيت وي او خفيفه به وي سخته به نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هډوكي ته به پكي نقصان نه رسيږي او د بدن پوستكې به پكې نه ژوبل لري بعضې علماء فرمايې چې په مسواك به يې معمولی غوندې وهې. او دا ددې لپاره چې بعضې سركشه او نافرمانې ښځې داسې حالت ته ورسيږي چې دهيڅا خبره نه مني نو دهغوې دنافرمانې علاج همدغه دادب وهل پاتې شي . نو دنافرمانو او سركشو ښځو تاديبي وهل په قران او حديث كې ثابت دي او دالله تعالی او رسول ئې روا كړيدی ددې لپاره چې دكورنې حفاظت وشي او بې نظمي او ګډوډې څخه بچ كړی شي لكه چې الله تعالی فرمائی : (( واضربوهن ))

)سورة النساء ايت ٣٤(

ترجمه : كه نافرمانو ښځو ته نصيحت او دهغوې سره نه څملاستل څه فائده ونه رسوله او دنافرمانې نه ونه ګرځيدل نو بيا هغوې ووهئ ( مګر تاديبی وهل )

اورسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( واضربوهن ضرباغير مبرح ))

)ترمذي صفحه ٢١٩(

ترجمه : نافرمانې ښځې كه په نصيحت او دهغي سره په نه څملاستو سمې نشوې نو بيا هغوې ووهئ چې سخته نه وي يعنې هډوكي نه ماتوي او پوستكې نه شكوي او دادب په نيت وي همدارنګې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی : (( ولا تضرب الوجه ولا تقبح ))

ابوداود صفحه ٢٩١) (

ترجمه : خپله ښځه په مخ مه وهه او خرابې خبرې ورته مكوه. .

خو دا خبره بايد په نظر كې ونيول شي چې دنافرمانې دصورت نه بغير دښځې وهل روا نه دی او دهغې تاديبي وهل دحل آخري لاره ده او دا خبره هم په ياد ساتل پكار دي چې كه سړی دښځې په وهلو كې د شريعت د حد نه تجاوز وكړي هغه ظالم دی او بايد خپله سزا وګوري .

څلورم : كورنی جرګه :

كه د مخكينې مرحلې دنافرمانې ښځې په اصلاح كې فائده مندې نه نشوې نو خاوند دې دغه موضوع قاضي او محكمې ته وړاندې كړي ترڅو هغه دسړي اودښځې دكورنې څخه يوه جرګه جوړه كړي چې دخاونداو دښځې ترمنځ دصلحې لارې ولټوي كچيرته دوي ونشوې كړای چې ددوي ترمنځ صلحه راولې نو بيا دې ددوي ترمنځ دجداېې او طلاق تصميم ونيسی .

پنځم : كچيرته دښځې خاوند بداخلاقه وي او خپلو ديني او اخلاقي مسئوليتونو ته متوجه نه وي نو ښځه به په حكيمانه او ښائسته طريقې سره دهغه داصلاح لپاره كار وكړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمائی : (( وان امراة خافت من بعلها نشوزا او اعراضا فلاجناح علیها ان یصلحا بینهما صلحا والصلح خیر ))

)سورة النساء ایت ۲۸(

ترجمه : او که یوه زنانه ویریږي دخپل خاوند دبدخوییې نه یا دمخ گرځولو نه نو گناه نیشته په دغو دواړو باندې چې روغه وکړي په خپلو مینځو کې او روغه کول غوره کار دی.

د خاوند په کور کې اوسېدل

پر سړي باندې لازم دی چې د خپلې ښځې لپاره د اوسیدو یو مناسب ځاې برابر کړي او پر ښځې باندې لازم دی چې دخپل خاوند سره په یو کور کې ژوند وکړی او که ښځه یې نه غوښتله چې د هغه سره یو ځاې ووسی نو خاوندی دی لمړی ورته نصیحت وکړی أو کنه موضوع به محکمی ته وړاندې کړی که بیا هم ښځه دی ته تیاره نشوه چې د هغه سره په یو کور کې ژوند وکړی نو د ښځې د نفقی حق ساقطیږی تر څو چې د خاوند سره په یو کور کې یو ځاې نشی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خاوند حقوق پر ښځه باندې

د ناروغتیا پر مها ل د خاوند درملنه او خدمت:

د ژوند د ضرورتونو څخه یو دادی چې ښځه دی د خپل خاوند د بیمارۍ په وخت کې د هغه خدمت او مراقبت په صحي توګه سره وکړی ځکه چې د بیمارۍ په وخت سړی د هر وخت څخه زیات د خپلې ښځې خدمت او مراقبت او محبت ته ضرورت لری او دا ځکه چې ښځه خپل خاوند ته د هر چا څخه ډیره نزدې ده او د هر چا څخه زیات د خپل خاوند په اسرارو او رازونو باندې خبره وی او کولاې شی د هر چا څخه په ښه توګی سره خپل خاوند ته طعام او دوا برابره کړی او د هغه صحیح مراقبت و کړی او دغه خبره د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه حدیث څخه اخیستل شویدی چې عایشه رضی الله تعالی عنها روایت کړیدی چې کله رسول الله صلی الله علیه و سلم بیمار شو نو ویی فرمایل( این انا غدا) یعنې زه سبا ته د چا په کور کې ووسیرم. نو دهغه ټولو بیبیانو هغه ته اجازه وکړل چې د بی بی عایشې په کور کې ووسیزی او دا ځکه چې بی بی عایشه رضی الله عنها د هر چا څخه زیات د هغه مراقبت او پالنه کوله او الله تعالی هغې ته زیاته پوهه ورکړی وه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغې سره زیاته مینه وه ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفاته پوری دهغی په کور کې وه او د هغې په کور او د هغې په غیږه کې وفات شو .

))ابو داود ۲۹۱ مشکاة۲۷۹((

د کوروالي حق:

د حیض او نفاس او د بیمارۍ د حالاتو څخه بغیر خاوند حق لری چې هر کله وغواړی د خپلې ښځې سره کوروالې وکړی او ښځه حق نه لری چې هغه د کورالی څخه منع کړی بلکې خاوند د کوروالې څخه منع کول یوه لویه ګناه ده. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی:(( اذا دعا الرجل زوجته لحاجته فلتاته و ان کانت علی التنور))

))ترمذی مشکاة ۲۸۱((

ژباړه: چې کله یو سړی خپله ښځه د کوروالې لپاره وغواړی نو ښځه دی ورته حاضره شی حتی که په تنور باندې هم وی .

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمایلی : (( اذا دعا الرجل امراته الی فراشه فلم تاته فبات غضبان لعنتها الملایکة حتی تصبح))

))متفق علیه مشکاة ص۲۸۰((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کله چې سړی خپله ښځه د کور والی لپاره وغواړي او ښځه يې انکار وکړی او سړی په غصه کې شپه تيره کړی نو ملايک په دغې ښځې باندې تر سبا پوری لعنت وايي.

د طلاق حق:

طلاق په لغت کې د قيد(ولکی) لري کولو ته وايي او په اصطلاح کې د سړی له خوا فی الحال يا وروسته د صحيحی نکاح د عقد له مينځه وړلو ته وايي او طلاق د سړی حق دی چې شريعت هغه ته ورکړيدی تر څو په سختو حالاتو کې چې د خاوند او ښځې ترمينځ علاقات دومره خراب شوی وی چې د حل ټولی لاری مفيدی واقع شوی نه وی ترې استفاده وکړی يعنې طلاق ورکول د مشکل د حل اخری لاره ده خو دا داسې يو عمل دی چې د الله تعالی خوښ نه دی ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( ابغض الحلال الی الله الطلاق))

))ابو داود ص ۲٦۹ مشکاة ص ۲۸۳((

ژباړه: ډير ناخوښ په حلالو کې د الله تعالی په نزد طلاق دی.

د طلاق آداب:

طلاق ورکول يو شمېر اداب لري چې بايد د هغې رعايت وشی او هغه په لاندې ډول دی:

۱ -سړی بايد په هغه وخت کې د ښځې د طلاق اقدام وکړی چې د هغه ښځه د الله او د رسول الله صلی الله عليه و سلم او د خپل خاوند نافرمانی او د شريعت خلاف کارونه وکړی .

۲ -د طلاق ورکولو څخه هدف بايد ښځې ته ضرر رسول نه وی ځکه چې مسلمان ته ضرر رسول حرام او ګناه ده .

۳ -سړی بايد خپلې ښځې ته په يو ځل دري طلاقونه ورنکړی ځکه چې دا طريقه د طلاق د شريعت خلاف دی ځکه چې محمود بن لبيد رضی الله عنه روايت کوی:

))اخبر رسول الله صلی الله عليه و سلم عن رجل طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعا فقام غضبان فقال ايلعب بکتاب الله و انا بين اظهرکم حتی قام رجل فقال يا رسول الله افلا اقتله((

(نسايی مشکاة ۲۸۴ )

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته خبر ورکړی شو چې يو سړی خپلې ښځې ته په يو ځل دري طلاقونه ورکړی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم په غصه ودريده او وی فرمايل : ايا د الله په کتاب لوبی کيږي او زه ستاسې ترمينځ يم تر دی چې يو سړی پاسيدو او د رسول الله صلی الله عليه و سلم څخه يې ددغه سړی د وژلو اجازه وغوښتله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ -طلاق باید د غصی په حالت کې نه وی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایی: (( لا طلاق فی اغلاق))

))ابو داود ۲۸۹ مشکاة ۲۷۲((

ژباړه: د سخت غضب په حالت کې طلاق نشته

۵ -طلاق باید د سنتو په طریقه ورکړی شی.

٦ -طلاق باید په ښایسته الفاظو او ښی طریقې سره ورکړی شی.

د ښځې او خاوند حالت ته په کتنې سره د طلاق حکم

۱ -واجب طلاق : چې کله د ښځې او خاوند مشران ( حکمین) دا نظریه ورکړی چې نور د دوې یو ځاې ژوندون نا ممکن دی یا دا چې ښځه بد کاره وی

۲ -مستحب طلاق : دا په هغه صورت کې چې ښځه د الله تعالی احکام نه پر ځاې کوله لکه لمونځ روژه او نور او خاوند یې له اړباسلو څخه عاجز پاتې شوی وی.

۳ -مباح طلاق : په هغه صورت کې چې ښځه بد اخلاقه وی خو دومره نه چې د خاوند حوصله تنگه کړی او نور صبر ونکړی شی.

۴-مکروه طلاق : چې د طلاق لپاره کوم پیاوړی لامل نه وی او ښځه بد اخلاقه وی خو دومره نه چې د خاوند حوصله تنگه کړی او صبر یې تمام شی.

۵ -حرام طلاق : چې هیڅ شرعي سبب نه وی مثلا د بلی ښځې ښکلا یې خوښه شی او خپله ښځه طلاقه کړی الله تعالی فرمایي : فان أطعنکم فلا تبغوا علیهن سبیلا((

))سورة النساء آیت۳۴((

ژباړه : که چیری ښځې ستاسې فرمانبرداری وکړلی نو تاسې بله لار په دوې مه لټوی یعنې د طلاق لار .

د طلاق ډولونه:

الف : طلاق په اعتبار د لفظ سره په دوه ډوله دی :

۱ -صریح طلاق : او دا هغه دی چې د طلاق څخه پرته بل مفهوم ( په لغت او دود او دستور کې ) ونلری لکه ته طلاق یې ته پر ما حرامه یې نو دا طلاق واقع کیږی او د طلاق ورکوونکی په نیت پوری هیڅ اړه نلری .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ -طلاق په کنایاتو : دا هغه الفاظ دی چې ډاګیزه په طلاق دلالت نه کوی او په دود او دستور کې هم د طلاق لپاره نه وی ټاکل شوی خو د طلاق احتمال لری لکه چې خاوند خپلې ښځې ته ووایی: ( ستا کار ستا په لاس کې شو ، یا پلار کره لاړه شه نو په دغه حالت کې نیت ته اعتبار دی که نیت یې طلاق وی واقع کیږی او کنه نه واقع کیږی.

ب: طلاق په اعتبار د زمانی سره په دری ډوله دي :

۱ -طلاق په حاضر وخت کې : او دا هغه ډول طلاق دی چې د طلاق لفظ د هر شرط او نیتې څخه خالی وی لکه چې ووایی ته طلاقه یې او یا طلاقه می کړلی نو ددغه لفظ په استعمال سره سمدستی طلاق واقع کیږی.

۲ -چې د طلاق د الفاظو نسبت راتلونکی زمانی ته وشی لکه چې ووایې ته سبا ته طلاقه یې نو دا طلاق هغه وخت واقع کیږي چې نسبت یې ورته شوی وی .

۳ -معلق طلاق : او دا هغه دی چې د طلاق الفاظ په یو راتلونکی کار پوری اړوند شی لکه چې ووایی که زه فلانی ځاي ته لاړم نو ته طلاقه یی نو دا طلاق د همدی کار په حاصلیدلو سره واقع کیږي.

ج: طلاق په اعتبار د رجوع او نه رجوع سره په دري ډوله دی:

۱ -طلاق رجعی: او دا هغه طلاق دی چې خاوند کولی شی چې ښځې ته پکې د هغې د عدت له تیریدلو څخه مخکې رجوع وکړی یعنې چې یو طلاق یې ورته ورکړی وی .

په دغه طلاق کې که خاوند ښځې ته یو ساعت وروسته رجوع وکړی نو هم کولی شی او رجوع په خبرو یا کوروالې سره کیږی خو که عدت یې چې دري حیضه دی پوره شی او میړه یې ورته رجوع ونکړی نو بیا دا طلاق باین ګرځی او ښځه بیا د میړه څخه جدا کیږي او که میړه یې و غواړی بیا ورته رجوع وکړی نو په نوی نکاح به ورته رجوع کوی خو دا خبره هم باید په یاد وساتل شی چې د عدت په دوران کې د ښځې نفقه په میړه لازم دی .

د نکاح او رجوع ترمینځ فرق دادی چې په نکاح کې ګواهان شرط وی او په رجوع کې ګواهان حاضرول ضرور نه دی او همدارنګې په نکاح کې د ښځې رضا او خوښه ضرور ده او په رجوع کې ضرور نه ده او په نکاح کې مهر حتمی ده او په رجوع کې نشته .

او نکاح هر وخت روا ده او رجوع یوازی په عدت کې ده او د عدت له تیریدلو څخه وروسته رجوع صحیح نه ده .

۲ -طلاق باین : او دا هغه طلاق دی چې د نوی مهر او نوی نکاح څخه پرته پکې خاوند ښځې ته رجوع نه شی کولی .

۳ -طلاق ثلاثه : یعنې چې یو سړی خپلې ښځې ته په یو ځل دري طلاقه ورکړی او یا به هر طهر کې ورته یو طلاق ورکړی او دري پوره شی نو په دغه طلاق کې خاوند ښځې ته رجوع نه شی کولی او نه ورسره نوی نکاح کولی شی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر کله چې ښځه د بل کس سره نکاح وکړی او د هغه سړی سره يې حقيقی کوروالې صورت ومومی او بيا هغه پخپله طلاقه کړی او يا ورځخه په فسخی جدا شی او يا خاوند يې مړ شی.

د: د طلاق ويش د شرعي صفت ( سنت او بدعت ) له نظره :

ددی لپاره چې په ښځه باندې دعدت موده اوږده نشی ځکه چې دا د ښځې لپاره لوی زيان دی او ددې لپاره چې خاوند او يا حمل ته زيان ونه رسيږی نوشارع امر وکړ چې که تاسې ښځې طلاقول غواړی نوله حيض او نفاس ځخه په پاکوالی کښې يې طلاق ورکړی چې کوروالې مو ورسره پکښې نه وی کړی نو که دا احکام مراعت شی نو ديته سنی طلاق وايی يعنې دسنتو موافق طلاق نو سنی طلاق ديته وايی چې سړی خپلې ښځې ته په داسې پاکوالی کښې طلاق ورکړی چې کور والی يې ورسره نه وی کړی او هم حامله نه وی.

او که يوکس خپلې ښځې ته دحيض او يادنفاس او يا دحمل په حالت کې طلاق ورکړی او يا په داسې پاکوالی ورته طلاق ورکړی چې کوروالې يې ورسره کړی وی نو داقسم طلاق بيا بدعی طلاق بلل کيږي او ناروا دی او ددې طلاق په واقع کيدلو کښې دعلماو اختلاف دی.

په طلاق ثلاثه کې دعلماؤو اختلاف:

که يو سړی خپلې ښځې ته په يو مجلس کښې ووايی چې ته په دريو طلاقو طلاقه يې نو ددغسی طلاق په واقع کيدلو کې دعلماو درې نظريې دی.

١ -جمهور علماء وايی چې په دغسی الفاظو باندې درې طلاقه واقع کيږي.

٢ -او بعضې علماء فرمايي چې دغسی طلاق نه واقع کيږي ځکه چه داسې طلاق دسنتو خلاف دی ځکه چې سنت دادی چې کله سړی غواړی خپله ښځه په دريو طلاقو طلاقه کړی نو هغې ته به په هر پاکی کې چې کور والی يې ورسره نه وی کړی يو يو طلاق ورکړی او په يوځل درې طلاقه ورکول ددغه سنت خلاف او بدعت دی او هر بدعت گمراهی دی لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي (( کل بدعة ضلالة )) يعنې هر بدعت گمراهی ده او دانظر دامام ابن حزم او بعضو نورو علماوو دی.

او بعضې نور علماء فرمايي : چې يوکس خپلې ښځې ته ووايی چې ته په دريو طلاقو طلاقه يې نو پدغه صورت کې يو طلاق واقع کيږي او خاوند يې کولای شی بيرته ورته رجوع وکړی او دغه نظر دجليل القدر صحابی عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه او امام عکرمة او امام محمد بن اسحاق اوامام طاووس او امام عطاء بن ابی رباح او امام عمروبن دينار او امام محمد بن بقی بن مخلد او امام ابراهيم نخعی او امام داوود ظاهری اوامام ابن تيميه او امام ابن قيم رحمهما الله دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه دغه نظر دجليل القدرو صحابوو على ابن ابی طالب او عبدالله بن مسعود او عبدالرحمن بن عوف او زبير بن العوام رضی الله تعالی عنه څخه نقل شويدی او ددغه نظر ترجيح او تاييد لاندې علماوکړيدی:

.1مولانا رشيد احمد گنگوهی په فتاوی رشيديه کښې ص(٥٠٢)

.2علامه ابن عاشور په تفسير التحرير والتنويرکښی ص(٤١٩) ج ٢ )

.3دکتور عبدالكريم زيدان پخپل کتاب المفصل فی احكام المراة کښې ص(٨٨) ج(٢)

.4علامه محمد رشيد رضا په تفسير المنارکښی ص(٣٨٤) ج(٢ )

.5علامه ابن باز په فتاوی اسلامي ه کښې ص(٢٧١) ج(٣ )

.6علامه محمد محمود حجازی په التفسير الواضح کښې ص(٦٧) ج(١)

.7علامه مفسر ابو حيان په تفسير بحرالمحيط کښې ص(٤٦٣) ج(٢ )

.8دکتور وهبه زحيلی په التفسير المنير کښې ص(٣٤١) ج(٢) او الفقه الاسلامي کښې ص(٧١٣)ج(٧ )

.9امام فخر الدين رازی په تفسير کبير کښې ص(٢٦٠) ج(٢ )

.10علامه شيخ شلتوت پخپله فتاوی کښې ص( ٣٠٦ )

.11مولانا محفوظ الرحمن ديوبندی پخپل کتاب مجموعه مقالات علميه کښې ص(٨٩ )

.12دجامع ازهر علماء په کتاب موسوعة الذخاير العظام کښې ص(٤٧٢) ج(١ )

.13علامه شوکانی په نيل الاوطار کښې ص(١٦)ج(٧ )

.14علامه نظام الدين نيشاپوری په تفسير نيشاپوری على هامش اين جريرکښی ص(٣٦) ج(٢ )

.15علامه جريری په الفقه على المذاهب الاربعه کښې ص(٣٤٣) ج(٤ )

.16علامه ابوبکر جصاص

.17علامه ابن القيم په اغاثة اللهفان ص(٢٨٤) ج(١) او زاد المعاد ص(٣٠٦-٢٣٠)ج(٥) او اعلام الموقعين ص(٢٨٩) ج(٤) کښې

.18علامه العصر شيخ القران والحديث امين الله په امين الفتاوی کښې ص(٥٤٨-٥٥٨)

.19علامه ابويزيد عبدالقاهر په التحقيقات کښې ص(٦٣٢-٦٩٣ )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.20علامه ناصر الدين البانی په ارواء الغليل کښې ص(۲۴۴)ج(۷ )

وګوره امين الفتاوی ص(۵۴۸-۵۵۸)

دغه پورته ټول علماء دخپل نظر لپاره لاندې دلايل لری :

اول دليل:

الله تعالی فرمايي : (( الطلاق مرتان ))

((سورة البقرة ايت ۲۲۹))

ژباړه : طلاق دوه کرته دي.

يعنې په يو طهر (پاکوالی) کې به يوطلاق ورکوی او په دويم طهر کې به دويم طلاق ورکوی اوڅوک چې په يوځل درې طلاقه ورکوی نو دا ددغه ايت سره مخالف دی نو څه اعتبار نلری.

نو سنت داده چې کله يو کس غواړی خپله ښځه بيخی له ځانه جداکړی چې هغه دپاکوالی په حالت کې چې کوروالې يې ورسره نه وی کړی طلاقه کړی بيايی پريږدی چې حيض وربانديې راشی او بيا په دويم او دريم پاکوالی کې چې کوروالی يې ورسره نه وی کړی طلاقه کړی.

دوهم دليل:

عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه داسې روايت کړيدی چې (( طلق عبد يزيد ابورکانة امراته ثلاثا فی مجلس واحد فحزن عليها حزنا شديدا قال فسأله رسول الله صلی الله عليه وسلم کيف طلقتها ؟ قال طلقتها ثلاثا قال فی مجلس واحد ؟ قال نعم قال فانما تلک واحدة فارجعها ان شئت قال فرجعها

(رواه ابوداود ص ۲۹۸ واحمد. الفتح الربانی ص(۷۰٦)ج(۱۷ )

ژباړه : عبديزيد خپلې ښځې ته په يومجلس کې درې طلاقه ورکړلو خو د طلاق نه وروسته بيا د هغې په جدايی باندې سخت خفه و نو رسول الله صلی الله عليه و سلم ورڅخه پوښتنه وکړلو چې هغه دی څرنګه طلاقه کړيده نو هغه وويل چې هغې ته مې درې طلاقه ورکړيدی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل چې په يو مجلس کې؟ نو هغه وويل چې هو نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل چې دا يو طلاق دی او که خوښه دی وی نو هغې ته رجوع وکړه نو هغه بيا هغې ته رجوع وکړو .

دريم دليل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام طاووس د خپل پلار نه روایت کړیدی چې ابوالصهباء د عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې (( اتعلم انها کانت الثلاث تجعل واحدة علی عهد النبی صلی الله علیه و سلم و ابی بکر و ثلاثا من امارة عمر قال ابن عباس نعم))

))ابو داود۲۹۹ مسلم جلد ۲ صفحه ۴۷۸ الفتح الربانی جلد ۷ صفحه ۱۷(( ژباړه : ایا تاته معلومه ده چې په یو ځل درې طلاقه ورکول یو طلاق حسابیده د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ابوبکر صدیق په زمانه کې او په دریو اولو کلونو د خلافت د عمر رضی الله عنه کې نو ابن عباس وویل چې هو ماته دا معلومه ده .

څلورم دلیل: عبدالله ابن عباس رضی الله عنه روایت کوی چې (( کان الطلاق علی عهد رسول الله صلی الله علیه و سلم و ابی بکر و سنتین من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب ان الناس قد استعجلو فی امر کانت لهم فیه اناة فلو امضیناه علیهم فامضاه علیهم.

))صحیح مسلم صفحه ۴۷۷ جلد اول الفتح الربانی صفحه ۱ جلد ۷((

ژباړه : درې طلاقه په یو ځل د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې او د ابو بکر رضی الله عنه په زمانه کې او د عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په ابتدایی دوو کالو کې به یو طلاق ګڼل کیده بیا عمر بن الخطاب رضی الله عنه چې کله ولیدل چې خلک د طلاق په موضوع کې زیات تلوار کوی او زیات طلاق ورکوی نو هغه وفرمایل که دا طلاقونه په دوې نافذ کړی شی نو ښه به وی نو په خلکو یې درې طلاقه درې حساب کړلو .

خو د عمر رضی الله عنه دغه فیصله دی لپاره وه چې خلک د زیات طلاق ورکولو څخه منع کړی نو د هغه دغه فیصله یوه سیاسی فیصله وه او په آخر وخت کې عمر رضی الله عنه په دغه فیصله باندې پښیمانه وه ځکه چې هغه داسې فرمایلی دی: (( ما ندمت علی شی ندامتی علی ثلاث ان لا اکون حرمت الطلاق .....))

))اغاثة اللهفان جلد ۱ صفحه ۴۹۴ التحقیقات صفحه ۶۷۸((

ژباړه : زه په درې شیانو پښیمانه یم یو دا چې ما په یو ځل دریو طلاقو باندې ښځه پر خاوند حرام کړی وه .

نو ددې نه معلومه شوه چې عمر فاروق رضی الله عنه په دی فیصله باندې پښیمانتیا کړی او که چیری دا سیاسی فیصله نه وای بلکې په سنت نبوی سره وای نو بیا د پښیمانتیا څه معنی ده ؟ ځکه چې په سنت باندې په عمل کولو باندې خو څوک پښیمانتیا نه ښکاره کوی

همدارنګې مولانا رشید احمد ګنګوهی فرمایلی دی چې د عمر رضی الله عنه دغه فیصله شرعي نه وه بلکې یوه سیاسی فیصله وه ځکه چې عمر رضی الله عنه شارع نه وه .

)فتاوی رشیدیه صفحه ۵۰۲(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه ظلمونه چې زمونږ په ټولنه کې پر ښځو باندې کیږی او د هغو د حراموالی دلایل په قران او سنت کې

څرنګه چې زمونږ په افغانی ټولنه کې پر ښځو باندې رنګارنګ ظلمونه کیږي او بیا دغه ظلمونو ته د غیرت نوم ورکول کیږی او د اسلام مقدس دین ته یې نسبت کیږی چې دا یوه بله عظیمه ګناه ده چې یو عمل په اسلام کې نه وی او څوک یې اسلام ته نسبت وکړی نو ددې لپاره چې مسلمانان دغه ظلمونه وپیژنی ا د هغې څخه ځان وساتی زه غواړم دلته دغه ظلمونه او د هغې د حراموالی او قباحت دلایل د قران او سنت څخه ذکر کړ م چې هغه په لاندې ډول دی :

۱-د انجلی پر زیږیدنې غم او غصه کول :

زمونږ په ټولنه کې یو غیر اسلامي او غیر انسانی عادت دی چې کله د یو چا کره لور وشی نو هغه ډیر زیات خفه او په غصه شی حتی چې بعضې نارینه د انجلۍ مور ته بدر رد شروع کړی او دکور څخه وځی او د الله تعالی په اقدارو اعتراض کوی نو دغه مذکوره کارونه غیر شرعي او حرام او ناروا او لویه ګناه دی الله تعالی ددغه ډول کړووړو سخت تقبیح کړیدی او دایی د کافرانو کار ګڼلی دی لکه چې فرمایي :

))و اذا بشر احدهم بالانثی ظل وجهه مسودا وهو کظیم یتواری من القوم من سوء ما بشر به ایمسکه علی هون ام یدسه فی التراب الاساء ما یحکمون ((

))سورة نحل ایت ۵۸-۵۹((

ژباړه : او کله چې خبر ورکړی شی یو تن ددغود کفارو څخه په پیدا کیدو د لور سره نو ټوله ورځ دده مخ له غمه تور وګرځی حال دا چې دی له قهره ډک وی ( خپلې ښځې ته چې لور دی ولې راوړه؟)

له خپله قومه پټ ګرځی له سببه د ناخوښې د هغه شی څخه چې ده ته په هغه سره خبر ورکړی شوی دی او د حیرانتیا په حال کې د ځانه سره وایی چې ایا د سپکوالی سره دغه لور وساتی او که په خاورو کې یې ژوندی ښخه کړی .

نو ددغه آیت کریمه څخه معلومه شوه چې کافران به د لورګانو په زیږیدنې باندې خفه کیدل او هغه به یې ځانته یو پیغور او عیب ګڼل او داسې کارونه مسلمان نه کوی خو متاسفانه چې په دغه وخت کې زیات مسلمانان د کافرانو دغه عمل ترسره کوی او دا معلومه خبره ده چې څوک د کافرانو غوندې عمل کوی نو د هغوی غوندې به د دوزخ په اور کې سوځیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې رسول الله صلی الله علیه و سلم امر کړیدی خپل امت ته چې تاسو دا نجلی د زیږیدنې په شکرانگی کې یو گډ حلال کړی لکه چې فرمايي : ( عن الجاریه شاة)(

))ابو داود نسايی ترمذی مشکاة صفحه ۳۶۲((

ژباړه : د انجلۍ په عقیقه کې یو گډ حلال کړی.

یعنې گډ حلال کړی ا د هغه غوښه په خپلوانو او گاونډیانو او دوستانو تقسیم کړی.لکن د تاسف خبره داده چې زمونږ په ټولنه کې کله د چا کره هلک پیدا شی نو هوايی ډزی میلمستیاگانې خوشحالیانې او مبارکیانی د حد نه زیات ترسره کیږي خو د انجلۍ د زیږیدنی په صورت کې بیا دا یو هم نه کیږي بلکې غصه او غم د ټولو په مخونو باندې ښکاره کیږي چې دغه کار یو ناروا او غیر انسانی او غیر اسلامي کار دی .

۲ -ښځو ته په میراث کې حق نه ورکول :

زمونږ په ټولنه کې یو بل ظلم پر ښځو باندې دا دی چې بعضې زنانه د میراث د حق نه محروموليشی خاصکر خویندی بلکې په ډیرو کورنیو کې دا رواج دی چې خو یندی نشی کولی خپل د میراث حق وغواړی او که کومه خور خپل د میراث حق د خپل وررور څخه وغواړی نو هغې ته بد رد ویل کیږي او سپکول کیږي آن تر دی چې د هغې سره راشه درشه پریښودل کیږي . نو دغه ډول کارونه ناروا او د شریعت خلاف او لویه گناه ده. بلکې د اسلام مقدس دین د نارینه پشان ښځو ته هم د میراث حق ورکړید ی .

لکه چې الله تعالی فرمايي : (( للرجال نصیب مما ترک الوالدان والاقربون وللنسا نصیب مما ترک الوالدان والاقربون)))) .سورة النساء ایت ۷((

ژباړه : د نارینه و لپاره برخه ده په هغه مال کې چې مور او پلار او نورو خپلوانو پریښی وي او د زنانه و لپاره برخه ده په هغه مال کې چې مور او پلار او نورو خپلوانو پریښی وی.

نو ددغه مبارک آیت څخه دا معلومه شوه چې زنانه د نارینه و غوندې د مور او پلار او نورو خپلوانو په مال کې د میراث حق لری او څوک چې زنانه د میراث د حق څخه محروموی نو هغه د الله تعالی او د قران اوسنت سره دشمنی کوی او ځان د جنت څخه محروموی لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی : (( من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة))

))ابن ماجه بیهقی مشکاة صفحه ۲۲۶۰((

ژباړه : چا چې یو وارث ته د میراث حق ورنه کړو نو الله تعالی به هغه د جنت څخه محروم کړی .

یعنې یو وارث ته که نارینه وی او که زنانه وی خپل حق نه ورکول ځان د جنت څخه محرومول دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شبهه او د هغې جواب :

بعضې خلک پوښتنه یا اعتراض کوی چې ولې اسلام نارینه و ته په میراث کې د ښځې دوه برابره برخه ورکړیدی لکه چې الله تعالی فرمایي :(( للذکر مثل حظ الانثیین ))

))سورة النساء ایت ۱۱((

ژباړه : د یو نارینه لپاره د دوو زنانه و برابر برخه ده په میراث کې.

جواب : ددغې پوښتنې جواب دادی چې په حقیقت کې اسلام په دغه موضوع کښې پوره عدل او انصاف کړیدی او د زنانه و حق یې ندی کم کړی که څه هم په ظاهر کې کم ښکاری او د اسلام د مقدس دین دغه عدل او انصاف په لاندې مثالونه کې ښه جوته کیږی .

اول مثال : که یو سړی مړ شی او د هغه څخه درې زره افغانی او یوه پیغله لور او یو زلمی زوی پاتې شی نو په دغه مال کې دوه زره افغانی یې زوی ته ورکول کیږي او زر افغانی لور ته . او څرنګه چې دا هلک زلمی دی نو واده کوی او فرضا د هغه د ښځې مهر دوه زره افغانی وی نو دغه زلمی دغه دوه زره افغانی چې په میراث کې ورته رسیدلی وه خپلې ښځې ته په مهر کې ورکوی او علاوه ددې نه د ښځې نفقه او جامه او نور ضروریات هم دده په غاړه شی .

او که دا انجلۍ ځوانه وی او واده کیږي نو فرضا هغه د خپل خاوند څخه دوه زره افغانی په مهر کې اخلی او هغه زر افغانی چې هغې ته د پلار په مال کښې رسیدلی وه محفوظ پاتې شی چې دا ټول درې زره افغانی کیږي او علاوه ددینه د هغې نفقه او جامه او نور ضروریات د خاوند په غاړه شی نو اوس دلته مونږ دا قضاوت کولی شو چې دغه ښځه د خپل ورور څخه زیات مال ترلاسه کړیدی او د هغه نه یې ګټه زیاته ده ځکه چې د پلار څخه مال ترلاسه کوی او د میړه څخه.

دویم مثال : که یو سړی مړ شی او دهغه څخه مور او پلار او یوه لور پاتې شی نو د هغه لور په دغه صورت کې د هغه د ټول مال نیمایی برخه اخلی لکه چې الله تعالی فرمایي : (( و ان کانت واحدة فلها النصف ))

))سورة النساء آیت ۱۱((

ژباړه : او که یوه لور وی ( او ورور ور سره نه وی)) نو د هغې لپاره د ټول مال نیمایی برخه ده.

دریم مثال : که یو سړی مړ شی او ده هغه څخه دوه یاله دوو زیاتی لورګانی پاتې وی او ورونه ورسره نه وی نو دغه لورګانی په دغه صورت کې د مړی د ټول مال دوه دریمه برخه اخلی

الله تعالی فرمایي : ( فان کن نساء فوق اثنتین فلهن ثلثا ما ترک )(

))سورة النساء ایت ۷((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : که د مړی په ورثه کې دوه یا د دوو څخه زیات لورګانی وی نو د دوې لپاره د مړی د ټول مال دوه دریمه برخه ده.

څلورم مثال :

که یو سړی مړ شی او د هغه څخه دوه یا له دوو زیات خویندی پاتې شی او ورونه ورسره نه وی نو دغه خویندی په دغه صورت کې د مړی د ټول مال دوه دریمه برخه ۲:۳ اخلی . الله تعالی فرمايي : (( فان کانتا اثنتین فلهما الثلثان مما ترک ))

))سورة المایده ایت ۱۷۲((

ژباړه : که د مړی په ورثه کې دوه یا له دوو څخه زیات خویندی وی نو د هغې لپاره د مړی د مال دوه دریمه برخه ۲:۳ ده .

نو ددغه پورتنی آیتونو څخه معلومه شوه چې د اسلام مقدس دین د میراث په مساله کې پر ښځو هیڅ قسمه ظلم نه دی کړی بلکې د پوره عدل او انصاف څخه یې کار اخیستی دی .

او دا خبره هم پټه نه ده چې د کورنی ټوله نفقه او ضروریات د نارینه په غاړه وی او ښځه ددې شی څخه بیغمه ده بلکې ښځه خپل ټول مال پس انداز کوی .

۳ -په بدو کې د ښځو ورکول :

زمونږ په ټولنه کې پر ښځو باندې یو بل لوی ظلم دا کیږي چې د قاتل لور یا خور د صلحی او دوستی تر نامه لاندې د مقتول وارث ته په زور او جبر سره ودول کیږي یعنې یوه بیګناه پیغله د قاتل په بدل کې د قومی جرګی په فیصله باندې د صلحی تر نامه لاندې د وارث مقتول ته په ظلم او جبر سره ودول کیږي او ددې په ځای چې پر قاتل باندې شرعي سزا تطبیق شی په یوه بیګناه پیغلې باندې یو بل لوی ظلم ترسره کیږی .

الله تعالی فرمايي : (( و لا تزر وازرة وزر اخری ))

))سورة الانعام ایت ۱٦۴((

ژباړه : هیڅ یو نفس د بل نفس ګناه په ځان نشی بارولی .

نو د قاتل د قتل په بدل کې د مقتول ورثه و ته د یوی بیګناه پیغلې ور کول د نکاح او صلحی تر نامه لاندې د انسانیت او اسلامیت خلاف عمل دی او پر ښځه باندې یو لوی ظلم او جنایت دی بلکې دغه جنایت د ښځې د وژلو د جنایت څخه لوی دی او دا ځکه چې کومه ښځه په بدو کې ورکړل شوی وی نو هغه باندې همیشه د خاوند په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کې ظلم کیږي او هغه به همیشه رټل کیږي نو ځکه زیاتو علماء و ویلی دی چې کومه ښځه په بدو کې ورکړل شوی وی د هغې نکاح نه کیږي ځکه چې د هغې خوښه نه وی او په ظلم او جبر سره ودول کیږی .

۴ -په میراث کې دښځو اخیستل:

زمونږه په ټولنه کې پر ښځو باندې بل ظلم دادی چې ښځې په میراث وړل کیږي او هغه داسې چې کله یوه ښځه کونډه شی نو د هغې لیورونه یا ترونه او یا د تره ځامن وایی چې دا کونډه زمونږ میراث ده. او بیا پخپلو کې یې یو تن ته په زور او جبر سره ودوی او یا هغه د بل چا سره د نکاح کولو څخه منع کوی .

نو دغه کار پر ښځه باندې لوی ظلم دی بلکې د اسلام د مقدس دین حکم دادی چې هیڅ یوه ښځه هم په میراث نه وړل کیږي او کونډه ښځه د خپل ځان اختیار لری که واده کوی او که نه او همدارنګې که واده کوی نو د خاوند په انتخاب کې هم اختیار لری او هیڅ څوک هم هغه په نکاح باندې نشی مجبورولی .

الله تعالی فرمایي : (( یا ایهاالذین امنوا لا یحل لکم ان ترثوالنساء کرها))

))سورة النساء آیت ۱۹((

ژباړه : ای مؤمنانو روا نه دی تاسو ته چې ښځې په زور او جبر سره په میراث واخلی .

۵ -پر ښځو پیسې اخیستل (خرڅول) :

زمونږه په ټولنه کې یو بل لوی ظلم پر ښځو دادی چې د هغوې د خوښې او رضا څخه بغیر د پیسو په مقابل کې یو چاته ورکول کیږي او هغه داسې چې کله یو کس غواړی خپله لور یا خور چاته واده کړی نو د زوم څخه د مهر نه بغیر یوه زیاته اندازه مال اخلی چې هغه ته ولور ویل کیږي او کله کله دغه مال دومره زیات وی چې د زوم د وسې څخه پوره نه وی نو هغه مجبور شی چې قرض وکړی یا خپلې ځمکې ګرو کړی او یا غلا او غصب ته اقدام وکړی تر څو د ولور پیسې پوره کړی او خپل خسر ته یې ورکړی او بعضې خلک دغه ولور ته په حیلی سره د مهر نوم ورکوی او بیا یې خپل جیب ته ننه باسی .

نو په لور او خور باندې دغه رنګ د پیسې اخیستل یو لوی ظلم او جنایت دی او دا ځکه چې الله تعالی ښځې ته د نارینه و غوندې دومره لوی کرامت او عظمت ورکړیدی چې د ځمکې ټول شیان یې دوی ته مسخر کړیدي او د ددې قیمت ددغو ټولو کایناتو څخه زیاته ده چې څوک یې نه شی ورکولی بلکې اصیله ښځه په قطعی ډول سره نه خرڅول کیږي ځکه چې دا د انسانی کرامت خلاف عمل دی الله تعالی فرمایي : (( و لقد کرمنا بنی آدم))

))سورة الاسراء آیت ۷۰((

ژباړه : مونږه د ادم اولادی ته کرامت ورکړیدی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا خبره معلومه ده چې ښځه هم د ادم علیه السلام د اولاد څخه ده.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی چې الله تعالی داسې فرمايي دی : (( ثلاثة انا خصمهم یوم القیامه رجل اعطی بی ثم غدر و رجل باع حرا فاکل ثمنه و رجل استاجرا جیرا فاستوفی منه و لم یوفه اجره ))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی جلد ۱٦ صفحه ۱۲۳((

ژباړه : زه به د دریو کسانو سره د قیامت په ورځ جګړه کوم( او هغوې به ملامتوم) هغه کس چې هغه ته زما په نوم امان ورکړی شوی وی او بیا عدر او خیانت وکړی او پخپل عهد او پیمان باندې وفا ونکړی او هغه کس چې یو اصیل انسان خرڅ کړی او بیا دهغه پیسې وخوری او هغه کس چې په مزدور باندې کار وکړی او بیا د هغه پوره مزدوری نه ورکوی .

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې د یو اصیل انسان خرڅول که ښځه وی او که نارینه وی دومره لویه ګناه ده چې الله تعالی به پخپله ددغه عمل کوونکی سره په ورځ د قیامت کې جګړه کوی او هغه به ملامتوی .

٦ -د ښځو اجباري ودول:

زمونږه په افغانی ټولنه کې یو بل لوی ظلم دادی چې که ښځه پیغله وی او که کونډه نو د هغې مور او پلار او یا نور خپلوان هغه د هغې د رضا او اجازې او خوښې څخه بغیر یو چاته ودوی حتی چې اکثر وختونه پیغله یا کونډه خبره نه وی او مور او پلار یا ورور یې چاته ورکړی وی .

نو دغه عمل ناروا او د شریعت او انسانیت خلاف او لویه ګناه ده. بلکې د اسلام مقدس دین پیغله او کونډې ته د میړه د کولو یا نه کولو او د میړه د انتخاب پوره واک او اختیار ورکړیدی. او مور او پلار یا نور خپلوان د پیغلې یا کونډې په انتخاب کې د مداخلت یا ممانعت حق نلری ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی (( لا تنکح الایم حتی تستامر و لا تنکح البکر حتی تستاذن قالوا یا رسول الله و کیف اذنها؟ قال ان تسکت))

))متفق علیه مشکاة صفحه ۲۷۰((

ژباړه : کونډه دی په نکاح نه ورکول کیږي تر څو چې د هغې سره مشوره ونه شی او پیغله دی په نکاح نه ورکول کیږي تر څو چې د هغې څخه اجازه وانه خیستل شی صحابوو پوښتنه وکړه چې یا رسول الله صلی الله علیه و سلم د پیغلې اجازه څرنګه وی نو هغه وفرمایل چې د پیغلې چوپتیا.

یعنې چې پیغلې ته د یو چا سره د نکاح پیغام ورسول شی نو هغه چپه شی نو دا چوپتیا د هغې د خوښې او رضا دلیل او د هغې اجازه ده .

همدا راز رسول الله صلی الله علیه و سلم په بل حدیث کې داسې فرمايي )) :اشیروا علی النساء فی انفسهن ((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ١٦١ جلد ١٦((

ژباړه : د ښځو سره د هغوې د نكاح په باره كې مشوره وكړی.

يعني د هغوې د مشورې نه بغير د هغوې نكاح د چا سره مه تړې .

همدارنگه بی بی عايشه رضی الله عنها روايت كوی چې : (( جاءت فتاة الی النبی صلی الله عليه و سلم فقالت يا رسول الله ان ابی زوجنی من ابن اخيه يرفع بی خسيسته فجعل الامر اليها فقالت قد اجزت ما صنع ابی ولكن اردت ان تعلم النساء ان ليس للاباء من الامر شی ))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ١٦٣ جلد ١٦((

ژباړه : يوه پيغله نبی عليه السلام ته راغله او هغه ته يې وويلې چې زما پلار زما د اجازې نه بغير زه خپل وراره ته ددې لپاره په نكاح كړې يمه چې د هغه قدر زيات كړی نو رسول الله صلی الله هغې پيغلې ته ددغه نكاح د منلو او يا نه منلو واک او اختيار وركړلو نو كله چې دغه پيغله پوهه شوه چې اوس واک زما په لاس كې شوه نو وی ويلی چې پلار می څه كړی هغه زما قبول دی خو دا كار می ددې لپاره وكړو چې ښځې په دی پوهی شی چې پلاران د پيغلو د خاوند په انتخاب كې د مداخلت او ممانعت حق نه لری .

همدارنگه په يو بل حديث كې يوه صحابيه خنساء بنت خذام رضی الله عنا فرمايي چې زه يوه كونډه ښځه وم او زما پلار زما د خوښې نه بغير زه يو چا ته په نكاح كړم نو ما رسول الله صلی الله عليه و سلم ته شكايت وكړو نو رسول الله صلی الله عليه و سلم زما نكاح بيرته فسخ كړو .

)بخاری صفحه ٧٧١ جلد ٢ مشكاة صفحه ٢٧٠(

نو ددغو ټولو احاديثو څخه معلومه شوه چې ښځه د ميړه په كولو او يا نه كولو او همدارنگه د ميړه په انتخاب كې پوره واک او اختيار لری او هيڅوک حق نه لری چې د هغې د خوښې او رضا او اجازې څخه بغير هغه چاته په نكاح كړی ځكه خو زياتره علماء فرمايي چې كومه نكاح د ښځې د خوښې او اجازې څخه بغير شوی وی هغه فسخه ده او نه ترل كيږی .

نو د اسلام مقدس دين چې د ښځو د اجباری نكاح څخه منع كړيدی په دی كې د مسلمانانو د د نيا او اخرت كاميابی او سعادت او خوشحالی موجوده ده او دا ځكه چې كوم واده د انجلۍ او هلک په خوښه نه وی شوی نو د هغوې په مينځ كې به محبت نه وی او هميشه به د هغوې په كور كې د نفرت او لری والی فضا مسلط وی او د دواړو ژوند به هميشه بی خونده وی او په كور كې يې ګډوډی او بی نظمي او خفگان وی چې د هغې تاثير د هغوې په اولادونو باندې هم واقع كيږي او اولادونه يې د سالمی تربيې څخه محروميږی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره هم باید په دغه ځاې کې وشی چې که یو سړی غواړی د یوی ښځې سره نکاح وکړی نو باید هغه پخپلو سترګو ووینی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي : ((اذا خطب احدکم المراة فان استطاع ان ینظر الی ما یدعوه الی نکاحها فلیفعل ))

))ابو داود مشکاة صفحه ۲٦۸((

ژباړه : کله چې په تاسو کې څوک وغواړی په یوه ښځه باندې مرکه وکړی نو کولاې شی چې د هغې هغه ظاهری اندامونه وګوری چې د هغې نکاح ته تشویقوی .

همدارنګې جلیل القدر صحابی مغیرة بن شعبة رضی الله عنه داسې روایت کوی: (( خطبت امراة فقال لی رسول الله صلی الله علیه و سلم هل نظرت الیها؟ قلت لا : قال فانظر الیها فانه احری ان یؤدم بینکما ))

))احمد ، ترمذی،نسایی، ابن ماجه ، دارمی ، مشکوة صفحه ۲٦۹((

ژباړه: ما په یوه ښځه باندې مرکه وکړله نو رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل : آیا تا هغې ته کتلی دی ؟ نو ما وویل چې نه، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل : هغې ته وګوره ځکه چې لیدل د هغې ستاسو ترمینځ د مینې او محبت د پیدا کولو یوه ښه لاره ده .

همدارنګه جلیل القدر صحابی ابو هریرة رضی الله عن داسې روایت کوی : (( جاء رجل الی النبی صلی الله علیه و سلم فقال انی تزوجت امراة من الانصار قال فانظر الیها(

))رواه مسلم مشکاة صفحه ۲٦۸((

ژباړه : یو سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وی ویلی چې زه غواړم یوه انصاری ښځه په نکاح کړم نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې هغه وګوره.

نو ددغو ټولو احادیثو څخه معلومه شوه چې د نکاح په نیت د ښځې لیدل یوه ضروری خبره ده او کوم بدکار نه دی بلکې په راتلونکی کې د ښځې او میړه ترمینځ د مینې او محبت یوه ښه وسیله ده او باید د انجلۍ مور او پلار مرکه کوونکی ته دا زمینه مساعده کړی چې هغه انجلۍ وګوری لیکن متاسفانه چې زمونږه په ټولنه کې د شریعت دغه امر د غیرت تر نامه لا ندی تر خپو لاندې شویدی او خلک یې خیال نه ساتی ځکه خو زمونږ ټولنې ز ژوند ورځ په ورځ خرابیږی .

د یادولو وړ ده چې سړی هم د خپلې ښځې په انتخاب کې واک او اختیار لری او مور او پلار یې د مداخلت یا ممانعت حق نه لری .

۷ -په وړوکتوب کې د ا نجلۍ ودول :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه په ټولنه کې یو بل زیاتی چې د ښحو سره کیږي دادی چې د ماشومې انجلۍ نکاح د ماشوم هلک سره د ماشومتوب په حالت کې تړل کیږي چې دغه عمل په کورنی او ټولنه کې ډیر خراب عواقب لری او په ډیرو حالاتو کې داسې کیږي چې کله دغه هلک او انجلۍ بالغان شی نو یو بل نه خوښوی او یو د بل څخه نفرت کوی او بیا ټول عمر د دوی اړیکی خرابی وی ځکه خو امام شافعی رحمه الله فرمایي دی چې (( یستحب ان لا یزوج الاب والجد البکر حتی تبلغ و یستاذنها لیلا یوقعها فی اسر الزوج و هی کارهة))

))شرح نووی علی صحیح مسلم صفحه ۴۵٦ جلد ۱((

ژباړه : مستحب دی چې پلار او نیکه انجلۍ تر هغې چاته په نکاح نکړی تر څو چې بالغه نه شی او د هغې نه اجازه ونه غواړی او دا ددې لپاره چې دغه انجلۍ په داسې حال کې د میړه سره بند نکړی چې د هغې خوښه به نه وی ( او بیا به یې ټول عمر ژوند خراب وی)

او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي چې امام ابن حزم رحمه الله د امام ابن شبرمه رحمه الله څخه روایت کړیدی چې هغه داسې ویلی : (( ان الاب لا یزوج بنته الصغیرة حتی تبلغ و تأذن))

))نیل الاوطار صفحه ۱۲۰ جلد ٦ ، سنن ابی داود حاشیه ۱ صفحه ۲۸۹((

ژباړه : پلار دی خپله وړه لور تر هغې چاته نه په نکاح کوی تر څو چې بالغه نه شی او اجازه ونکړی .

همدارنګه جلیل القدر صحابی عبدالله بن بریدة رضی الله عنه روایت کړیدی چې ابوبکر الصدیق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه په بی بی فاطمه رضی الله عنها باندې مرکه وکړل نو رسول الله صلی الله علیه و سلم دواړو ته داسې وفرمایل چې : (( انها صغیرة))

))سنن النسایی صفحه ٦۹ جلد ۲ ، باب تزوج المراة مثلها فی السن(

ژباړه : یعنې فاطمه تر اوسه وړه ده .

نو معلومه شوه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغوې غوښتنه د فاطمی رضی الله عنها د وړکتوب له کبله رد کړه. او معلومه شوه چې په ماشومتوب کې انجلۍ نکاح تړل د یو چا سره غوره کار نه دی .

او که د ماشوم هلک او ماشومی انجلۍ نکاح په ماشومتوب کې تړل شوی وی نو د بالغیدو نه وروسته دواړه د نکاح د فسخی یا منلو اختیار لری ځکه چې امام ابن ابی شیبه د قاضی شریح څخه داسې روایت کړیدی چې : (( اذا زوج الرجل ابنه او بنته فالخیار لهما اذا شبا ))

))مصنف ابن ابی شیبه صفحه ۱۴۱ جلد ۴، جدید فقهی مسایل صفحه ۱۲۸ جلد ۲((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : چې کله يو سړی خپل زوې يا لور ته په ماشومتوب کې واده وکړی نو دا دواړه پس د بالغيدو څخه اختيار لری چې دغه نکاح منی او که نه منی.

او که څوک سوال وکړی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم خو د بی بی عايشې رضی الله عنها سره په نهه کلنی کې واده کړی وه نو علماء ددغه سوال څخه دوه جوابونه کوی :

١ -چې د بی بی عايشې رضی الله عنها سره په نهه کلنی کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم واده کول د هغه د خصوصياتو څخه وه لکه چې امام ابن شبرمه فرمايي : (( کان من خصائصه))

))نيل الاوطار صفحه ١٢١ جلد ٦ ، ابو داود صفحه ٢٨٩ حاشيه ١((

ژباړه : د بی بی عايشې رضی الله عنها سره په نهه کلنی کې واده کول د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خصوصياتو څخه وه .

٢ -چې عايشه په صحت او قد او قامت کې د يوی پيغلې انجلۍ غوندې وه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم واده کړه او احتمال شته چې هغه په نهه کلنۍ کې بالغه شوی وه څکه چې امام نووی فرمايي چې امام داودی داسې فرمايلی : (( وکانت عايشة قد شبت شبابا حسنا ))

))شرح نووی علی صحيح مسلم صفحه ٤٥٦ جلد ١((

ژباړه : رسول الله صلی الله عليه و سلم څکه د عايشة رضی الله عنها سره په نهه کلنې کې واده وکړو چې عايشة رضی الله عنها ډيره ښه غټه شوی وه.

٨ -د شغار ( بدل ) نکاح :

زمونږه په ټولنه کې پر ښځو باندې يو بل ظلم دا کيږي چې هغوې يو د بل په بدل کې د دنيا د مال او متاع غوندې ورکول کيږي او بيا که يو طرف د خپلې ښځې سره کوم رويه کوی نو بل طرف همغسی رويه د خپلې ښځې سره کوی نو څرنګه چې زمونږه په ټولنه کې دغه د بدل نکاح ډير زيات رواج دی او ددغه قسم نکاح څخه ډير زيات مشکلات واقع شويدی نو زه غواړم چې دغه موضوع دلته په تفصيل سره وڅيړم تر څو مسلمانانو ته دغه مساله ښه روښانه شي او د هر يو کس قناعت حاصل شي .

د شغار لغوی معنی :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شغار په عربی ژبه کې دوه معنی ګانی لری :

اوله دا چې دغه لفظ د شغر البلد څخه اخیستل شویدی یعنې ښار خالی شویدی او شغار ته هم ځکه شغار وایی چې په بعضې حالاتو کې د مهر څخه هم خالی وی .

او دویمه معنی داده چې لفظ د شغار د شغر الکلب څخه اخیستل شویدی یعنې سپی خپله خپه اوچته کړه او شغار ته هم ځکه شغار وایی چې په دی کې دا شرط لګولی شوی وی چې زما د لور خپی په ته هله اوچتوی چې زه ستا د لور خپی اوچتی کړم یعنې زما د لور سره ته نکاح نه شی کولی تر څو چې ما ستا د لور سره نکاح نه وی کړی. او یا ځکه بدل ته شغار وایی چې بدل کوونکی د هغه سپی غوندې خسیس دی چې د متیازو په وخت کې خپله خپه اوچتوی .

همدارنګې په عربی کې داسې هم ویل کیږي چې (( شغرت المراة )) یعنې ښځه خپله خپه د کوروالې په وخت کې اوچته کړه وګوره :

))الفتح الربانی صفحه ۱۹۵ جلد ۱٦،النهایه صفحه ۴۸۲ جلد ۱، لسان العرب صفحه ۱۴۴ جلد ۷، المغنی صفحه ٦۴۱ جلد ٦،شرح نووی علی صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۱((

د شغار اصطلاحی معنی :

شغار یا د بدل نکاح دی ته ویل کیږي چې یو کس د بل کس د خور یا لور سره نکاح وکړی په دی شرط چې هغه به دده د خور یا لور سره نکاح کوی که مهر یې پکې مقرر کړی وی او که نه وی مقرر کړی .

د بدل نکاح درې صورتونه لری :

اول دا چې یو شخص د بل شخص د خور یا لور سره نکاح وکړی او هغه بل دده د خور یا لور سره نکاح وکړی او مهر پکې مقرر نکړی. او دوهم صورت د بدل دادی چې یو کس د بل کس د خور یا لور سره نکاح وکړی په دی شرط چې هغه به دده د خور یا لور سره نکاح کوی او مهر به دواړو مقرر کړی وی .

نو په دغه داړو صورتونو باندې نکاح کول ناروا دی .

دریم صورت دادی چې یو کس بل ته خور یا لور ورکړی او هغه واده کړی او بیا ډیره موده پس بغیر د شرط لګولو نه هغه بل ووایې چې ستاسو ډیره ښه کورنی ده مونږ هم خپل خور یا لور ستاسو زوی یا وراره یا ورور ته ورکوو. نو دا دریم صورت په اتفاق سره روا دی او دا صورت ته بدل نه ویل کیږي ځکه چې په بدل کې د یوی ښځې نکاح د بلی د نکاح لپاره شرط وی او په دی صورت کې دا شرط نشته نو چې کله د بدل په نکاح کې دا قسم شرط موجود وی نو که مهر پکې تعیین شوی وی او کنه بدل ګڼل کیږي او دغه قسم نکاح ناروا او د شریعت خلاف کار دی او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واقع کې ډېر بد عواقب لری مثلا که یو طرف خپله ښځه په کوم سبب باندې طلاقه کړی نو بل طرف بی موجبه خپله ښځه طلاقوی او که یو طرف خپله ښځه د نا فرمانی یا بد اخلاقی په وجه ووهی نو بل طرف بی موجبه هم دغه کار کوی او داسې کارونه ډېر شویدی .

د بدل د نکاح د نارواوالی دلایل :

د بدل د نکاح د ناروا والی په باره کې ډېر زیات دلیلونه موجود دی خو زه دلته بعضې دلیلونه ذکر کوم چې په لاندې ډول دی :

اول دلیل :

جلیل القدر صحابی عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی : (( لا شغار فی الاسلام ))

))صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ، مسند احمد الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ١٦((

ژباړه : د بدل نکاح په اسلام کې نشته .

امام عبدالرحمان البنا ددغه حدیث په شرح کې داسې فرمایي : (( یشیر الی ان الشغار کان معمولا به فی الجاهلیه فلما جاء الاسلام ابطله ))

))بلوغ الامانی شرح مسند الامام احمد بن حنبل الشیبانی صفحه ۱۹٦ جلد ١٦((

ژباړه : د بدل نکاح د جاهلیت په زمانه کې کیدو خو چې کله د اسلام مقدس دین راغی نو دا قسم نکاح یې باطل وګرځولو .

همدارنګه امام ابن قتیبه رحمه الله فرمایي : (( و کان الشغار من نکاح الجاهلیه ))

))بلوغ الامانی صفحه ۱۹٦ جلد ١٦((

ژباړه: بدل د جاهلیت د زمانی د نکاح ګانو څخه وه .

دوهم دلیل :

جلیل القدر صحابی انس بن مالک رضی الله عنه حدیث چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی : ((لاشغار فی ا الاسلام ))

))نسایی صفحه ۸۵ جلد ۲ و رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ١٦، ترمذی صفحه ۲۱۳ جلد ۱ ((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د بدل نکاح په اسلام کې نشته .

دریم دلیل :

د جلیل القدر صحابی عمران بن حصین رضی الله عنه حدیث چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي : (( لا شغار فی الاسلام ))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ۱٦ ، ترمذی صفحه ۲۱۳ جلد ۱، ابن حبان صفحه ۱۸۰ جلد ٦، و نسایی صفحه ۸۵ جلد ۲((

ژباړه : د بدل نکاح په اسلام کې نشته .

څلورم دلیل :

د جلیل القدر صحابی ابو هریرة رضی الله عنه حدیث چې (( نهی رسول الله صلی الله علیه و سلم عن الشغار و الشغار ان یقول الرجل للرجل زوجنی ابنتک و ازوجک ابنتی و زوجنی اختک و ازوجک اختی))

))صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۱، مسند احمد الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ۱٦ نسایی صفحه ۸۵ جلد ۲((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم د بدل د نکاح څخه منع کړیدی او د بدل نکاح دا دی چې یو کس بل کس ته وایی چې زه به تاته لور یا خور په نکاح کوم په دی شرط چې ته به ماته هم خپله لور یا خور په نکاح کوی .

پنځم دلیل :

د جلیل القدر صحابی جابر بن عبدالله رضی الله عنه حدیث چې (( نهی رسول الله صلی الله علیه و سلم عن الشغار ))

))صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۱، مسند احمد الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ۱٦((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم د بدل د نکاح څخه منع کړیدی .

شپږم دلیل :

د جلیل القدر صحابی عبدالله بن عمر رضی الله عنهما بل حدیث چې (( نهی رسول الله صلی الله علیه و سلم عن الشغار ))

))نسایی صفحه ۸۴ جلد ۱ ، صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۱، الفتح الربانی صفحه ۱۹۵ جلد ۱٦، ترمذی صفحه ۲۱۴ جلد ۱((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم د بدل د نکاح څخه منع کړیدی

اووم دلیل :

امام احمد بن حنبل د عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت کړیدی چې (( ان النبی صلی الله علیه و سلم نهی عن الشغار قال مالک و الشغار ان یقول انکحنی ابنتک و انکحک ابنتی))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۱۹۵ جلد ۱٦((

ژباړه : نبی علیه السلام د شغار څخه منع کړیدی امام مالک فرمايي چې شغار دیته وایی چې یو کس بل کس ته ووایی چې ته مات خپله لور په نکاح راکړه او زه به تاته خپله لور په نکاح درکړم .

نو په دغو ټولو پورتنیو احادیثو کې د بدل د نکاح څخه مطلقا منع شویدی که مهر پکې مقرر شوی وی او که نه وی په دواړو صورتونو کې بدل ناروا دی او د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب د اصولو څخه یو دا دی چې مطلق به په خپل اطلاق جاری کیږي او د ځان نه به څه قید پکې نه لګول کیږي یعنی بعض خلک وایی چې که بدل کې مهر مقرر شوی وی روا دی نو دغه خبره غلطه ده او د ځان نه یو قید زیاتول دی په حدیث کې چې دا لویه ګناه ده

یوه شبهه او د هغې جواب :

بعضې خلک وایی چې که د بدل په نکاح کې مهر مقرر شوی وی نو دا بدل روا دی او دوې ددغې خبرې لپاره د عبدالله بن عمر په هغه حدیث باندې استدلال کوی چې په هغه کې د شغار تعریف داسې شویدی : (( والشغار ان یزوج الرجل الرجل ابنته علی ان یزوجه الآخر ابنته ولیس بینهما صداق))

))صحیح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۲، نسایی صفحه ۸۵ جلد ۲، ابو داود صفحه ۲۸۳ ((

ژباړه : شغار دی ته وایی چې یو سړی بل سړی ته خپله لور په نکاح کړی په دی شرط چې هغه به هم هغه ته خپله لور په نکاح کوی او مهر دواړو نه وی مقرر کړی .

نو دوې وایی چې د کوم بدل څخه منع راغلی دی هغه دادی چې مهر پکې نه وی مقرر شوی او که مهر پکې مقرر شوی وی نو دا بدل بیا روا دیږ

ددغه شبهې څخه لاندې جوابونه کیږي:

اول جواب: چې د شغار دا تعریف چې مهر پکې نه وی مقرر شوی دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تعریف نه دی بلکې امام مسلم او امام ابو داود فرمايي چې دا ددغه حدیث په سند کې یو راوی چې نافع نومیږی او تابعی دی د هغه تعریف دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امام احمد بن حنبل او امام ابو بکر خطیب بغدادی فرمايي چې دا د امام مالک تعریف دی. او د رسول الله صلی الله علیه و سلم تعریف ندی خو مخکې تیر شو چې امام مالک هم پکې د مهر خبره نه ده کړی

))مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۱، ابو داود صفحه ۲۸۳ ، نیل الاوطار صفحه ۱۴۱ جلد ٦((

نو د یو تابعی یا تبع تابعی قول د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مرفوع او مطلقو احادیثو په مقابل کې څه اهمیت نه لری او قابل د قبول نه دی . ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په ذکر شوو احادیثو کې د بدل څخه مطلقا منع کړیدی که مهر پکې وی او که نه وی .

دوهم جواب: چې په حدیث د نافع کې د (( لیس بینهما صداق)) ) یعنې چې مهر یې نه وی ټاکلی ) قید احترازی نه دی یعنې ددې لپاره دا قید نه دی چې گوندی هغه بدل روا دی چې مهر پکې مقرر شوی وی او دا ځکه چې په نورو زیاتو احادیثو کې لکه چې مخکې تیر شو د مطلق بدل څخه منع شوی دی که مهر پکې مقرر شوی او که نه وی .

نو په حدیث د نافع کې صرف د بدل د یو صورت بیان شویدی هغه دا چې مهر پکې نه وی مقرر شوی.

))المحلی لابن حزم صفحه ۵۱۵ جلد ۹((

او ددې خبرې دلیل دادی چې امام ابو داود پخپل سنن کې د نافع رحمه الله د حدیث څخه وروسته متصل د عبدالرحمان بن هرمز اعرج رحمه الله دا حدیث ذکر کړیدی چې (( ان العباس بن عبدالله بن العباس رضی الله عنهم انکح عبدالرحمن بن الحکم ابنته و انکحه عبدالرحمان بن الحکم ابنته و کانا جعلا صداقا فکتب معاوية رضی الله عنه الی مروان یامره بالتفریق بینهما و قال فی کتابه هذا الشغار الذی نهی عنه رسول الله صلی الله علیه و سلم ))

))ابو داود صفحه ۲۸۳، مسند احمد الفتح الربانی صفحه ۱۹٦ جلد ١٦((

ژباړه : عباس بن عبدالله بن عباس په نکاح ورکړه خپله لور عبدالرحمان بن الحکم ته او عبدالرحمان بن الحکم هغه ته خپله لور په نکاح ورکړه او دواړو مهرونه مقرر کړی وه نو دغه خبر د مسلمانانو خلیفه معاوية رضی الله عنه ته ورسیده نو هغه د مدینې منورې والی مروان ته خط ولیږلو او هغه ته یې په دغه خط کې امر کړی وه چې ددغو دواړو نکاح ګانی مات او فسخ کړی او په دغه خط کې یې دا هم لیکلی و چې دا بعینه هغه شغار ( بدل ) دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې منع کړی وه .

نو ددغه حدیث څخه په صراحت معلوم شو چې که په بدل کې مهر مقرر شوی وی نو بیا هم ناروا دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا هم معلومه شو چې د بدل هغه نکاح چې مهر پکې مقرر شوي هم وي د ټولو صحابه کرامو په اتفاق سره ناروا وه ځکه چې هيڅ يو صحابی د معاوية رضی الله عنه خبره رد نکړه بلکې ټولو خاموشی غوره کړل . نو دا د صحابه کرامو اجماع شوه د بدل په نارواوالی باندې .

د بدل د نکاح د ناروا والی په اړه د علماؤ اقوال :

اول قول د امام ابن عبدالبر رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

اجمع العلماء علی ان نکاح الشغار لا يجوز و لکن اختلفوا فی صحته فالجمهور علی البطلان و فی رواية مالک يفسخ قبل الدخول لا بعده و حکاه ابن المنذر عن الاوزاعی و ذهب الحنفية الی صحته و وجوب مهر المثل.((

))فتح الباری صفحه ۲۰۳ جلد ۹ ، بخاری صفحه ۷٦٦ جلد ۲، حاشيه ٦ سنن ابی داود صفحه ۲۸۳ جلد ۱ حاشيه ۲، نيل الاوطار صفحه ۱۴۲ جلد ٦((

ژباړه : علماؤ په دی باندې اتفاق کړيدی چې شغار ( د بدل نکاح) روا نه دی خو دغو علماؤ د بدل د کيدو نه وروسته دهغه په صحت کې اختلاف کړيدی نو د زياتو علماؤ نظر دادی چې د بدل نکاح په هر حالت کې باطل دی او امام مالک رحمه الله په يو روايت کې دا ويلی دی چې د بدل نکاح د کوروالې څخه مخکې فسخ کيدای او د کوروالې څخه وروسته نه شی فسخ کيدای او دغه نظر امام ابن المنذر د امام اوزاعی څخه هم نقل کړيدی او د حنفی علماؤ دا نظر دی چې په اصل کې د بدل نکاح روا نه دی خو که يو کس د بی علمی په وجه بدل کړی وی نو نکاح يې صحيح دی او نه فسخ کيږي او ښځې ته به مهر مثل ورکوی .

دوهم قول امام نووی رحمه الله :

هغه داسې فرمايي : اجمع العلماء علی انه ( الشغار) منهی عنه لکن اختلفو اهل هو نهی يقتضی ابطال النکاح ام لا فعند الشافعی يقتضی ابطاله و حکاه الخطابی عن احمد و اسحق و ابی عبيد و قال مالک يفسخ قبل الدخول و بعده و فی رواية عنه قبله لا بعده و قال جماعة يصح بمهر المثل و هو مذهب ابی حنيفة ((

))شرح نووی علی صحيح مسلم صفحه ۴۵۴ جلد ۲((

ژباړه : علماؤ اتفاق کړيدی چې د بدل نکاح روا نه دی او په شريعت کې ترې منع شويدی لکن هغوي بيا اختلاف لری په دی کې چې که چا د بدل نکاح وکړلو نو آيا نکاح يې کيږي او که نه کيږی؟ نو د امام شافعی او امام احمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اسحق بن راهویه او امام ابو عبید رحمه الله په نزد دغه نکاح د سر نه باطل دی او نه منقعد کیږي او امام مالک فرمايي چې د بدل نکاح دی د کور والی څخه مخکې او وروسته په دواړو صورتونو کې فسخ شی او په یو روایت کې داسې وایی چې د کوروالې څخه مخکې فسخه کیږي او د کوروالې څخه وروسته نه فسخ کیږي او یوه ډله د علماؤ ویلی دی چې په اصل کې د بدل نکاح روا نه دی خو که چا د لا علمی په وجه بدل کړی وه نو بیا دغه نکاح صحیح دی او ښځې ته به مهر مثل ورکوی او دا مذهب د ابو حنیفه رحمه الله دي .

یعنې د امام ابو حنیفه رحمه الله نظر دادی چې د بدل نکاح روا نه دی خو که چا د بې علمی په وجه بدل وکړلو نو بیا نافذ دی او ښځې ته به مهر مثل ورکول کیږی .

دریم قول : د امام شافعی رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

اذا زوج الرجل ابنته اوالمراة یلی امرها من کانت لاخر علی ان صداق کل واحدة منهما بضع الاخری او علی ان ینکحه الاخری سمی مهرا او لم یسم فالنکاح باطل. ( ملخصا )

))فتح الباری صفحه ۲۰۳ جلد ۹ و تحریم نکام الشغار صفحه ۳۱((

ژباړه : کله چې سړی خپله لور یا بله ښځه چې دی د هغې ولې وی بل سړی ته په نکاح ورکړی په دی شرط چې فرج به مهر وی او یا دا شرط ولګوی چې لور یا خور به راکوی او زه به هم لور یا خور درکوم نو که مهر مقرر وی او که نه باطله ده .

څلورم قول د امام خطابی رحمه الله :

هغه داسې فرمایلی :

بل سمی شغارا لانه رفع العقد من اصله فارتفع ا لنکاح و المهر معا و یبین لک ان النهی قد انطوی علی الامرین معا ان البدل ههنا لیس شیئا غیر العقد و لا العقد شیئا غیر البدل فهو اذا فاسد مهر او فاسد عقدا و اذا ابطلته الشریعة فانما افسدته علی الجهة التی کانوا یوقعونه و کانوا یوقعونه مهر او عقدا فوجب ان یفسدا معا الخ

))معالم السنن صفحه ٥٦٠ جلد ۲ و تحریم نکاح اشغار صفحه ۲۹((

ژباړه : د امام خطابی د عبارت مقصد دادی چې دی رد کوی په هغه شخص چې هغه وایی شغار دیته وایی چې مهر پکې نه وی نو امام خطابی فرمايي چې دا خبره صحیح نه ده بلکې شغار ته ځکه شغار وایی چې دا د اصل نه پورته کړی شوی دی یعنې د عقد کول صحیح نه دی بلکې غلط دی او که مهر مقرر وی نو بیا هم غلط دی ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم نهی او منع دواړو شیانو ( عقد او مهر ) ته متوجه دی او شریعت چې بدل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته باطل ویلی دی نو په هغه بدل یې رد ړیدی چې جاهلانو به کاوه او هغوي به بدل کله د مهر سره کاوه او کله بغیر د مهر نه،نو دا ضروری ده چې نکاح د بدل په دواړو صورتونو کې فاسده وی .

پنځم قول د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

هل علة تحریم نکاح الشغار اشتراک فی البضع او تعلیق احد الناکحین علی الاخر او غیر ذلک و لکن الارجح بطلان هذا النکاح بوجهین الاول النصوص الثابتة عن النبی صلی الله علیه و سلم فی نهیه عن نکاح الشغار و لان الصحابة فرقوا بین الزوجین فی نکاح الشغار فتبین بالنصوص و اجماع الصحابة فساد هذا النکاح

))مجموع الفتاوی صفحه ۱۵۹ جلد ۳۲، تحریم نکاح الشغار صفحه ۲۵((

ژباړه : د بدل د نکاح د حراموالی علت که د مهر نشتوالی وی او که د یوی ښځې نکاح د بلی د نکاح لپاره شرط ګرځول وی او که بل څه وی نو راجحه او قوی خبره داده چې د بدل نکاح په هر صورت کې باطل دی او دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په ډیرو احادیثو کې د بدل څخه منع کړیدی او بله دا چې صحابه کرامو د دوو بدلیانو نکاح ګانی فسخ کړیدی ( سره ددې چې مهرونه یې هم ټاکلی وه) نو د بدل د نکاح فساد په احادیثو او په اجماع د صحابوو سره معلومه شوه .

شپږم قول د امام ابن حزم رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

و لا یحل نکاح الشغار و هو ان یتزوج هذا ولیة هذا علی ان یزوجه الاخر و لیته ایضا سواء ذکرا فی کل ذلک صداقا لکل واحدة منهما او لاحداهما دون الاخری او لم یذکر فی شئ من ذلک صداقا کل ذلک سواء یفسخ ابدا ولا نفقة فیه و لا میراث و لا صداق و لا شی من احکام الزوجیة و لا عدة فان کان عالما بالتحریم فعلیه الحد کاملا و لا یلحق به الولد و ان کان جاهلا فلا حد علیه والولد له لاحق و ان کانت هی عالمة بتحریم ذلک فعلیها الحد و ان کانت جاهلة فلا شی علیها ....... ووجد نا خبر ابی هریرة و جابر قد ورد بعموم الشغار و بیان انه الزواج بالزواج و لم یشترط علیه الصلاة و السلام فیهما ذکر صداق و لا السکوت عنه

قال ابو محمد فهذا معاویة بحضرة ا لصحابة لا یعرف له منهم مخالف یفسخ هذا النکاح و ان ذکرا فیه الصداق و یقول انه الذی نهی عنه رسول الله صلی الله علیه و سلم فارتفع الاشکال جمله((

))تحریم نکاح الشغار صفحه ۳۵ المحلی لابن حزم صفحه ۵۱۴-۵۱۳ جلد ۹(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د بدل نکاح روا نه دی او د بدل نکاح دادی چې یو بل ته جینی ورکړی او شرط پکې ولګوی چې زه خور یا لور درکوم په دی شرط چې ته به هم خور یا لور یا وریره راکوی برابره ده که مهر پکې مقرر وی او کنه او که د یوی لپاره وی او د بلی لپاره نه وی په دغو ټولو صورتونو کې به دا نکاح فسخ کولی شی او دا د سره نکاح نه ده او په دغه نکاح سره ښځې ته نه نفقه لازمیږی نه میراث او نه مهر او نه عدت او نه کوم شی نو که چیرته سړی د بدل په حراموالی باندې پوه وی او بیا یې هم بدل کړی وی نو په هغه باندې به حد جاری کیږي او که اولاد یې د بدل په نکاح سره شوی وی نو ددغه ولد نسبت هم ده ته نه کیږي او که چیرته د بدل په حراموالی پوه نه وی او بدل یې کړی وی بیا وربانديې حد نشته او د ولد نسبت ورته کیداشی همدارنګې که بدلی ښځه د بدل د نکاح په حراموالی پوهه وی په هغې به هم شرعي حد جاری کیږي او که پوهه نه وی بیا ورته حد نشته او حدیث د ابی هریرة او جابر رضی الله عنهما کې عموم دی او دا پکې بیان شویدی چې بدل دیته وایی چې د یوی ښځې نکاح د بلی د نکاح لپاره شرط ګرځول شوی وی او رسول الله صلی الله علیه و سلم پکې د مهر مقررول یا نه مقررول نه دی شرط کړی .

ابو محمد ( ابن حزم) وایی چې معاویة رضی الله عنه د ډیرو صحابه کرامو په مخ کې د بدل داسې نکاح فسخ کړی وه چې مهر پکې مقرر شوی هم وه او دا یې ویلی وه چې دا همغه بدل دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې منعه کړی وه .

اوم قول د امام ابن قدامة رحمه الله :

هغه داسې فرمایي :

و اذا زوجه ولیته علی ان یزوجه الاخر ولیته فلا نکاح بینهما و ان سموامع ذلک صداقا ایضا. و هذا النکاح یسمی شغارا فقیل سمی لقبحه تشبیها برفع الکلب رجله لیبول فی القبح یقال شغر الکلب اذا رفع رجله لیبول .

و لا تختلف الروایه عن احمد فی ان نکاح الشغار فاسد قال احمد و روی عن عمر و زید بن ثابت انهما فرقا فیه و هو قول مالک و الشافعی

فهذا النکاح لا یصح لحدیث ابی هریرة و حدیث معاویة رضی الله عنهما و لا نه شرط نکاح احداهما لنکاح الاخری فلم یصح و لانه سلف فی عقد کما لو قال بعتک ثوبی بعشرة علی ان تبیعني ثوبک بعشرین ((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)تحريم نكاح الشغار صفحه ۴۷ المغنی لابن قدامة صفحه ٦۴۱ جلد ٦(

ژباړه : که څیری یو سړی چاته خپله لور یا خور په نکاح ورکړی په دی شرط چې هغه به هم ده ته خپله لور یا خور په نکاح ورکوی نو دغه نکاح نه کیږي اګر که مهر يې هم مقرر کړی وی او دغه نکاح ته د قباحت له وجی نه شغار ویل کیږي ځکه چې په عربی ژبه کې شغار د شغر الکلب څخه اخیستل شویدی یعنې سپی خپله خپه د متیازو لپاره اوچته کړه .

او د امام احمد په نزد دغه نکاح فاسد دی او امام احمد فرمایلی دی چې د عمر او زید بن ثابت رضی الله عنهما څخه روایت شویدی چې دوې د بدل داسې نکاح فسخ کړیدی او دا قول د شافعی او مالک هم دی نو د بدل دغه نکاح چې مهر پکې مقرر وی روا نه دی ځکه چې په دی دلایل ډیر دی یو حدیث د ابوهریرة او بل حدیث د معاویة رضی الله عنهما ( لکه چې مخکې تیر شو) او بله وجه داده چې په بدل کې یو عقد د بل دپاره شرط کړی شوی وی لکه یو سړی ووایی چې دا جامه په لس روپی درکوم په دی شرط چې ته به هم فلانی جامه په شل روپی راکوی او دا قسم بیعه خو جایز نه ده نو دا نکاح د بدل هم جایز نه ده .

اتم قول د امام مالک رحمه الله

ابن القاسم وایی چې :

))سئل مالک عن رجل قال زوجنی ابنتک بخمسین دینارا علی ان ازوجک ابنتی بمایة دینار فکرهه مالک ورآه من وجه الشغار ((

)تحریم نکاح الشغار صفحه ۵۱ بحواله المدونة الکبری من صفحه ۱۵۲ جلد ۴(

ژباړه : د امام مالک څخه پوښتنه وکړی شو چې د یو سړی په باره کې چې یو چاته ووای خپله لور ماته په نکاح راکړه په پنځوس دینارو باندې په دی شرط چې زه به هم تاله په سل دیناره خپله لور درکوم نو امام مالک دغه عمل بد وګڼله ددې وجی نه چې دا شغار دی.

نو معلومه شوه چې که په بدل کې مهر هم مقرر وی نو ناروا دی .

نهم قول : د امام شوکانی رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

و ظاهر ما فی الاحادیث من النهی و النفی ان الشغار باطل و هو غیر مختص بالبنات و الاخوات.

)نیل الاوطار صفحه ۱۴۲ جلد ٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : په احاديثو کې په ښکاره توګه سره د بدل څخه منع شويدی نو دا دليل دی په دی باندې چې بدل حرام او باطل دی او دا د لوڼو او حويندو پوری خاص نه دی پلکه وريری او خورزی باندې بدل کول هم ناروا دی .

لسم قول د امام قفال رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

العلة فی البطلان التعليق و التوقيف فکانه يقول لا ينعقد لک نکاح بنتی حتی ينعقد لی نکاح بنتک (

))فتح الباری صفحه ٢٠٣ جلد ٩، نيل الاوطار ١۴١ جلد ٦(

ژباړه : د بدل نکاح ځکه باطل دی چې په دی کې د يوی ښځې نکاح د بلی د نکاح لپاره شرط ګرځول کيږي برابره ده که مهر پکې مقرر وی او که نه په دواړو صورتونو کې دا باطل دی .

يوولسم قول د حافظ ابن حجر رحمه الله :

هغه داسې فرمايي :

وليس المقتضی للبطلان ترک ذکر الصداق لان النکاح يصح بدون تسمية الصداق ......... و قال القفال : العلة فی البطلان التعليق والتوقيف ....

))فتح الباری صفحه ٢٠٣ جلد ٦(

ژباړه: د مهر نه مقررول د بدل د نکاح د بطلان علت نه دی ځکه چې نکاح بغير د مهر د مقرريدو څخه هم کيږي بلکې د بدل د نکاح د بطلان علت دادی چې په هغه کې د يوی ښځې نکاح د بلی ښځې د نکاح لپاره شرط ګرځول شوی وی.

لکه چې امام قفال ويلی دی : او په دغه موضوع کې امام ابن حزم داسې فرمايي :

فان خطب احدهما الی الاخر فزوجه ثم خطب الاخر اليه فزوجه فذلک جايز مالم يشترط ان يزوج احدهما الاخر فهذا هو الحرام الباطل((

))تحريم نکاح الشغار صفحه ٢۴ ، المحلی صفحه ٥١٦ جلد ٩((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : که يو شخص بل ته د نکاح پيغام ورکړی او هغه ورسره رضا شی او لور يا خور ورکړی بيا څه موده وروسته دا بل ده ته د نکاح پيغام ورکړی او دی لور يا خور ورکړی نو دا صورت روا دی او که شرط يې ولګولو چې زه به يې درکوم په دی شرط چې ته به يې هم راکوی نو بيا حرام او باطل دی .

دولسم قول د امام عطاء بن ابی رباح رحمه الله :

امام عبدالرزاق په خپل کتاب المصنف کې داسې روايت کړيدی :

سئل عطاء عن رجلين انکح کل منهما اخته بان يجهز کل واحد منهما بجهاز يسير لوشاء اخذلها اکثر من ذلک قال لا نهی عن الشغار قلت له و انه قد اصدقها کلاهما قال لا قدا رخص کل واحد منهما علی صاحبه من اجل نفسه

))تحريم نکاح الشغار صفحه ۲۲ بحواله مصنف عبدالرزاق صفحه ۱۸۳ جلد ٦، والمحلی لابن حزم صفحه ٥١٦ جلد ۹((

ژباړه : مطلب ددې عبارت دادی چې عطاء بن ابی رباح سايل ته دا فتوی ورکړه چې که يو بل ته خور ورکړی او د ځان د اسانی لپاره لږلږ مهر مقرر کړی نو دا هم شغار

( بدل ) دی او منع دی او که يو بل ته خور يا لور ورکړی او ووايی چې ته خپلې لور له سامان وکړه او زه به يې خپلې لور له وکړم او يا ته هم مقرر کړه زه به يې هم مقرر کړم نو دا شغار دی او منع دی .

ديارلسم قول د علامة وهبة الزحيلی :

هغه داسې فرمايي :

ان نکاح الشغار باطل عند الجمهور صحيح مکروه تحريما عند الحنفية

))تحريم نکاح الشغار صفحه ۴۲ بحواله الفقه الاسلامي و ادلته صفحه ۱۱٦ جلد ۷((

ژباړه: د جمهورو علماؤ په نزد د شغار ( بدل ) نکاح باطله ده او نه منعقد کيږي او د احنافو په نزد د بدل نکاح روا نه دی.

خو که چا د بی علمی په وجه کړی نو بيا صحيح دی سره د کراهت تحريمی نه.

څوارلسم قول د حرمينو د علماؤ قول :

هغوی د يو سوال په جواب کې داسې ويلی دی :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکاح الشغار من جملة الانكحة المنهى عنها و سماه بعض الناس نكاح البدل و هو ان يقول الرجل للرجل زوجنى بنتک و أزوجک ابنتى و زوجنى اختک و ازوجک اختى سميا صداقا او لم يسميا هذا هو نكاح الشغار و قد صح عن الرسول صلى الله عليه و سلم النهى عنه من حديث ابن عمر و من حديث ابى هريرة و من حديث معاوية رضى الله عنه و فى احاديث اخرى

))تحريم نكاح الشغار صفحه ۳۲ مختصرا((

ژباړه : د شغار نکاح د هغه نکاح ګانو څخه دی چې په شریعت کې د هغې څخه منع شویدی او بعض خلک ورته د بدل نکاح وایی او هغه داده چې یو سړی بل ته وایی چې زه تاته لور یا خور په نکاح درکوم په دی شرط چې ته به هم ماته لور یا خور په نکاح راکوی که مهر یې مقرر کړی وی او که نه په دواړو صورتونو کې ناروا دی او په صحیحو احادیثو کې ترې منع شویدی چې د هغې له جملی څخه حدیث د ابو هریرة او حدیث د ابن عمر او حدیث د معاویة رضی الله عنهم دی ( لکه چې مخکې وویل شو)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه قاعده :

دلته يوه قاعده ذكر كوو او هغه داده چې يو مساله د نفاذ وى او بله مساله د جواز وى نو حنفي علماء وايي چې ابتداء بدل كول روا نه دى ليكن كه چا وكړو نو بيا به دا نكاح نافذه وى سره ددې نه چې دى گنهگار وى لكه چې د فقهى په كتابونو كې ويل شويدى كه چا په شرابو يا خنزير باندې نكاح وكړه نو نكاح صحيح ده او مهر مثل واجب دى نو هر مسلمان دا پيژنى چې ابتداء په شرابو او خنزير باندې نكاح كول گناه ده ليكن فقهاء وايي كه چيرته يو سړى جاهل شو او داسې يې وكړو نو نكاح به يې صحيح وى او مهر مثل به پرى واجب وى اگر كه په دى مساله كې هم اختلاف شته.

))تحريم نكاح الشغار صفحه ۴۴((

۹ � لورگانو ته توجه او اهتمام نه كول :

زمونږ په ټولنه كې پر ښځو باندې يو بل ظلم دادى چې د لورگانو نفقه او جامه او تعليم او تربيې ته دومره پاملرنه نه كيږي لكه څنگه چې ځامنو ته كيږي لهذا د غسى عمل پر لورگانو يو ظلم دى او د اسلام د مقدس دين د احكامو خلاف دى ځكه چې د اسلام مقدس دين امر كړيدى چې تاسو د خپلو اولادونو ترمينځ عدالت وكړى لكه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي ( اعدلوا بين ابنايكم اعدلوا بين ابنايكم اعدلوا بين ابنايكم )

)نسايى صفحه ۱۳٦ جلد ۲(

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه و سلم په دغه حديث كې د تاكيد لپاره دري ځلى وويلى چې تاسو د خپلو اولادونو ترمينځ عدالت وكړى.

او په بل حديث كې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي : (( اتقو الله واعدلوا فى اولادكم ))

))بخارى صفحه ۳۵۲ جلد ۲، مسلم صفحه ۳۲ جلد ۲((

ژباړه: د الله نه وويريږى او د خپلو اولادونو ترمينځ عدالت وكړى او په بل حديث كې داسې فرمايي : (( ان لبنيک عليک من الحق ان تعدل بينهم ))

)بخارى و مسلم و احمد(

ژباړه: پر تا باندې ستا د اولاد د حقوقو څخه دادى چې د هغوې ترمينځ عدالت وكړى

او په بل حديث كې داسې فرمايي : (( من كانت له انثى فلم يادها و لم يهنها و لم يؤثر ولده عليها ( يعنې الذكور)ادخله الله الجنة))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))ابو داود مشکاة صفحه ۳۴۲((

ژباړه: چا چې خپله لور ته ضرر ونه رسولو او نه یې د هغې سپکاوی وکړو او نه یې خپلو ځامنو ته په هغې باندې غوره والی ورکړو نو الله تعالی به دا شخص جنت ته داخلوی او په بل حدیث کې عبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی چې تاسو په بخشش کې د خپلو اولادونو ترمینځ عدالت کوی او که د عدالت خبره نه وای نو ما به زنانه و ته په بخشش کې ړومبی والی ورکړی وه

))طبرانی و بیهقی((

۱۰ -د ښځې د مهر په ورکولو کې ځنډ او یا د هغه غصبول :

زمونږ په ټولنه کې یو بل ظلم پر ښځو باندې دادی چې په ډیرو حالاتو کې د هغوې لپاره مؤجل مهر ( چې په راتلونکی وخت کې ورکول کیږی) ټاکل کیږي او دغه مهر کله منقول (چې د یو ځاې څخه بل ځاې ته نقل کیدای شی ) وی او کله غیر منقول ( چې د یو ځاې څخه بل ځاې ته نه شی نقل کیدای ( لکه ځمکه کور و غیره ) وی او بیا کلونه کلونه تیر شی خو میړه یې د هغې مهر نه ورکوی نو دغه عمل د شریعت خلاف دی او پر ښځه باندې یو ظلم دی ځکه چې مهر د ښځې حق دی چې لازم دی پر میړه باندې او باید د هغې حق هغې ته زر وسپارل شی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی : (( اعط کل ذی حق حقه((

))بخاری ((

ژباړه: هر حقدار ته خپل حق ورسپاره

حتی چې بعضو علماؤ دا هم ویلی دی که چیرته سړی خپلې ښځې ته مهر نه وی ورکړی نو ښځه یې کولی شی چې هغه د کوروالې څخه منع کړی د مهر تر اداء کولو پوری

))فقه السنة صفحه ۲۹۲ جلد ۲((

نو د ښځې مهر په میړه باندې یو قرض دی او باید هغه دغه قرض زر تر زره ادا کړی او دا ځکه چې که دغه سړی په داسې حال کې مړ شی چې د هغه د ښځې مهر پر هغه باندې قرض وی نو جنت ته نه شی داخلیدلی ځکه چې په حدیث کې راغلی دی چې د قیامت په ورځ به قرضدار د خپل قرض په وجه جنت ته د داخلیدو څخه منع کیږی او داسې یې فرمایلی دی چې (( نفس المؤمن معلقة ماکان علیه دین ))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۹۱ جلد ۱۵((

ترجمه : یعنی روح د مؤمن د جنت د داخلیدو څخه بند وی تر څو چې ورباندې قرض وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته ښځه کولی شی چې خپل ټول مهر او یا یوه برخه د هغه خپل میړه ته پخپله خوښه وروبخښی ځکه چې الله تعالی فرمايي : (( فان طبن لكم عن شی منه نفسا فكلوه هنيئا مريئا ))

))سورة النساء ايت ۴((

ژباړه: که چیرته ستاسې ښځې په خوشحالی سره د خپل مهر څه برخه تاسې ته وروبښی نو تاسو هغه وخوری په مزی سره بی نقصانه.

۱۱ -د دوو عاشقانو ( پيغله او زلمی ) په شرعي نکاح سره نه یو ځای کول:

زمونږ په ټولنه کې یو بل ظلم دادی چې د غیرت تر نامه لاندې هغه پیغله او زلمی چې یو پر بل باندې عاشقان وی او سره مینه لری نه پریښودل کیږي چې په شرعي نکاح سره یو ځاې کړی شی او دغه بی ځاې ه غیرت په ډیرو حالاتو کې د زلمی یا د پیغلې د ځان وژنې او یا دوو کورنیو ترمینځ د قتل او جګړی او یا د زلمی او پیغلې د تښتیدلو سبب کیږي او یوه عزتمنده کورنی پکې سپک او بدنامه شي نو د داسې قسم اعمالو مسؤولیت به بیا د پیغلې او د زلمی د مور او پلار په غاړه وی .

لهذا د غیرت تر نامه لاندې د دوو عاشقانو ( زلمی او پیغلی) نه یو ځاې کول په نکاح شرعي سره یو ظلم دی او باید دواړه په شرعي نکاح سره یو ځاې کړای شی . ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی : (لم یرللمتحابین مثل النكاح))) حاکم،بیهقی،ابن ماجه،مشكاة ۲٦٨((

ژباړه : دوو میینانو( عاشقانو) ته د نکاح نه بل ښه علاج نشته.

یعنې دوو عاشقانو ( پیغله او زلمی) د مشکل د حل لپاره د نکاح نه بل ښه علاج نشته .

د مشكاة محشي ددغه حدیث لاندې داسې فرمایی : (( و قيل اذا احب رجل امراة و عشق بها فالتعشيق الذ و ازيد في الالفة والالتيام))

))مشكاة صفحه ۲٦٨ حاشيه ۲((

ژباړه:بعضې علماؤ ویلی دی چې څوك یوه ښځه په خوښه او عاشقي سره واده کړي نو دغه واده ډیر خوندور او محبت زیاتونکي وي .

دغه دی داسلام دمقدس دین کمال اوشمولیت چې څوارلس سوه کاله مخکې یې ددوعاشقانو (پیغله او زلمی ) دمشکل دحل یوه غوره لاره بیان کړیدی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جليل القدر صحابی عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې دمغيث په نامه يو غلام وه او هغه ديوی وينځې سره چې بريره نوميده نکاح کړی وه حو چې کله بريره خپل مولی ازاد ه کړه نو دمغيث نه يې ځان جداکړله خو مغيث په بريره باندې دومره زيات عاشق وه چې دمدينې منوری په کوڅو کې به دبريری پسی روان وه او دومره به يې ورپسی ژړل چې ګيره به يې لمده شوه.

رسول الله صلی الله عليه و سلم چې دمغيث داحال ولېد نو عباس رضی الله تعالی عنه ته يې وويل چې آيا ته دمغيث دغې مينې ته تعجب نه کوی ؟ بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم دمغيث لپاره بريری ته سفارش وکړلو او ورته يې وويل چې که ته بيا مغيث سره نکاح وکړی نو ښه به وی .

)بخاری ص(۷۹۰) ج(۲)مشکاة ص(۲۷۶ (

ددغه مبارک حديث څخه دوه مسالې معلومی شوی يوه داچه هغه مينه چې په هغه کې دعفت او پاکی لحاظ شوی وی روا دی او څه عيب ندی او داځکه چې عشق او مينه دزړه کاردی او دانسان داختيار نه بهر دی همدا راز کومه مينه چې په شرعي نکاح سره ديوځاې والی او عفت او صالح اولاد سبب شی يو ښه کار دی او داجر او ثواب دلاسته راوړلو يوه ښه وسيله ده او په ډيرو حالاتو کې ليدل شوی دی چې چا په عاشقی سره واده کړی وی نو دهغوی ژوند به ښه او دخوشحالی او نيکبختی نه ډک تيرېږی.

او دوهمه مساله داچه رسول الله صلی الله عليه و سلم دعاشق او معشوق د يوځاې کيدولپاره سفارش وکړلو نو معلومه شوه چې ددوعاشقانو يو ځاې کول په شرعي نکاح سره يومشروع او ښه کار او داجر اوثواب دلاسته راوړلو يوه ښه وسيله ده ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي (( اشفعوا فلتوجروا ))

))متفق عليه مسلم ص۳۳۰ج۲((

ژباړه : دخير په کار کې سفارش وکړی تاسې ته به اجر درکړل شی.

او الله تعالی فرمايي (( من يشفع شفاعة حسنة يکن له نصيب منها ))

))سورة النساء ايت ۸۵((

ژباړه : چا چې په نيک کار کې سفارش وکړلو نو هغه ته به ددغه سفارش په وجه اجر ورکړی شي

همدارنګه عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې يو سړی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وويل چې زه په کور يوه يتيمه پيغله لرم او هغه دوه کسان غواړی چې يو يې مالدار دی او بل يې فقير دی نو څمونږه زړه دی چې دغه مالدار سړی ته يې په نکاح کړو خو ددغې پيغلې مينه دفقير سړی سره دی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل (( ليس للمتحابين مثل النکاح ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))روضة المحبين لابن القيم صفحه ۳۸۲((

ژباړه : ددوو مینه والو (زلمی او پیغلې ) لپاره دنکاح څخه ښه علاج نشته.

او په بل روایت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمایي (( من افضل الشفاعة ان یشفع بین الاثنین فی النكاح ))

))ابن ماجه ص(۱۴۲ ((

ژباړه : غوره سفارش دا دی چې دووکسانو په شرعي نکاح سره دیو ځاي کولو لپاره وی.

دیادولو وړه خبره ده چې دواړه عاشقان باید دشریعت دحدودو څخه تجاوز ونکړی او دواړه باید دعفت او پاک لمنی رعایت وکړی او دغیر شرعي کارونو څخه دی ځانونه وساتی او الله تعالی ته باید دواړه سوال او زاری وکړی چې دوې په شرعي نکاح سره یوځاي کړی.

او که چیرته یو ددې دواړو عاشقانو څخه سره درعایت او عفت نه دشدت عشق په وجه مړ شی نو هغه ته دشهادت درجه ورکول کیږی ځکه چې عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایي ((من عشق وعف و کتم فمات فهو شهید ))

)الجواب الکا فی لابن القیم ص(۳۴۰ (

ژباړه : څوک چې عاشق وی او پخپل عشق یې د پاک لمنی خیال ساتلی وی او خپل عشق یې پټ کړی وی او بیا مړ شی نو هغه شهید دی .

۱۲ -دښځو وهل او هغوی ته سخت او بد الفاظ کارول:

مخکې وویل شو چې که ښځه دخپل خاوند نافرمانی کوله نو الله تعالی دهغی داصلاح لپاره څلور مرحله وار علاجونه په سورة النساء کښې ښودلی دی اوله مرحله داده چې خاوند دی هغه ته نصیحت وکړی او که په نصیحت اصلاح نشوه بیا دوهمه مرحله داده چې دهغی نه دی بستره جدا کړی او که پدی هم اصلاح نشوه بیا دریمه مرحله داده چې هغه دی دادب په نیت معمولی غوندې ووهی یعنې چې سخت نه وی او دهغی پوستکی او هډوکی ته څه نقصان ونه رسیږی لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ددغې دریمی مرحلی په باره کې داسې فرمایي (( واضربوهن ضربا غیر مبرح))

))ترمذی ص(۲۲۰)ج(۱ (

ژباړه : تاسې (په دریمه مرحله کې ) خپلې نافرمانی ښځې داسې ووهی چې سخت نه وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې چې د هغې پوستكې او هډوكې زخمي نكړې او دادب په نيت وى نه دانتقام په نيت.

نو دنا فرمانى دذكر شوى صورت نه بغير د ښځې وهل ناروا او ظلم دى ليكن متاسفانه چې ځمونږه په ټولنه كې ښځې په معمولې خبرو باندې وهل او ټكول كيږي او هغوې ته بد او سخت الفاظ استعماليږى .

الله تعالى فرمايي (( وعاشروهن بالمعروف ))

))سورة النساء ايت ١٩ ((

ژباړه : او تاسو ژوندكوى دښځو سره په ښه طريقې سره ((

او رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي :( خياركم خياركم لنسائهم)

)ترمذى ص(٢١٩) ج(١ ) مشكاةص(٢٨٢ (

ژباړه : په تاسو كې غوره خلک هغه دى چې دخپلو ښځو سره غوره معامله كوى.

او په بل حديث كې رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې فرمايي : (ولاتضربوهن ولاتقبحوهن )

))ابو داود ص(٢٩٢ ((

ژباړه : خپلې ښځې مه وهى او مه ورته بد الفاظ استعمال كړى.

او په بل حديث كې داسې فرمايي : ( ولاتضرب الوجه ولا تقبح)

))ابو داود ص(٢٩٢ (

ژباړه : دنافرمانى په صورت كې ښځې په مخ باندې مه وهى او مه ورته بدى خبرې وكړى.

او په پل حديث كې داسې فرمايي ( لاتضربو اماء الله )(

))ابو داود صفحه ٢٩٢((

ژباړه : ښځې مه وهى

او په بل حديث كښى داسې فرمايي : (( لقد اطاف بآل محمد نساء يشكون ازواجهن ليس اولئك بخياركم ))

ابو داوود ص(٢٩٢) مشكاة ص(٢٨٢ (

ژباړه : دمحمد صلى الله عليه و سلم كورنى (بيبيانو ) ته ډيرې ښځې دخپلو خاوندانو دوهلو څخه شكايت كړيدى دغه كسان چې خپلې ښځې وهى په تاسو كې غوره خلک ندى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل حدیث کې داسې فرمايي (( علام يضرب احدکم امراته ولعله ان يضاجعها من اخر النهار ))

))متفق علیه مشکاة ص(۲۸۰((

ژباړه : ولې په تاسو کښې يو کس خپله ښځه وهی او کيدای شی چې دورځې په اخر کې دهغی سره کوروالې وکړی او په بل حديث کې داسې فرمايي:

))ولاتضربن طعينتک ضربک اميتک((

))ابو داود مشکاة ص( ۲۸۲((

ژباړه : د خپلې وينځې غوندې خپله ښځه هيڅکله مه وهه.

او عايشة رضی الله تعالی عنه داسې فرمايي (( ماضرب رسول الله صلی الله علیه و سلم شیا قط بیده ولا امراة ولا خادما الا ان يجاهد فی سبيل الله ))

))شمايل ترمذی ص(۲۳- ۶۳۹۸ ) ابن ماجه ص(۱۴۲) ورواه مسلم ايضاً((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم دجهاد نه بغير په هيچا باندې دلاس ګوزار نه دی کړی نه په ښځه او نه په خادم باندې.

او الله تعالی فرمايي : (( ولاتلمزوا أنفسکم ولاتنابزو بالالقاب ))

))سورةالحجرات ايت ۱۱((

ژباړه : يو دبل عيبونه مه لټوی او يو بل ته بدنومونه او لقبونه مه استعمالوی .

۱۳ � ښځې سره دخفګان په صورت کې دکورنه وتل او يا د درې ورځې نه زيات خبرې نه کول:

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دادی چې د ښځې د يوی معمولی خبرې يا يو معمولی غلطی په وجه خاوند د هغې سره تر ډيرې مودې خبرې نه کوی او بعضې خو کور هم ورته پريږدی نو دغه عمل يو ناروا او د شريعت خلاف عمل دی بلکې هيڅ مسلمان ته روا نه دی چې د بل مسلمان سره د دريو ورځو نه زيات خبرې پريږدی او همدارنګې سړی ته روا نه دی چې د ښځې سره د خفګان په وخت کې کور بريږدی .

رسول صلی الله علیه و سلم فرمايي : (( لا يحل لرجل ان يهجر اخاه فوق ثلاث ليال))

))بخاری صفحه ۸۹۷ جلد ۲((

ژباړه: هيڅ مسلمان ته روا نه دی چې د بل مسلمان سره د دريو ورځو نه زيات خبرې پريږدی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( و لا تهجر الا فی البيت (

))ابو داود صفحه ۲۹۱((

ژباړه: د خفګان په وخت کې خپلې ښځې سره خبرې او کوروالې مه پرېږده مګر په داخل د کور کې يعنې د خفګان په وخت کې کور مه پرېږده .

۱۴ -د کور څخه بی ضرورته د خاوند بهر اوسيدل :

زمونږه په ټولنه کې پر ښځو باندې يو ظلم دادی چې ډير سړی داسې دی چې خپل وخت بې ضرورته د خپل کور نه بهر د خپلې ښځې او ماشومانو نه لرې تيروی چې دغه کار دده په کور کې د ډيرو مشکلاتو د پيدا کيدو سبب ګرځی او دده په کور کې يوه ګډوډی او بی نظمی مينځ ته راځی چې دا بيا دده د ښځې او اولادونو په اخلاق او تربيه باندې خراب تاثير اچوی .

نو اصل او غوره دادی چې سړی بايد په خپل کور کې موجود اوسی او د هغه ښځه او ماشومان د هغه تر مستقيمې څارنې لاندې وی او بې ضرورته د کور نه بهر اوسيدل په اسلامې شريعت کې روا نه دی ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلی : (( اذا قضی احدکم نهمته من سفره فليعجل الی اهله))

))رواه مسلم صفحه ۱۴۴ جلد ۲((

ژباړه : کله چې په تاسو کې کوم يو کس په سفر کې خپل حاجت پوره کړی نو زر دی ځان خپل کور ته وروسوی .

۱۵ -د ښځو تحقيرول ( سپکاوی) :

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دادی چې بعضې نارينه ښځو ته په سپک نظر ګوری او د هغوې کار او خبرو ته هيڅ اهميت نه ورکوی او نه د هغوې احترام کوی نو دا رنګی اعمال په اسلام کې ناروا دی ځکه چې ښځه هم د احترام او اکرام حقداره ده او بايد د هغې احترام وشی او د هغې سپکاوی دی ونشی ځکه چې د مسلمان سپکاوی که ښځه وی او که نارينه يوه لويه ګناه ده لکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلی : (( بحسب امری من الشر ان يحقر اخاه المسلم ))

))مسلم صفحه ۳۱۷ جلد ۲، رواه الترمذی صفحه ۱۴ جلد ۲، مشکاة صفحه ۴۲۲ جلد ۲((

ژباړه : يو شخص ته دا لوی شر دی چې خپل مسلمان ورور ( يا خور ) ته په سپک نظر وګوری او يا د هغه سپکاوی وکړی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( المسلم اخو المسلم لا يظلمه و لا يخذله و لايحقره))

))مسلم صفحه ۳۱۷ جلد ۲((

ژباړه : مسلمان د مسلمان ورور دی پر هغه به ظلم نکوی او د مظلوميت په وخت کې به د هغه مرسته نه پريږدی او نه به د هغه سپکاوی کوی .

علماء فرمايي چې دغه حديث او ددې په شان نور حديثونه ښځو ته هم شامل دی يعنې مسلمان سړی د مسلمانی ښځې دينی ورور دی او هغه يې دينی خور ده او خور او ورور ته روا نه دی چې يو پر بل ظلم وکړی او يا يو بل ته په سپک نظر وګوری .

نو سړی ته پکار دی چې د خپلې ښځې احترام وکړی او د هر هغه کار او خبرې څخه چې د هغې ښځه ورباندې خفه کيږي او د شريعت د چوکاټ څخه بهر وی بايد ځان وساتی او دا ځکه چې ښځې هم د حرمت او کرامت والا انسانان دی او بايد د هغوې سره د مزدور په حيث معامله ونشی او نه دی د جنسی رغبت د يوی وسيلی په څير ورته وکتلی شی .

او هغه سړی نا اهله او نا پوهه او ګهنګار دی چې د ښځو سره بد چلند کوی او پر هغوې مسخری کوی او يا د هغوې سپکاوی کوی الله تعالی فرمايي : ((ولقد کرمنا بنی آدم ))

))سورة الاسراء ايت ۱۷((

ژباړه : مونږ د ادم اولاد ته کرامت ورکړيدی .

او دا معلومه خبره ده چې ښځې هم د آدم د اولادونو څخه دی نو الله تعالی چې کله يو چاته کرامت او عزت وربښلی وی او يو کس راځی د هغې سپکاوی کوی نو دا به څومره لويه ګناه وی. ځکه خو حديث کې داسې راځی : (( ما اکرمهن الا کريم ولا اهانهن الا لئيم))

))ابن ماجه ابن عساکر ، منهاج العشرة الزوجية صفحه ٦((

ژباړه: عزتمند سړی د ښځو عزت کوی او رذيلان د ښځو سپکاوی کوی .

همدارنګې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي : (( و لا تضرب الوجه و لاتقبح))

))ابو داود مشکاة صفحه ۲۸۱ ((

ژباړه : د نافرمانی په صورت کې ښځه په مخ مه وهه او هغې ته سپکې خبرې مه کوه .

١٦ -د کور په داخلی کارونو کې د ښځو سره مرسته نه کول :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه په ټولنه کې یو غلط رواج دی چې نارینه د زنانو وو سره د کور په کارونو کې هیڅ قسمه مرسته نه کوی بلکې دغه کار دوې عیب او بد ګڼی .

نو دغه رواج د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنتو خلاف دی او دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د خپلو بیبیانو سره د کور په کارونو کې پوره مرسته کوله لکه چې عایشة رضی الله عنها روایت کوی : (( کان رسول الله صلی الله علیه و سلم فی مهنة اهله فاذا حضرت الصلاة قام الی الصلاة))

))صحیح بخاری صفحه ۸۰۸ جلد ۲((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم به پخپل کور کې د خپلو بیبیانو خدمت کاوه خو جی د لمانځه وخت به داخل شو نو بیا به د لمانځه د اداء کولو لپاره مسجد ته لاړلو .

او علی ابن ابی طالب رضی الله عنه داسې روایت کوی : (( کان رسول الله صلی الله علیه و سلم اذا آوی الی منزله جزء دخوله ثلاثه اجزاء جزءالله و جزءا لاهله و جزء لنفسه ))

))شمایل ترمذی صفحه ۲۲ جلد ۶۳۸((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم به چې کله خپل کور ته داخل شو نو خپل وخت به یې درې برخې کړی یوه برخه یې د الله تعالی د عبادت لپاره او بله برخه یې د خپلې کورنی د خدمت لپاره او بله برخه یې د ځان د خدمت لپاره .

او عایشه رضی الله عنها په بل حدیث کې داسې فرمایي : (( کان رسول الله صلی الله علیه و سلم بشرا من البشر یفلی ثوبه و یحلب شاته و یخدم نفسه ))

))شمایل ترمذی صفحه ۲۳ جلد ۶۳۹((

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم به پخپل کور کې د یو عام بشر په څیر ژوند کاوه خپلې جامې به یې پخپله پاکوله او خپله میږه به یې پخپله لشله او د خپل ځان خدمت به یې پخپله کوله .

۱۷ -د ښځو سره مشوره نه کول :

زمونږه په ټولنه کې یو بل ظلم پر ښځو باندې دا کیږي چې زیاتره نارینه د زنانه و سره په هیڅ یو کار کې مشوره نه کوی بلکې د زنانه و سره مشوره کول یو عیب او بد کار ګڼی لهذا دغه عمل د شریعت خلاف دی او سړی باید د ژوند په کارونو کې د خپلې ښځې سره د خپلې خور سره د خپلې لور سره د خپلې مور سره مشوره وکړی او په دغه کار کې باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم په نقش قدم روان شی ځکه چې هغه مبارک به همیشه د خپلو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابوو او د خپلو بيبيانو سره مشورې کولی ځکه چې الله تعالی هغه ته ددغه کار امر کړی وه لکه چې الله تعالی فرمايي : (( و شاورهم فی الامر ))

))سورة ال عمران ايت ۱۵۹((

ژباړه : د خپلو صحابوو سره د دنيا په کارونو کې مشوره وکړه .

او الله تعالی د مؤمنانو په صفت کې داسې فرمايي : (( و امرهم شوری بينهم ))

))سورة الشوری ايت ۳۸((

ژباړه : دوې خپل کارونه په مشوره باندې حل او فصل کوی.

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي )) : آمروا النساء فی بناتهن)) (( ابو داود ۲۵۸((

ژباړه : د خپلو ښځو سره د هغوې د لورګانو په ودولو کې مشوره وکړی.

او عايشه رضی الله عنها روايت کړيدی چې کله رسول الله صلی الله عليه و سلم په غار حرا کې وه او جبريل عليه السلام ورته په اول ځل ورغی او هغه ته يې د الله تعالی د طرف نه پيغام راوړ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وډار شو او بی بی خديجة رضی الله عنها ته ورغی او د هغې سره يې مشوره وکړه او د مشورې نه پس خديجه رضی الله عنها هغه ورقه بن نوفل ته بوتله او هغه ته يې قصه بيان کړه ورقه بن نوفل چې کله د رسو ل الله صلی الله عليه و سلم خبرې واوريدلی نو ورته يې وفرمايي چې ته ددغه امت پيغمبر يې ....) (( بخاری صفحه ۲ جلد ۱((

همدارنګه د هجرت په شپږم کال کې رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپلو صحابه کرامو سره يو ځاې د عمری د اداء کولو په نيت د مکې مکرمې په طرف وخوځيدل او ټولو احرامونه اغوستلی وو او د قربانی څاروی يې د ځان سره روان کړی وو خو چې کله دوې د حديبی مقام ته ورسيدل نو د مکی د مشرکانو له طرفه د عمری د اداء کولو څخه منع شول او اجازه ورته ونشوه چې مکې مکرمې ته ورداخل شی خو پس د يو څه بحث نه د مکې د مشرکانو سره دا معاهده وشوه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه کرام به سږ کال عمره نه کوی او بيرته به ځی او راتلونکی کال به بيا دوې عمره کوی .

نو ددغې معاهدی د ا مضاء څخه وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم صحابه کرامو ته امر وکړو چې د احرام جامې وباسی او د سر ويښتان يا وخريی او يا يې کم کړی او د قربانی څاروی ذبح کړی خو صحابه کرامو د ډير غم او خفګان څخه دغه کار ونکړلو نو رسول الله صلی الله عليه و سلم خفه شو او د خپلې بی بی ام سلمه رضی الله عنها خيمی ته ور ننوت او د هغې سره يې په دغه موضوع کې مشوره وکړه نو هغې ورته وفرمايل چې ای رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وځه او خپل د قربانی څاروی ذبح کړه او ويښتان وخريه او احرام نه ځان وباسه او د هيچا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خبري مکوه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وواته او همدغسې کار یې ترسره کړلو نو چې کله صحابه کرامو رسول الله صلی الله علیه و سلم ولېدلو چې دغه کارونو کوی نو ټولو د هغه تابعداری وکړو او ځانونه یې د احرام څخه وویستلو او په دی طریقې سره مشکل حل شو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم امر عملی شو چې دغه کار د یوی ښځې د مشورې په نتیجه کې وشو .

))بخاری صفحه ۳۷۲ جلد ۱((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸ -جنسی ضرر :

زمونږ په ټولنه کې یو بل ظلم پرښځو باندې دا کیږي چې بعضې سړی دخپلو ښځو سره دحیض ( میاشتنی مرض او یا نفاس (دوینی جریان وروسته دولادت نه ) په حالت کې او یا په دبر (مخرج) کې کوروالې کوی نو دغه اعمال حرام او ناروا او دشریعت او فطرت او صحت څخه خلاف کارونه او لویې گناوی دی.

الله تعالی فرمايي )) : ویسالونک عن المحیض قل هو اذی فاعتزلوا النساء فی المحیض ولاتقربوهن حتی یطهرن فاذا تطهرن فاتوهن من حیث امرکم الله ان الله یحب التوابین ویحب المتطهرین ((

)سورة البقرة آیت ۲۲۲(

ژباړه : او دوې پوښتنه کوی لتانه ای محمده دحیض په باره کې ته ووایه ای پیغمبره چې یوه پلیتی ده نو تاسو په څنگ شی دخپلو ښځونه په حالت دحیض کې او مه نږدی کیږي دوې ته ( په کوروالی) سره تر دی چې پاکی شی دحیض نه نو هغه وخت چې دوې ښې پاکی شی نو تاسو راتگ وکړی دوې ته په کور والی سره دهغه ځاې نه چې حکم کړی وی الله تعالی تاسې ته(مخکینی لاره ) بیشکه چې الله تعالی مینه کوی دډیرو توبه کوونکو سره او مینه کوی دځان پاک ساتونکو سره.

پته دې نه وې چې د ښځې دولادت نه وروسته دهغی سره دوینی ترجریانه پوری کوروالې روانډی او چې کله يې وینه وچه شی بیا ورسره کوروالې روا دی که دولادت نه یې دوه ورځې وروسته هم وینه وچه شی کوروالې ورسره روادی.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي : (( اتق الدبر والحیضة ))

)) ترمذی مشکاة ص( ۲۷٦ (

ژباړه : دخپلې ښځې سره په دبر (مخرج ) کې او دحیض په حالت کې دکوروالی نه ځان وساته.

او په بل حدیث کې داسې فرمايي : (( من أتی حایضا او امرأة فی دبرها او کاهنا فصدقه بما یقول فقد کفر بما انزل علی محمد صلی الله علیه و سلم ))

))ترمذی ص(۳۵) ج(۱) ابن ماجه ص(۴۷) مشکاة ص( ٥٦ (

ژباړه : چاچه په حیض اویادبر (مخرج ) کې دخپلې ښځې سره کوروالې وکړلو او یا نجومی ته لاړ شیاو دهغه په خبرو يې باور وکړلو نو دغه کس په هغه دین چې محمد صلی الله علیه و سلم باندې نازل شویدی کافر شویدی.

او په بل حدیث کې داسې فرمايي : (( ملعون من أتی امرأة فی دبرها )) (( سنن ابی داود ص(۲۹۴) مشکاةص(۲۷٦((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : هغه کس ملعون دی چې دخپلې ښځې سره په دبر(مخرج) کې کوروالې کوی.

او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( ان الذين ياتی امراته فی دبرها لاينظر الله اليه ))

))رواه البغوی فی شرح السنه مشكاةص(٢٧٦) ترمذی) ٢٢٠ (((

ژباړه : الله تعالی هغه کس ته درحمت په نظر نه گوری چې دخپلې ښځې سره په دبر(مخرج)کی کوروالې وکړی.

١٩ -د جماع (کوروالی ) پريښودل :

زمونږ په ټولنه يو بل ظلم چې پر ښځو باندې دا کيږي چې بعضې سړی خپلې ښځې داوږدې مودې لپاره دکوروالی دحق څخه محرومو‌ی او بعضې دخپلو ښځو سره داسې بی کيفيته کوروالې کوی چې ښځه پکې تکليف گالی خو هيڅ خوند ترينه نه اخلی اونه يې جنسی رغبت پکې پوره کيږي .

نو دغه قسم اعمال په شريعت کې ناروا او پرښځه باندې ظلم دی بلکه ښځه پرخپل خاوند باندې دکوروالی حق لری او خاوند يې بايد دهغی دجنسی رغبت احترام او دهغی حق په صحی طريقې سره اداء کړی .

الله تعالی فرمايي : (( فاتوهن من حيث امركم الله ))

)سورة البقرة ايت ٢٢٢(

ژباړه : تاسو کوروالې وکړی دخپلو ښځوسره دهغی لاری نه چې الله تاسې ته امر کړی دی ( يعنې مخکينی لاره)

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي : (( ان لزوجک عليک حقا ))

))بخاری صفحه ٧٨٣ جلد ٢((

ژباړه: ستا ښځه پر تا با ندی د کوروالې حق لری

او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( ائت حرثک انی شئت ))

))ابو داود صفحه ٢٩١((

ژباړه: د خپلې ښځې سره کوروالې وکړه په څه طريقه چې دی خوښه وشی

او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( و لک فی جماع زوجتک اجر )

))رواه احمد الفتح الربانی صفحه ٢٣٣ جلد ١٦((

ژباړه: تاته د خپلې ښځې سره په کوروالې کې اجر ( ثواب) درکول کيږی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( اذا جامع احدکم اهله فليصدقها فاذا قضی حاجته قبل ان تقضی حاجتها فلا يعجلها حتی تقضی حاجتها))

))رواه ابو يعلی فی مسنده فقه السنه صفحه ۳۲۶ جلد ۲((

ژباړه: د خپلې ښځې سره صادقانه ( رښتينی) کوروالې وکړی او چې کله مو خپل حاجت پوره کړلو ( انزال مو وکړو او خوند مو واخيست) مخکې ددينه چې ښځه خپل حاجت پوره کړی ( انزال وکړی او خوند واخی ) نو کوروالې تر هغې مه ختموی تر څو چې ښځه هم خپل حاجت پوره کړی ( انزال وکړی او خوند واخلی)

نو د ښځې جنسی رغبت پوره کول پر خاوند باندې لازم دی او د هغې دغه رغبت بايد په صحيح او پوره توګی او داسې طريقې سره پوره کړی چې هغه وربانديې خوشحاله اور اضی شي او دا ځکه چې د ښځې سره کوروالې نه کول او يا د هغې جنسی رغبت په صحيح طريقې سره نه پوره کول هغې ته جسمی او روحی تاوان رسوی او د هغې د ناراضی او خفګان او د ميړه سره د بغض او د هغه نه د نفرت سبب کيږی .

نو خاوند ته پکار دی چې د خپلې ښځې دغه حق د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د قضاوت مطابق په هرو څلورو شپو کې يو ځل اداء کړی او که خاوند يې د ښځې ددغه حق د اداء کولو څخه انکار وکړی نو ښځه کولی شی چې پس له څلورو مياشتو قضاته ورشي او د خپل خاوند څخه د جدا کيدو غوښتنه وکړی .

۲۰ -د کوروالې رازونه بل چاته ويل :

زمونږ په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو دادی چې بعضې سړی کله خپلو ښځو سره کوروالې وکړی نو بيا د کوروالې رازونه بل چاته وايی نو دغه کار د اسلام په مقدس دين کې ناروا دی ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلی دی : (( ان شر الناس منزلة عندالله يوم القيامة الرجل يفضی الی المراة و تفضی اليه ثم ينشر سرها (

))صحيح مسلم صفحه ۴۹۴ جلد ۱ مشکوة صفحه ۲۷۶((

ژباړه: ډير بد انسان د الله تعالی په نزد په ورځ د قيامت کې هغه سړی دی چې د خپلې ښځې سره کوروالې وکړی او بيا د هغې رازونه خپور کړی .

او په بل حديث کې داسې فرمايي : (( انما ذلک مثل شيطانة لقيت شيطانا فی السکة فقضی منها حاجته والناس ينظرون اليه ))

))ابو داود صفحه ۲۹۶((

ژباړه : مثال د هغه سړی او ښځې چې د کوروالې رازونه بل چاته وايی داسې دی لکه يوه شيطانه او شيطان چې په کوڅه کې سره مخامخ شی او شيطان د هغې نه خپل حاجت پوره کړی او خلک ورته ګوری .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱ -د ښځو ترمينځ عدالت نکول:

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دا کيږي چې کله بعضې سړی دوه يا درې يا څلور ښځې ولری نو د هغوی ترمينځ په نفقه او جامه او معامله او شپه تيرولو کې عدالت نه کوی .

نو د ښځو ترمينځ عدالت نه کول يو ظلم او ناروا عمل دې حتی که يو کس ويريده چې زه به د دوو ښځو ترمينځ عدالت نه شم کولای نو هغه ته بله ښځه روا نه ده ځکه چې الله تعالی فرمايي : و ان خفتم الا تعدلوا فواحدة او ما ملکت ايمانکم ((

))سورة النساء ايت ۳((

ژباړه: او که تاسو ويريږی چې د ښځو ترمينځ به عدالت نه شی کولی نو په يوه ښځه باندې اکتفاء وکړی .

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي : (( من کانت له امراتان فمال الی احداهما جاء يوم القيامة واحد شقيه ساقط))

))ترمذی صفحه ۲۱۷ جلد ۱ ابو داود صفحه ۲۹۰ ، ابن ماجه صفحه ۱۴۱ مشکاة صفحه ۲۷۹((

ژباړه: څوک چې دوه ښځې ولری او يوی ته په بلی باندې په ( نفقه او جامه او معامله او شپه تيرولو کې ) برتری ورکوی نو په ورځ د قيامت کې به ئې د بدن يو طرف يې غورځيدلی وی .

دلته بايد دا خبره وشی چې که د سړی د يوی ښځې سره د زړه مينه زياته وی او د بلی سره کمه نو په دی باندې څه ګناه نشته ځکه چې د زړه محبت او ميلان د انسان د واک څخه بهر وی خو دا په دی شرط چې په نفقه او جامه او معامله او شپه تيرولو کې عدالت وشی الله تعالی فرمايي : (( و لن تستطيعوا ان تعدلوا بين النساء ولو حرصتم(

))سورة النساء ايت ۱۲۹((

ژباړه: تاسې نشی کولی چې د زړه په محبت کې د ښځو ترمينځ عدالت وکړی اګر که زيات کوشش او حرص هم وکړی .

نو سړی باندې لازم دی چې د خپلو ښځو سره د شپې تيرولو لپاره نوبت جوړ کړی او د هری يوی چې نوبت راغی نو د هغې سره به شپه تيروی که کوروالې کوی او که نه خو شپه به ورسره تيروی .

۲۲ -د نيکو کارونو څخه د ښځو منع کول :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بل ظلم چې زمونږه په ټولنه کې پرښځو باندې کیږي دادی چې بعضې سړی خپلې ښځې دنیکو کارونو څخه منع کوی لکه مونځ کول روژه نیول تلاوت کول وغیره نو دغه کار داسلام دمقدس دین دتعلیماتو څخه خلاف دی ځکه چې الله تعالی فرمایي : (( وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونو اعلى الاثم والعدوان ))

))سورة المائده ایت ۲ ((

ژباړه : تاسې یو بل سره دنیکی او پرهیزګاری په کارونو کې مرسته وکړی او دګناه او تیری په کارونو کې یو دبل مرسته مه کوی.

نو سړی حق نه لری چې خپله ښځه دفرضی عبادت څخه منع کړی او که داکار وکړی نو بیا ښځې ته روا ندی چې دمیړه اطاعت وکړی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي : (( لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق ))

))روا أحمد فی مسنده والحاکم فی مستدرکه مشکاة ص۳۱۹ ((

ژباړه : دهیڅ مخلوق اطاعت روا ندی په هغه څه کې چې دخالق نافرمانی کیږي

او په بل حدیث کې داسې فرمایي : (( انما الطاعة فی المعروف ))

))بخاری مسلم ـ مشکاةص ۳۱۹ ((

ژباړه : دمشر اطاعت یوازې په نیکو کارونو کې کیدای شی . یعنې په غیر شرعي شیانو کې دچا اطاعت روا ندی.

دا خبره باید دلته وشی چې ښځه نشی کولاې چې دخاوند داجازې نه بغیر نفلی روژه ونیسی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

))لاتصوم امرأة الا باذن زوجها ((

))ابو داود این ماجه مشکاة ص (۲۸۲ ((

ژباړه : هیڅ یوه ښځه نشی کولی چې دخاوند د اجازې نه بغیر نفلی روژه ونیسی.

۲۳ـ دښځې دعفت څخه دفاع نکول او پرهغې غیرت نکول :

زمونږه په ټولنه کې یو بل ظلم پرښځو باندې دادی چې بعضې بی احساسه سړی دخپلو ښځو عفت ددنیا دمال د لاسته راوړلو یوه وسیله ګرځوي او خپلې ښځې دفحش په کارونو باندې مجبوروی نو دغه عمل یو لویه بی غیرتی او یوه لویه ګناه او لوی ظلم دی پرښځو باندې او جهنم ته دداخلیدو یو لوی سبب دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بعضې سړی داسې دی چې خپلې ښځې یالور ګاني وغیره دفحش په کارونونه مجبوروی خوکه څوک دهغوی دښځو یا لورګانو په عفت باندې تعرض وکړی نو هغه دخپلې ښځې او لورګانو دعفت څخه دفاع نه کوی او سترګې ورباندې پټوی چې دایوه لویه دووثی او بی غیرتی او لویه ګناه ده ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایل : ((ثلاثة قد حرم الله علیهم الجنه مد من الخمر والعاق لوالدیه والدیوث الذی یقر فی اهله الخبث ))

))أحمد �نسایی � مشکاة ص(۳۱۸ ((

ژباړه : په درې قسمه خلکو باندې الله تعالی جنت حرام کړی دی هغه څوک چې همیشه شراب څکی او هغه څوک چې مور او پلار ته ضرر رسوی او هغه دیوث سړی چې دخپلې ښځې او لورګانو په ناروا علاقاتو باندې سترګې پټوی او غیرت نکوی

بلکه داسلام مقدس دین د ښځې عزت او عفت ته دومره زیات اهمیت ورکړی دی چې نارینه وته یې امرکړی دی چې دخپلو ښځو دعفت څخه دفاع وکړی او که پدی لارکی څوک ووژل شی نو هغه شهید دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي : (( من قتل دون أهله فهو شهید ))

))ابوداود �ترمذی � نسایی � مشکاة ص(۳۰٦ ((

ژباړه : څوک چې دخپلې ښځې د عفت څخه په دفاع کې ووژلی شی نو هغه شهید دی .

۲۴ -دخپلوانو له زیارت څخه د ښځې منع کول :

یو بل ظلم پرښځو باندې دادی چې بعضې سړی دمعمولی خبرو په وجه خپلې ښځې دخپلوانو دکورونو څخه منع کوی نو دغه کار دشریعت خلاف دی ځکه چې داسلام مقدس دین په نیکی او صله رحمی باندې امر کوی ځکه چې الله تعالی فرمایي : (( واعبدوالله ولاتشرکوا به شیأ وبالوالدین احسانا وبذی القربی ))

))سورة النساء ایت ۳٦ ((

ژباړه : دالله عبادت کوی او هغه سره هیڅ یو شی مه شریکوی او دمور او پلار او خپلوانو سره احسان او نیکی وکړی .

او په بل ایت کې داسې فرمایي ((فأت ذا القربی حقه ))

))سورة الروم ایت ۳۸((

ژباړه : خپلوانو ته دهغوی حق ورکړه یعنې دهغوی سره احسان وکړه.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي : (( لا یدخل الجنة قاطع ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))متفق علیه مشکاة ص۴۱۹ ((

ژباړه هغه کس جنت ته نشی داخلیدای چې دخپلوانو نه یې ځان شکولی وی.

اوپه بل حدیث کې داسې فرمایي:( من احب ان یبسط له فی رزقه وینسأله فی أثره فلیصل رحمه)

))بخاری مسلم مشکاة۴۱۹.((

ژباړه : څوک چې داخوښوی چې رزق یې ورته پراخه کړی شی او عمر یې اوږد او برکتی شی نو دخپلوانو سره دی صلی رحمی او احسان وکړی.

نو دخپلوانو سره صلی رحمی او احسان فرض دی او داجر او ثواب دلاسته راوړلو یوه لویه وسیله ده او ددې برعکس له خپلوانو څخه ځان شکول او دهغوی نه لرې والی حرام او لویه ګناه ده نوځکه نارینه باید خپل زنانه د خپلوانو دزیارت څخه منع نه کړی خو پدی شرط چې دخاوند او د اولادونو حقوق پیمال نشی او د ښځې عفت ته پکښی ضرر ونه رسیږی.

۲٦ -پرښځو سلام نه اچول :

زموږ په ټولنه کې دښځو سره یو بل بدسلوک دا کیږي چې نارینه خپل کور ته دننوتو پرمهال پرښځه باندې سلام نه اچوی بلکه دغه کار دوی بد او بی غیرتی ګڼی.

لیکن داسلام مقدس دین امر کوی چې کله تاسو خپلو کورونو ته ننوځی نو پر خپلې کورنی باندې سلام واچوی.

الله تعالی فرمايي : (( فاذا دخلتم بیوتا فسلموا علی انفسکم تحیة من عند الله مبارکة طیبة))

))سورة النور ایت ٦١((

ژباړه : چې کله تاسو خپلو کورونو ته ننوځی نو پرخپلې کورنی باندې سلام واچوی ځکه چې دا د الله تعالی له طرفه یوه برکتی او خوشحالونکی پیشکش او دعا دی.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي : (( اذا دخلت علی اهلک فسلم یکون برکة علیک وعلی اهل بیتک ))

))ترمذی مشکاة ص ۳۹۹ ((

ژباړه : چې کله خپل کور ته ننو ځی نو پخپلې کورنی باندې سلام واچوه ځکه چې دغه سلام ستا لپاره او ستا دکورنی لپاره دبرکت سبب کیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل حديث کې جليل القدر صحابى جرير رضى الله تعالى عنه داسې روايت کوى چې : أن النبى صلى الله عليه و سلم مر على نسوة فسلم عليهن((

))رواه أحمد فى مسند مشكاة ص( ۳۹۹ ((

ژباړه : نبى عليه الصلاة والسلام دښځو پر يوه ډله تيريده نو پر هغوي يې سلام واچاوه

نو پرخپله ښځه يا نورو محارمو باندې سلام اچول يو نيک عمل او ددوستى او داجر او ثواب دلاسته راوړلو او دبرکت يوه وسيله ده.

همدارنګې سلام أچول ديو مسلمان حق دى پر بل مسلمان باندې ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي : للمومن على المومن ست خصال : ويسلم عليه اذا لقيه

))نسايى مشكاة ص(۳۹۷( (

ژباړه : د مؤمن پر مؤمن باندې شپږ حقوقه دى او يو پکې دادى چې د ملاقات په وخت کې پر هغه باندې سلام واچوى .

۲٦ -د بدن او جامې ښکلا او نظافت ته د نارينه و نه پاملرنه :

زمونږ په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دادى چې زياتره سړى د خپل بدن او جامې په ښکلا او نظافت باندې اهتمام نه کوى او په دى طريقې سره خپلو ښځو ته تکليف او ضرر رسوى چې په نتيجه کې د ښځې او خاوند ترمينځ بغض او نفرت پيدا کيږي او د دوستۍ او محبت او اطمينان فضا په کور کې له مينځه ځى او په آخر کې د طلاق سبب ګرځى .

نو ددې لپاره چې د ښځې او د خاوند ترمينځ مينه او دوستى دايم وى نو اسلام د بدن او جامې په ښکلا او پاکى باندې زيات ا هتمام کړيدى او نارينه او زنانه دواړو ته ئې د زينت او پاکى امر کړيدى .

اوس زه غواړم دلته د بعضو نارينه و هغه غلط عادتونه ذکر کړم چې د پاکى سره تعلق لرى او هغه دوې نه مراعاتوى او په دى طريقې سره هغه پر ښځو باندې ظلم ګڼل کيږي چې دغه عادتونه په لاندې ډول دى :

۱ -زياتره نارينه په مسواک او د خولې په نظافت باندې اهتمام نه کوى چې ددې په نتيجه کې د هغوې د خولونه ضرر رسونکى بدبويى وځى چې دغه بد بويى د ښځې او د خاوند ترمينځ د بغض او نفرت سبب ګرځى ځکه خو رسول الله صلى الله عليه و سلم د مسواک په استعمال باندې زيات تاکيد کړيدى او د هغه استعمال ته يې خپل امت زيات تشويق او ترغيب کړيدى. لکه چې فرمايي : (لولا ان ان اشق على امتى لامرتهم بالسواک عند کل صلاة)

))بخارى مسلم ابوداود ترمذى ، مشكاة صفحه ۴۴-۴۵((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: که زما په امت باندې تکلیف او مشقت نه راتلی نو ما به دوې ته د هر لمانځه لپاره د مسواک امر کړی وای یعنې مسواک وهل به مې پر دوې باندې فرض کړی وای د هر لمانځه لپاره.

او په بل حدیث کې داسې فرمایي : (( السواک مطهرة للفم مرضاه الرب))

))احمد، نسایی،دارمی، مشکوة ۴۴((

ژباړه: مسواک وهل د خولې پاکوونکی او د رب خوشحالونکی دی.

او په بل حدیث کې داسې فرمایي : (( اربع من سنن المرسلین الختان و التعطر والسواک والنکاح))

))ترمذی،مشکاة ۴۵((

ژباړه: څلور شیان د پیغمبرانو د طریقو څخه دی سنت گری(ختنه)، او خوشبویی استعمالول او مسواک وهل او نکاح کول

او جلیل القدر تابعی شریح بن هانی فرمایي چې : (( سالت عایشة بای شی کان یبدا رسول الله صلی الله علیه و سلم اذا دخل بیته ؟ فقالت بالسواک))

))صحیح مسلم ، مشکاة ۴۴((

ژباړه: ما د عایشې رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کله کور ته راته نو په څه باندې ئې اول شروع کوله نو هغې وفرمایل چې په مسواک وهلو به یې اول شروع کول .

نو مسواک وهل د خولې او د غاښونو پاکوونکی او ساتونکی او د الله تعالی خوشحالونکی دی او همدارنگه د ښځې او د خاوند ترمینځ د مینې او دوستی د زیاتوالی یوه وسیله ده نو ځکه باید د خولې په پاکوالی باندې زیات اهتمام وشي .

۲ -بعضې نارینه د اوږدې مودې لپاره خپل ځان نه وینځې چې په نتیجه کې د هغوې د بدن څخه ښځې ته ضرر رسوونکی بد بویی ځی او د دواړو ترمینځ د بغض او نفرت د پیدا کیدو سبب گرځی ځکه خو رسول الله صلی الله علیه و سلم امر کړیدی چې هر یو کس دی په هفته کې یو ځل ولامبی هغه داسې فرمایی : ( حق علی کل مسلم ان یغتسل فی کل سبعة ایام یوما یغسل فیه راسه و جسده )

))بخاری ، مسلم ، مشکوة ۵۵((

ژباړه: لازم دی پر هر مسلمان باندې چې په اوو ورځو کې یو ورځ غسل وکړی او خپل سر او بدن ووینځی .

نو مسواک وهل او په هره هفته کې یو ځل د بدن وینځل لکه چې نارینه و ته ضرور دی ښځو ته هم ضرور دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ -بعضې نارینه د نامه نه لاندې ویښتان او د تخرګونو ویښتان او د ګوتو نوکان د اوږدې مودې لپاره نه لرې کوی چې دا ټول په بدن کې د خیرو او جراثیمو جمع کیدو سبب کیږی .

همدارنګه بعضې سړی خپل بریتان د اوږدې مودې لپاره نه لنډوی نو دغه ټول کارونه د ښځې د خفګان او د نفرت سبب کیږي ځکه خو اسلام امر کړیدی چې هر ځلویښت ورځې پس باید د نامه نه لاندې ویښتان او د تخرګونو ویښتان او د ګوتو نوکان لرې او بریتان لنډ شی لکه چې جلیل القدر صحابی انس بن مالک رضی الله عنه فرمايي : (( وقت لنا فی قص الشارب و تقلیم الاظافر و نتف الابط و حلق ا لعانة ان لا نترک اکثر من اربعین لیلة))

))صحیح مسلم ، مشکاة ۳۸۰((

ژباړه: د بریتانو د لنډولو او د نوکانو د لرې کولو او د تخرګونو او د نامه نه لا ندی د ویښتانو د لرې کولو لپاره مونږ ته ( د رسول الله صلی الله علیه و سلم له طرفه) ځلویښت ورځې ټاکل شوی وه یعنې چې پس له ځلویښتو ورځو به هغه خامخا لرې کوی .

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمايي : (( الفطرة خمس الختان والاستحداد وقص الشارب و تقلیم الاظافر و نتف الابط))

))بخاری ، مسلم ، مشکاة ۳۸۰((

ژباړه: پنځه شیان د فطرت مطابق دی سنت ګری او د نامه نه لاندې د ویښتانو لرې کول او د بریتانو لنډول او د نوکانو پریکول او د تخرګونو د ویښتانو ایستل او لرې کول .

دلته دا خبره باید وویل شی چې بعضې خویندی په دی ګمان چې دا به یو زینت وی خپل نوکان ډیرې اوږدې پریږدی او هغه نه پریکوی نو دغه عمل یو ناروا او د فطرت او انسانیت او شریعت خلاف کار دی باید ددغه کار څخه ځان وساتل شی .

همدارنګې د رنګ ناخون استعمال روا دی خو د اوداسه او غسل په وخت کې دی هغه مکمل لرې کړی شی او که لرې نکړی شی نو اودس او غسل یې نه کیږي نو د نامه نه لاندې او د تخرګونو د ویښتانو لرې کول او د نوکانو پریکول په نارینه او زنانه دواړو باندې لازم دی

۴ -بعضې نارینه داسې دی چې په هفتو هفتو کې د خپل سر او د ګیری ویښتان نه ګمنځوې او نه د خپلې جامې او بوټانو په ښایست او نظافت باندې اهتمام کوی نو دغسی اعمال د ښځې او د خاوند ترمینځ علاقات خرابوی او د هغوې ترمینځ د بغض او نفرت سبب کیږی. بلکې د اسلام مقدس دین د ښایست او پاکی دین دی او ښایست او پاکی ته یې خلک تشویق کړی نو ځکه یې د ویښتانو په ښایست او ساتنی باندې امر کړیدی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمايي : ((من كان له شعر فليكرمه ))

))ابو داود ، مشكاة صفحه ۳۸۲((

ژباړه: څوک چې ویښتان ولری نو د هغې عزت دی وکړی.

يعني هر وخت دی هغه پاک ګمنځ او غوړ او اصلاح کړی او د هغه دی سمه ساتنه وکړی ځکه خو انس رضی الله عنه داسې روايت کوی : (( كان رسول الله صلی الله علیه و سلم يكثر دهن راسه و تسريح لحيته))

))رواه البغوی فی شرح السنة ، مشكاة صفحه ۳۸۱((

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم به د خپل سر ویښتان ډیر غوړاوه او خپله ګیره به یې ډیر ګمنځاوه.

او جليل القدر تابعی عطاء بن يسار داسې روايت کوی : (( كان رسول الله صلی الله علیه و سلم فی المسجد فدخل رجل ثائر الراس واللحيه فاشار اليه رسول الله صلی الله علیه و سلم بيده كانه يامره باصلاح شعره ولحيته ففعل ثم رجع فقال رسول الله صلی الله علیه و سلم اليس هذا خيرا من ان ياتی احدكم و هو ثائر الراس كانه شيطان))

))رواه مالک فی الموطا، مشكاة صفحه ۳۸۴((

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم په مسجد کې و چې یو سړی راننوت چې د سر ویښتان او ګیره یې بی نظمه او ببر و نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه ته په لاس باندې اشاره وکړه چې د سر ویښتان او ګیره دی اصلاح کړه نو دغه سړی لاړ او د سر ویښتان او ګیره یې اصلاح کړه او بیرته د رسول الله صلی الله علیه و سلم مجلس ته راغی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل چې ايا دا ښه نه دی ددې نه چې یو کس مسجد ته په داسې حال کې راشی چې ګیره او د سر ویښتان یې داسې ببر وی چې د یو شیطان په څیر ښکاری .

پاتې دې نه وی چې زنانه هم باید د خپلو ویښتانو په ساتنه او ښایست کې زیات کوشش وکړی ځکه چې دا حکم یوازی نارینه و ته نه دی بلکې زنانه و ته هم شامل دی .

۵ -بعضې سړی داسې وی چې د هغوی خوله ډیره بد بویه وی او یا ګنده بغل ولری او یا شاقه کارونه کوی او د هغه په نتیجه کې د هغوی نه خوله وځی چې دغه خوله بیا بدبویی کوی خو سره ددې بدبویی نه دوې خوشبویی نه استعمالوی او په دی خبره هیڅ اهتمام نکوی او په دی طریقې سره خپلې ښځې ته ضرر رسوی چې په نتیجه کې د ښځې او د خاوند ترمینځ علاقات خرابیږی او د دوې ترمینځ بغض او نفرت پیدا کیږي او دد وی ژوند خرابیږی ځکه خو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ډیره زیاته خوشبویی استعمالولو او خشبویی یې زیات خوښ و او خوشبویی او نظافت او ښایست ته یې خلک زیات تشویق کړیدی لکه چې فرمايي : (( اربع من سنن المرسلين الختان و التعطر والسواک والنكاح))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))ترمذی، مشکاة صفحه ۴۵((

ژباړه: څلور شیان د پیغمرانو د طریقو څخه دی سنت گری او خوشبویی استعمالول او مسواک وهل او نکاح کول

او په بل حدیث کسی داسې فرمايي )) حبب الی الطیب والنساء وجعلت قرة عینی فی الصلاة ((

))احمد، نسایی، مشکاة ۴۴۹((

ژباړه: ماته خوشبویی او نیکانی ښځې محبوب کړی شوی دی او سترگې می په لمانځه باندې یخیږی .

نو زنانه او نارینه دواړو ته پکار دی چې د عطر او خوشبویی په استعمال باندې اهتمام وکړی تر څو د دوې ترمینځ د لا زیات محبت او دوستی سبب شی. البته زنانه و ته روا نه دی چې خوشبوئې استعمال کړی او بیا بهر وورځي ځکه چې ددې څخه فتنه راولاړیږی.

همدارنگه نارینه او زنانه دواړو ته پکار دی چې د ځان او د جامو په نظافت او ښایست باندې هم اهتمام وکړی او دا ځکه چې الله تعالی ښایسته او پاک ذات دی او ښایست او پاکی د هغه خوښ دی لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي : (( ان الله نظیف یحب النظافة))

))ترمذی ، مشکاة ۳۸۵((

ژباړه: الله تعالی پاک ذات دی او پاکی خوښوی.

او په بل حدیث کې فرمايي : ان الله جمیل یحب الجمال((

))صحیح مسلم ، مشکاة ۴۳۳((

ژباړه : الله تعالی ښایسته ذات دی او ښایست خوښوی.

او جلیل القدر صحابی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمايي : ((ان لاحب ان ا تزین لامرتی کما احب ان تتزین لی ))

))ابن ابی حاتم، ابن جریر الطبری تفسیر قرطبی صفحه ۱۱۸ جلد ۳((

ژباړه:زما دا خوښ دی چې د خپلې ښځې لپاره ځان ښایسته کړم لکه چې زما دا خوښ دی چې زما ښځه دی ماته ځان ښایسته کړی.

او د اسلام دریم خلیفه عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمايي : (( انهن لیحببن ان تتزینوالهن کما تحبون ان یتزین لکم )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))منهاج العشرة الزوجية صفحه ٧٦((

ژباړه: ښځې خوشحالېږی چې تاسو د هغوي لپاره ځانونه ښايسته کړی لکه چې تاسو خوشحالېږی چې هغوې دی تاسو لپاره ځانونه ښايسته کړی.

او په يو روايت کې داسې ويل شويدی چې (( اغسلوثيابكم و خذو من شعوركم واستاكوا و تزينوا و تنظفوا فان بين اسراييل لم يكونوا يفعلون ذلک فزنت نساؤهم ))

))منهاج العشرة الزوجيه صفحه ٧٧((

ژباړه: خپلې جامې پاکی وساتی او ويښتان مو جوړ او برابر ساتی او مسواک استعمالوی او ځانونه ښايسته او پاک ساتی او دا ځکه چې بنی اسراييلو به دغه کارونه نه کول نو د هغوې ښځې په زنا کې واقع شوی .

٦ -بعضې نارينه د سگرت يا نسوار يا چرس يا پوډر په استعمال باندې ځانونه اخته کړيدی چې ددې په وجه د دوې صحت خراب شی او د خولو څخه بدبويی هم وځی او په نتيجه کې د خپلو ښځو سره يې علاقات خراب شی او د دوستی او محبت فضا له مينځه لاړ شی نو ځکه په نارينه و باندې لازم دی چې ددغه شيانو د استعمال څخه ځانونه وساتی او دا ځکه چې دغه شيان سره ددې نه چې په شريعت کې حرام دی نو بدن او صحت او مال ته تاوان رسوی.

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي : (( لا ضرر و لا ضرار ))

))رواه احمد والبيهقی عن ابن عباس((

ژباړه: مه ځان ته ضرر رسوی او مه بل چاته .

او په بل حديث کې داسې فرمايي : ( ان الله کره لکم ثلاثا قيل و قال و کثرة السؤال و اضاعة المال)

))متفق عليه ، مشكاة صفحه ٤١٩ ، الادب المفرد صفحه ٢٠ جلد ١((

ژباړه: الله تعالی درې شيان بد گڼی او تاسې ترې منعه کوی بی فايدی او بی سنده خبرې او ډيرې بی فايدی پوښتنې او د مال ضايع کول .

او ام سلمة رضی الله عنها روايت کوی چې (( نهی رسول الله صلی الله عليه و سلم عن کل مسکر و مفتر ))

))ابو داود، مشكاة صفحه ٣١٨((

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه و سلم د هر نشه کوونکی او سستونکی شی څه منع کړيدی . نو څرنگه چې نسوار او چرس او هيرويين نشه کوونکی او سستی راوړونکی شيان دی نو د هغې استعمال په نارينه او زنانه باندې حرام دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۷ -ښځو ته نصيحت نه کول:

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم ښځو سره دا کيږي چې اکثره نارينه خپلو ښځو ، لورګانو، خويندو او نورو ښځينه خپلوانو ته نصيحت او د نيکو کارونو ښودنه نه کوی او نه دغه موضوع ته کوم توجه او اهتمام کوی لهذا دغه کار پر ښځو يو ظلم او د اسلام د مقدس دين د ارشاداتو خلاف کار دی او دا ځکه چې ښځه حق لری چې د خپل پلار يا خاوند يا وروريانو او نارينه و خپلوانو له طرفه هغې ته دينی او اخلاقی ښودنه او نصيحت وشی او د اسلام مقدس دين دغه موضوع ته زيات اهميت ورکړيدی لکه چې الله تعالی فرمايي:

))ياايهاالذين امنو قوا انفسکم و اهليکم نارا وقودهاالناس والحجارة ((

))سورة التحريم ايت ٦((

ژباړه: ای مومنانو تاسو خپل ځانونه او کورنی د اور څخه بچ کړی چې د هغې خاشاک خلک او د ګوګړو تيږی دی يعنې خپلې کورنی ته صحيح اسلامي تربيه ورکړی او هغوې ته د نيکو کارونو او اخلاقو نصيحت وکړی چې دغه نيک کارونه او اخلاق به د دوزخ د اور څخه د دوې د نجات سبب شی .

همدارنګه الله تعالی فرمايي : (( والعصر ان الانسان لفی خسر الاالذين امنوا و عملواالصالحات و تواصو بالحق و تواصو بالصبر))

))سورة العصر ايت ١-٣((

ژباړه: قسم کوم په زمانه يا په وخت د مازيګر باندې چې بيشکه هر ا نسان په تاوان کې دی مګر هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نيک عملونه يې کړيدی او يو بل ته ئې په حق باندې په صبر باندې وصيت کړی وی .

نو معلومه شوه چې مؤمنان به يو بل ته د نيکو کارونو او حقو خبرو توصيه او نصيحت کوی او همدارنګه يو بل ته به د نيکو کارونو په کولو کې د صبر توصيه او نصيحت کوی .

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي : (( الدين النصيحة))

))بخاری صفحه ١٣ جلد ١((

ژباړه: د اسلام دين د نصيحت دين دی.

يعنې يو بل ته د ښو کارونو نصيحت کول په اسلام کې يو مهم عمل دی

او په بل حديث کې داسې فرمايي : حق المسلم علی المسلم ست اذا لقيته فسلم عليه و اذا دعاک فاجبه و اذا استنصحک فانصح له و اذا عطس فحمدالله فشمته و اذا مرض فعده و اذا مات فاتبعه((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))صحيح مسلم ، مشکاة صفحه ۱۳۳((

ژباړه: د مسلمان پر بل مسلمان باندې شپږ حقونه دی چې کله ورسره مخامخ شی نو سلام به پری اچوی او چې کله ته يې د ميلمستيا لپاره و غوښتلی نو دعوت يې ومنه او چې کله ئې له تا څخه د نصيحت غوښتنه وکړه نو نصحيت ورته وکړه او چې کله وپرنجيده او الحمدلله يې وويلی نو ته ورته يرحمک الله ووايه او چې کله مړ شو نو جنازه کې يې شريک شه .

۲۸ -ښځې د تعليم څخه منعه کول :

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دادی چې دوې په مختلفو بهانو باندې د تعليم څخه محروموله شی لهذا دا پر ښځو باندې يو ظلم او د ټولنې د پرمختګ او اصلاح په وړ اندی يو لويې خنډ او مانع دی ، بلکې ښځې د نارينه په شان مکلف دی چې د خپل دين او دنيا واجبات او ضروريات زده کړی او پر نارينه و باندې لازم دی چې ښځې او لورګانې او خويندی و غيره ته د دينی او اخلاقی مسؤليتونو په ورزده کولو کې خپل ټول کوشش او زيار وباسی تر څو د کورنی څخه د ناپوهی تياره له مينځه لاړه شی او د علم او عرفان رڼا يې په کورنی کې خپره او د تفاهم او محبت او حق شناسی فضا قايم شی الله تعالی په دی باره کې داسې فرمايي : (( يا ايهاالذين امنو قوا انفسکم و اهليکم نارا و قودهاالناس والحجارة))

))سورة التحريم ايت ٦((

ژباړه: ای مؤمنانو تاسو خپل ځانونه او کورنی د اور( دوزخ) څخه بچ کړی چې خاشاک د هغې خلک او د ګوګړو تيږی دی

نو الله تعالی امر کړيدی چې خپلې ښځې او ځامن او لورګانی د اور د دوزخ څخه وساتی او د دوې ساتنه داسې کيږي چې هغوې ته صحيح تعليم او سالمه تربيه ورکړی شی .

نو معلومه شوه چې د ښځو تعليم او تربيه لکه د نارينه و په شان ضرور او لازم دی.

او په بل ايت کريمه کې الله تعالی داسې فرمايلی : (( و انذر عشيرِتک الاقربين))

)سورة الشعراء ايت ۲۱۴(

ژباړه: ای پيغمبره خپل نزدې خپلوان د الله د عذاب څخهوويروه.

نو دا نه کيږي مګر د صحيح تعليم او سالمی تربيې له لاری.

او په بل ايت کريمه کې الله تعالی داسې فرمايي : (( وامر اهلک بالصلاة واصطبر عليها))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))سورة طه ایت ۱۳۲((

ژباړه: ای پیغمبره خپلې کورنی ته په لمانځه باندې امر وکړه او د مونځ په ادا کولو باندې صبر وکړه .

نو د پورتنی مبارکو ایتونو څخه معلومه شوه چې ښځه حق لری چې هغې ته د پلار یا خاوند یا نورو خپلوانو په واسطه دینی او اخلاقی او اجتماعی ښوونه وشی او هغې ته لازم معلومات ورکړی شی.

او د نبوی احادیثو په ذخیره کې د ښځو د تعلیم د ا همیت په باره کې زیات احادیث موجود دی خو زه دلته د هغې څخه بعضې احادیث را اخلم چې په لاندې ډول دی :

اول حدیث :

جلیل القدر صابی ابو سعید الخدری رضی الله عنه داسې روایت کوی : (( قال النساء للنبی صلی الله علیه و سلم غلبنا علیک الرجال فاجعل لنا یوما من نفسک فوعدهن یوما لقیهن فیه فوعظهن وامرهن ))

))بخار ي ص ۲۰ ج ۱ مسلم ص ۲۸۹ ج۱ ((

ژباړه : ښځو نبی صلی الله علیه و سلم ته وویلی نارینه ونسبت مونږ ته ستا ډیر وخت نیولی دی نو دځان له طرفه زمونږ دتعلیم لپاره هم یوورځ معلومه کړه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوې ته یوه ورځ معلومه کړه چې دهغوی سره یې بیا ملاقات وشو نو هغوې ته یې نصیحت وکړلو او په نیکو کارونو یې ورته امر وکړلو .

امام بخاری ددغه حدیث څخه دوه حکمونه استخراج کړیدی یو داچه مشربه ښځو ته نصیحت کوی او هغوې ته به ښودنه کوی او بل داچه که کومی ښځې دمشر نصیحت وانه وریدلی نو باید هغوې ته علحده بل مجلس جوړ شی او هغوې ته دی پکې نصیحت او ښودنه وشی.

دوهم حدیث :

جلیل القدر صحابیة أم عطیه رضی الله تعالی عنها روایت کوی : (( أمرنا رسول الله صلی الله علیه و سلم ان نخرجهن فی الفطر والاضحی العواتق والحیض و ذوات الخدور فاما الحیض فیعتزلن الصلاة ویشهدن الخیر ودعوة المسلمین ))

))بخاری ص(۱۳۳) ج(۱) صحیح مسلم ص(۲۹۱) ج(۱ )

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم مونږته امر کړیدی چې دوړوکی او لوی اختر دلمانځه داداء کولو لپاره پیغلې او حایضه او باستره ښځې دکورونوڅخه وباسو خو حایضه ښځې به مونځ نه کوی خودوی به دخیر او ددعوت په مجلس کښې ګډون کوی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم حدیث :

جلیل القدر صحابی ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی : ( أیما رجل کانت عنده ولیدة فعلمها فأحسن تعلیمها وأدبها فأحسن تأدیبها ثم أعتقها وتزوجها فله أجران ) (

))صحیح بخاری ص۳۴٦ج۱ ((

ژباړه : هر هغه سړی چې وینځه ولری او هغه ته یې ښه تعلیم او ښه ادب ورکړلو او بیا یې ازاده کړله او ځانته یې په نکاح کړلو نو دغه سړی ته دوه اجرونه ورکول کیږي .

نومعلومه شوه چې د ښځې تعلیم او تربیه په اسلام کې څومره زیات ثواب لری

امام بخاری ددغه حدیث څخه همدغه مطلب استخراج کړیدی چې سړی باید خپلې ښځې او وینځې ته تعلیم ورکړی او داسې یې وویلی (( باب تعلیم الرجل أمته وأهله ))

ژباړه: باب دي په دې باره کې چې سړي به خپلې وینځی او ښځې ته تعلیم ورکوی .

نو چې کله د وینځې تعلیم کې دومره أجر دی نود ښځې او لورګانو په تعلیم کې به په طریق اولی سره وی ((بخاری ص( ۲۰ ) ج ۱))

څلورم حدیث :

جلیل القدر صحابیه شفا ءبنت عبدالله رضی الله تعالی عنها روایت کوی:

))دخل علّی النبی صلی الله علیه و سلم وأنا عند حفصه فقال لی ألا تعلمین هذه رقیة النمله کما علمتیها الکتابة ((

))سنن ابی داود ص(۵۴۲) مشکاة ص(۳۹۰) و اخرجه الحاکم فی مستدرکه ))

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه و سلم پداسی حال کې پرما را ننوت چې زه دحفصه رضی الله تعالی عنها سره ناسته وم نو ماته یې وویلی چې ته ولې حفصی ته دتخرګونو لاندې ددانو دم نه ښایی لکه چې دی هغې ته لیک ښودلی دی ؟

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې لکه څرنګه دلیک زده کړه نارینه وته ضرور دی همدارنګې زنانه وته هم ضرور دی او لکه څرنګه چې نارینه زده کړه کوی او دکتابونو دلیکلو له لاری خپل علم خپروی نو همدارنګې زنانه هم باید زده وکړی او خپل علم د کتابونو د لیکلو له لاری خپور کړی ترڅو ټول خلک ددوی دپوهی څخه استفاده وکړی او ددوی دغه کتاب ددوی لپاره صدقه جاریه وګرځی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام خطابی د شفاء رضی الله عنها د حدیث په شرحه کې داسې شی فرمایلی )) : فیه دلیل علی ان تعلم النساء الکتابة غیر مکروه((

))مرقاة صفحه ۳۲٦ جلد ۸((

ژباړه: په دغه حدیث کې دلیل شته دی ددې خبرې لپاره چې د لیک زده کړه ښځو ته مکروه نه دی .

بعضې خلک وایی چې ښځو ته د لیک زده کړه روا نه ده او په دغه حدیث باندې استدلال کوی چې (( لا تعلموهن الکتابة)) یعنې ښځو ته لیک مه ور زده کوی .

خو ددغه خلکو دغه دلیل صحیح نه دی ځکه چې دغه حدیث د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه ثابت نه دی او ددغه حدیث په سند کې دوه راویان دی چې یو یې دروغجن و او بل یې په دروغو متهم و نو ځکه دغه حدیث د سند له مخی ثابت نه دی بلکې په رسول الله صلی الله علیه و سلم باندې دروغ تړل شویدی .

((تذکرة الموضوعات صفحه ۱۲۹ مجموعة التفاوي لعبد الحی اللکنوی صفحه ۱۳۱ جلد ۱ اردو))

پنځم حدیث :

بی بی عایشة رضی الله عنها داسې فرمایي )) : نعم النساء نساء الانصار لم یمنعهن الحیا ان یتفقهن فی الدین ((

))صحیح بخاری صفحه ۲۴ جلد ۱((

ژباړه: د انصارو ښځې ډیرې ښې او نیکی ښځې دی او دا ځکه چې دوې په دین باندې د ځان پوهولو په موضوع کې حیاء نه کوی .

یعنې دوې د شرعي علم په حاصلولو کې شرم نه کوی بلکې دوې د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه هر قسمه پوښتنې کوی.

شپږم حدیث :

عروة بن الزبیر رضی الله عنه فرمایي : (( ما رایت احد اعلم بفقه ولا طب و لا شعر من عایشة))

))اسلامنا للسید سابق صفحه ۲۱٦((

ژباړه: ما داسې څوک نه دی لیدلی چې د عایشه رضی الله عنها څخه په فقه او طبابت او شعر کې زیاته پوهه ولری .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني عایشه رضی الله عنها په دغو علومو کې داسې اوچتی مرتبی ته رسیدلی وه د هغې په زمانه کې څوک ورسره نه شو برابریدلی.

نو ددغه روایت څخه دا معلومه شوه چې ښځې کولاې شی علمی اوچتو مرتبو ته ورسیږی او دا هم معلومه شوه چې ښځې کولاې شی چې د طب علم حاصل کړی او کولاې شی چې هغه شعرونه چې خلک دیانت او خوش اخلاقی او پاک لمنی ته رابلی ووائې اوې لیکې او نشر یې کړی .

اوم حدیث : جلیل القدر صحابی ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمایلی:

))ما اشکل علینا اصحاب رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث قط فسالنا عایشه الا وجد نا عندها منه علما((

))ترمذی صفحه ۲۲۷ جلد ۲، مشکاة صفحه ۵۷۴((

ژباړه : په هره مشکله مساله کې به چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرام د عایشه رضی الله عنها څخه پوښتنه کوله نو دهغی سره به د هغې مسالې په باره کې معلومات موجود و .

اتم حدیث :

امام ابن شهاب زهری رحمه الله فرمایي : (( لو جمع علم الناس کلهم و ا مهات المؤمنین لکانت عایشه اوسعهم علما))

))مستدرک الحاکم صفحه ۱۱ جلد ۴((

ژباړه: که د ټولو صحابه کرامو علم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نورو بیبیانو د علم سره ځاې کړی شی نو بیا به هم د عایشه علم د دوې څخه زیات وی .

نو ددې خبرې نه معلومه شوه چې ښځې په اسلام کې څومره اوچتو علمی مرتبو ته رسیدلی وو .

نهم حدیث :

جلیل القدر صحابی عبدالله بن عباس رضی الله عنها روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمایلی : (( من عال ثلث بنات او مثلهن من الاخوات فادبهن و رحمهن حتی یغنیهن الله اوجب الله له الجنة فقال رجل یا رسول الله او اثنتین قال اواثنتین حتی لو قالوا او واحدة لقال واحدة))

))رواه البغوی فی شرح السنة، مشکاة صفحه ۴۲۳((

ژباړه: چا چې د دریو لورګانو یا خو یندو ساتنه او خدمت وکړو او هغوې ته یې ښه ادب وروښودلو او پر هغوې یې رحم وکړو تر دی چې دوې خاوندان کړی او یا وفاتی شی نو الله تعالی دغه کس خامخا جنت ته ورداخلوی نو یو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی وويلی چې يا رسول الله که چا د دوو لورګانو يا خويندو حفاظت او خدمت وکړی نو هغه لپاره هم جنت شته؟ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل چې هو، عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمايي که خلکو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د يو لور يا يو خور خبره کړای وای نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به هم دوې ته د جنت خبره کړای وای .

نو ددغه حديث څخه معلومه شوه چې ښځو ته ښه ادب ورکول او پر هغوې رحم کول د جنت د داخليدو سبب دی .

لسم حديث :

عبداالله بن عباس رضی الله عنه فرمايلی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به د وعظ او نصيحت څخه وروسته داسې وويلی (( الا ليبلغ الشاهدالغايب))

))رواه البخاری صفحه ۲۱ جلد ۱((

ژباړه: خبر اوسی څوک چې حاضر دی هغوې دی زما خبرې غير حاضرو ته ورسوی .

او څرنګه چې به اکثره وختونه نارينه د رسول الله صلی الله عليه و سلم مجلسونو کې حاضر وه او زنانه به کورنی کارونو کې مصروفی وی نو ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم نارينه و ته امر وکړو چې زما خبرې تاسو غير حاضرو ته چې په هغو کې زنانه هم دی ورورسوی .

يوولسم حديث :

جليل القدر صحابی انس بن مالک رضی الله عنه روايت کوی چې رسول الله فرمايلی دی : (( طلب العلم فريضة علی کل مسلم )) و فی رواية و مسلمة(

))رواه البيهقی و ابن ماجه ، مشکاة صفحه ۳۴((

ژباړه: طلب د علم فرض دی پر هر مسلمان باندې که نارينه وی او که زنانه وی

نو ښځې کولاې شی چې هر هغه علم زده کړی چې د دين او دنيا په کارونو کې ورته ضرورت وی خو په دی شرط چې د دوې عفت او عزت ته څه خطر متوجه نه شی .

دولسم حديث :

امام ذهبی رحمه الله داسې فرمايي : (( و ما علمت من النساء من اتهمت و لا من ترکوها ))

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))میزان الاعتدال صفحه ٦٤ جلد ۴((

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د احادیثو په ښځو راویانو کې داسې ښځه نشته چې په هغې باندې د دروغو تهمت ویل شوی وی او یا د هغې حدیث پریښودل شوی وی .

یعنې دغه ټولی راویانی دومره نیکانی وی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم احادیث یې په پوره ا مانت سره خلکو ته رسولی دی لکه عایشه رضی الله عنها چې د رسول الله څخه دوه زره او دوه سوه اوولس احادیث یې روایت کړیدی او همداسی نوری ښځې نو ددغو ټولو پورتنیو احادیثو څخه معلومه شوه چې د اسلام مقدس دین د ښځو تعلیم ته خاص توجه او اهتمام کړیدی .

نو د هر چا نه مخکې اول د انجلۍ په مور او پلار یا د ښځې په خاوند باندې لازم دی چې هغوې ته تعلیم ورکړی او که مور او پلار یا خاوند هغوې ته تعلیم نشی ورکولی نو بیا ښځه حق لری چې د خپل دینی ضروریاتو د زده کړی لپاره د کور څخه بهر ووځی خو دا په دی شرط چې د هغې عفت او عزت ته کوم خطر متوجه نه وی او دا ځکه چې د ښځې د عفت او عزت خبره د تعلیم څخه زیاته مهمه ده او که ښځه د کور څخه بهر د تعلیم لپاره وځی نو باید د هغې سره خپل یو محرم موجود وی او یا د ښځو د یوی ډلی سره دی ځان یو ځای کړی تر څو د هغې عفت ته څه زیان ونه رسیږی .

))فتاوی النوازل لابی اللیث السمرقندی صفحه ۲۸۵((

دیارلسم حدیث :

جلیل القدر صحابی عرباض بن ساریه رضی الله عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمایلی : (( ان الرجل اذا سقی امراته من الماء اجر قال فاتیتها فسقیتها و حدثتها بما سمعت من رسول الله صلی الله علیه و سلم ))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۲۳۳ جلد ١٦((

ژباړه: سړی چې کله خپلې ښځې ته د څکلو اوبه ورکړی نو هغه ته اجر ورکول کیږي نو دغه صحابی وایی چې زه خپلې ښځې ته لاړم او هغه ته می د څکلو اوبه ورکړی او هغې ته می د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث بیان کړو .

ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې د ښځې خاوند به خپلې ښځې ته د ښو خبرو او ښو کارونو ښودنه کوی لکه چې دغه جلیل القدر صحابی خپلې ښځې ته د رسول الله حدیث بیان کړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګې ددغه حدیث څخه معلومه شه چې هر چاته د پیغمبر صلی الله علیه و سلم حدیث ورسید نو باید پر هغه باندې زر تر زره عمل وکړی لکه چې دغه صحابی وکړو .

۲۹ -د پیغلو په ودولو کې ځنډ کول :

زمونږه په ټولنه کې یو بل ظلم پر ښځو دا کیږی چې په ډیرو کورنیو کې د پیغلو په نکاح کې زیات ځنډ کیږي سره ددې نه چې د پیغلې غوښتونکی ډیر وی خو د مور او پلار یا نورو خپلوانو له طرفه د هغوې غوښتنه په مختلفو بهانو باندې رد کیږي او پیغله بی چاره د شرم او حیاء او یا ویری له کبله هیڅ نه وایی او که پیغله څه ووایې نو هغه رټل او وهل کیږي نو دغه عمل پر پیغلو باندې یو ظلم دی او هر قسمه ظلم په اسلام کې حرام دی

بلکی پیغله پخپل مور او پلار یا بل ولې باندې دا حق لری چې د پیغلتوب څخه وروسته د هغې نکاح د یو مسلمان او دیندار او حق پیژندونکی شخص سره د هغې په خوښه وتړی او په دغه کار کې ځنډ او وروسته والی کول ګناه او د الهی عذاب سبب دی

رسول الله صلی الله علیه و سلم په دی باره کې داسې فرمایلی : (( ثلاثة لا تؤخرهن الصلاة اذا اذنت والجنازة اذا حضرت والايم اذا وجدت كفوا))

))رواه احمد فی مسنده الفتح الربانی صفحه ۱۶۳ جلد ۱٦((

ژباړه: درې شیان مه وروسته کوی او ځنډ پکې مکوی د لمونځ ادا کول چې کله اذان وشی او د مړی د جنازی لمونځ ....... او د پیغلې په نکاح ورکول چې سیال یې پیدا شی .

نو ددغه مبارک حدیث څخه معلومه شوه چې کله انجلۍ پیغله شی نو باید د هغې په ودولو کې ځند ونشی کله چې د هغې په خوښه سیال هغه وغواړی .

۳۰ -د نکاح د حق څخه د ښځو محرومول :

زمونږه په ټولنه کې یو بل ظلم پر ښځو باندې دا کیږي چې په بعضو کورنیو کې پیغلې او کونډې ښځې د نکاح د حق څخه محرومولی شی تر دی چې د هغوې د سر ویښته د پلار په کور کې سپین شی .

نو دغه عمل ناروا او د شریعت خلاف او پر ښځو یو ظلم دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی : (( النكاح من سنتی فمن رغب عن سنتی فليس منی ))

))بخاری صفحه ۷۵۷ جلد ۱ ، مسلم صفحه ۴۴۹ جلد ۲((

ژباړه : نکاح کول زما د سنتو څخه دی او چا چې زما د سنت څخه مخ واړاوه نو هغه زما د ډلې څخه نه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه نکاح کول نیمایی دین دی او څوک چې د نکاح څخه اعراض کوی نو ګویا هغه د نیمایی دین څخه اعراض کوی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی : ( اذا تزوج العبد فقد استکمل نصف الدین فلیتق الله فی النصف الباقی )

))رواه البیهقی فی شعب الایمان ، مشکاة صفحه ۲۶۸((

ژباړه: چې کله یو بنده واده وکړی نو خپل نیمایی دین یې کامل کړو نو په بل نیمایی کې دی د الله نه وویریږی ( چې هغه فاسد نکړی)

او په بل حدیث کې جلیل القدر صحابی انس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه داسې روایت کړیدی : (( مکتوب فی التوراة من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة و لم یزوجها فاصابت اثما فاثم ذلک علیه))

))رواه البیهقی فی شعب الایمان مشکاة صفحه ۲۱۷((

ژباړه : په تورات کې دا لیکل شوی دی چې که د چا لور دولس کلنه شوه او هغه یې واده نکړه او بیا د هغې نه ګناه وشو نو د هغې ګناه یې به د هغې د پلار په غاړه وی .

علماء فرمايي چې کیداشی د موسی علیه السلام په زمانه کې جینکی په دولس کلنۍ کې بالغیدل.

او په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمايي : ((اذا خطب الیکم من ترضون دینه و خلقه فزوجوه الا تفعلو تکن فتنة فی الارض و فساد عریض))

))ترمذی ، مشکو صفحه ۲۶۷((

ژباړه : چې کله ستاسو په لور یا خور باندې داسې یو شخص مرکه وکړی چې تاسې د هغه د دیانت او اخلاقو څخه راضی وی نو د هغه غوښتنه ومنی او لور یا خور مو ورته په نکاح کړی او که دا کار ونکړی نو په ځمکه کې به لویه فتنه او زیات فساد رامینځ ته شی

یعنې چې کله د چا په لور یا خور باندې کوم نیک سړی مرکه وکړی او د هغې خوښه وه باید د هغوې نکاح وشی او ځنډ کول پکې ناروا دی.

نو پیغلې یا کونډې ښځې د نکاح د حق څخه محروموول او یا د هغوې د نکاح وروسته کول او په هغه کې ځنډ کول ناروا عملونه دی او پر ښځو باندې ظلم دی او باید ددغه کار څخه هر مسلمان ځان وساتی .

۳۱ -د ښځو نه خپل جنسی عیب پټول او هغوې شکایت ته نه پریښودل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دا کيږي چې بعضې دوکه باز او دروغجن سړي چې په جنسي کمزوريو باندې اخته وی غواړی د واده تر نامه لاندې يوه ښځه پخپل اسارت کې ننه باسی بغير ددې نه چې د هغې د جنسي حق په باره کې فکر وکړی او د مرکی په وخت کې د دوکی او دروغو څخه استفاده کوی او ځان داسې ښايی چې گوندی دی د جنسي لحاظه روغ او جوړ دی او بيا چې کله واده وکړ ي نو د غيرت تر نامه لاندې خپله ښځه د شکايت څخه هم منعه کوی او په دی طريقې سره د هغې بيچاره ښځې ټول ژوند خراب او هغه د جنسي حق او د اولاد د نعمت څخه محرومه کړی او کله کله داسې حالات مينځ ته راځی چې دغه بيچاره ښځه د سخت قهر او غم له وجې نه خودکشی وکړی او يا خپل ميړه ووژنی او يا د فحشاء کارونو ته مخه کړی .

نو ځکه دا دوکه او دروغ د ښځې سره يو لوی ظلم او جنايت دی او دغسی عملونه په اسلام کې ناروا او د الله تعالی د لعنت اسباب دی ځکه چې الله تعالی فرمايی : ((فنجعل لعنت الله علی الکاذبين))

ژباړه: مونږه گرځوو لعنت د الله په دروغجنانو باندې

او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلی : ((ملعون من ضار مؤمنا اومکر به))

))رواه الترمذی، مشکوة ۲۲۸((

ژباړه: ملعون دی هغه کس چې مؤمن ته ضرر رسوی او يا هغه دوکه کوی.

او په بل حديث کی داسې فرمايي : (( الفاجر خب لئيم))

))احمد، ترمذی، ابو داود، مشکاة ۴۳۲((

ژباړه: دوکه ورکول او رذالت د بد کار انسان صفتونه دی.

يعنې فاجر انسان به دوکه باز او رذيل وی

نو هيڅ يو نارينه ته روا نه دی چې د مرکی په وخت کې خپل جنسي کمزوری يا بل ضرری عيب پټ کړی .

او که کوم يو کس په جنسي کمزوری يا بل مرض اخته وه خو د دروغ او دوکی څخه يې استفاده وکړه او واده يې وکړو نو بيا ښځه د ناخوښې په صورت کې حق لری قضاء ته ورشی او د جدايی غوښتنه وکړی .

۳۲ -د ديانت له پلوه کمزوری او بد اخلاقه شخص ته خپل لور يا خور په نکاح ورکول :

زمونږه په ټولنه کې يو بل ظلم پر ښځو باندې دا کيږي چې په اکثرو کورنيو کې د پيغلې مور او پلار يا ورور يا بل ولې د پيغلې د غوښتونکی ديانت او اخلاق ته نه گوری بلکې دوې د هغه چا غوښتنه ښه منی چې مالدرا يا قدرتمند وی اگر که د ديانت له پلوه کمزوری او بد اخلاقه وی او په دی طريقې سره دوې ددغې پيغلې ديانت د خطر سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواجه کوی او دا ځکه چې که پیغله دینداره او د ښو اخلاقو خاونده وی او میړه یې بد اخلاقه او د د یانت له پلوه کمزوری وی نو حتمی ده چې دغه پیغله به دهغه د دینی کمزوری او بد اخلاقی تر تاثیر لاندې راځی او د وخت په تیریدلو سره به دغه پیغله بی چاره هم د دیانت او اخلاق له پلوه کمزوری کیږی چې ددې بد اثر بیا د دوی په کورنی او ټولنه باندې هم پریوځی نو ځکه د اسلام مقدس دین امر کړیدی چې تاسو د ښو اخلاقو والا او دیندار سړی مرکه پخپله لور یا خور باندې قبوله کړی او که دا کار ونکړی نو د ځمکی په سر به لویه فتنه او زیات فساد پیدا شی رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې فرمایلی : (( اذا خطب الیکم من ترضون دینه و خلقه فزوجوه الا تفعلوا تکن فتنة فی الارض و فساد عریض ))

)ترمذی صفحه ۲۰۷ جلد ۱ ، مشکاة صفحه ۲۶۷(

ژباړه: چې کله ستاسو لور یا خور دیندار او د ښو اخلاقو والا شخص وغواړی نو هغه ورته په نکاح کړی او که دا کار ونکړی نو د ځمکی په سر به لویه فتنه او لوې فساد پیدا شی.

بلکې د اسلام مقدس دین مسلمانان دی ته تشویق کړیدی چې پلار یا ورور ته پکار دی چې خپله لور یا خور دیندار او ښو اخلاقو والا شخص ته پخپله د نکاح لپاره پیشکش کړی او امام بخاری رحمه الله په دی باره کې پخپل کتاب کې داسې باب ایښی دی چې (( باب عرض الانسان ابنته او اخته علی اهل الخیر))

)صحیح بخاری صفحه ۷۶۷ جلد ۲(

ژباړه: باب دی په دی باره کې چې مسلمان ته پکار دی چې خپله لور یا خور عالمانو او نیکانو خلکو ته د نکاح لپاره پیشکش کړی.

او بیا یې په دغه باب کې د عمر بن الخطاب رضی الله عه حدیث ذکر کړیدی چې هغه داسې ویلی: ((اتیت عثمان بن عفان فعرضت علیه حفصة فقال سانظر فی امری فلبثت لیالی ثم لقینی فقال قد بدا لی ان لا اتزوج یومی هذا فقال عمر فلقیت ابابکر الصدیق فقلت ان شئت زوجتک حفصة بنت عمر فصمت ابو بکر فلم یرجع الی شیئا و کنت اوجد علیه منی علی عثمان فلبثت لیالی ثم خطبها رسول الله صلی الله علیه و سلم فانکحتها ایاه))

)بخاری صفحه ۷۶۸ جلد ۲، نسایی صفحه ۷۴ جلد ۲(

ژباړه: عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمايي چې زه عثمان بن عفان رضی الله عنه ته لاړم او خپله لور حفصه رضی الله عنها می ورته د نکاح لپاره پیشکش کړه نو هغه وویل چې زه به فکر وکړم نو ما څو شپې صبر وکړو نو چې بیا راسره عثمان رضی الله عنه مخامخ شو نو راته یې وویل چې زه اوس واده نه کوم عمر رضی الله عنه فرمايي چې ما بیا د ابو بکر الصدیق سره ملاقات وکړو او هغه ته مې وویل چې که خوښه دې وي نو حفصه رضی الله عنها به تاته په نکاح کړم نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه چپ شو او هیڅ جواب یې رانکړو نو په دی باندې می د عثمان رضی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله نه زیات غصه راغی نو بیا چې څو شپې تیری شوی رسول الله صلی الله علیه و سلم زما په لور حفصه باندې مرکه وکړه نو هغه ته مې په نکاح کړلو .

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې عالمانو او نیکانو خلکو ته خپله لور یا خور د نکاح لپاره پیشکش کول ډیر ښه او غوره کار دی او دا هم معلومه شوه چې دغه کار یو شرعي کار دی او د عیب او پیغور کار نه دی بلکې دغسی کار مضبوط ایمان وا لا او د الله نیکان بندګان کوی خو ډیر د تاسف خبره داده چې دغه غوره او شرعي عمل زمونږه په ټولنه کې عیب او د پیغور خبره ګڼل کیږي .

امام حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله ددغه حدیث په شرحه کې داسې فرمايي : (( و فیه عرض الانسان بنته و غیر ها من مولیاته علی من یعتقد خیره و صلاحه لما فیه من النفع العاید علی المعروضة علیه و انه لا استحیاء فی ذلک و فیه انه لا باس بعرضها علیه و لوکان متزوجا لان ابا بکر کان حینید متزوجا))

)فتح الباری صفحه ۲۲۲ جلد ۹(

ژباړه: په دغه حدیث کې دلیل دی ددې لپاره چې مسلمان ته پکار دی چې خپله لور یا بله ښځه چې دده تر ولایت لاندې وی هغه چاته د نکاح لپاره پیشکش کړی چې عالم او نیک شخص وی او دا ځکه چې په دغه کار کې دغې ښځې ته ګټه ده او ددغه حدیث څخه دا هم معلوم شو چې په دغه کار کې شرم پکار نه دی.

همدارنګې ددغه حدیث څخه دا هم معلومه شوه چې که یو عالم او نیک سړی ښځه هم ولری نو بیا هم څه باک نشته چې سړی دی خپله لور یا خور ورته د نکاح لپاره پیشکش کړی او دا ځکه چې کله عمر بن الخطاب رضی الله عنه خپله لور ابوبکر الصدیق ته د نکاح لپاره پیشکش کړو نو ابو بکر الصدیق رضی الله عنه په دغه وخت کې بله ښځه هم درلودله بلکې د اسلام مقدس دین دا هم جایز کړی دی چې ښځه دی پخپله یو صالح مسلمان سړی ته ځان د نکاح لپاره پیشکش کړی او امام بخاری په دغه موضوع کې داسې باب اینبی دی چې : (( باب عرض المراة نفسها علی الرجل الصالح))

)بخاری صفحه ۷٦۷ جلد ۲(

ژباړه: باب دی په دی باره کې چې ښځې ته روا دی چې یو نیک شخص ته ځان د نکاح لپاره پیشکش کړی

او بیا یې ددغه باب لاندې د انس رضی الله عنه دغه حدیث ذکر کړ یدی چې (( جاءت امراة الی رسول الله صلی الله علیه و سلم تعرض علیه نفسها))

))بخاری صفحه ۷٦۷ جلد ۲، نسایی صفحه ۷۵ جلد ۲((

ژباړه: یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغله او خپل ځان یې هغه ته د نکاح لپاره پیشکش کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خپل لور یا خور فاسق او بد اخلاقه شخص ته په نکاح ورکول پر هغې باندې یو لوی ظلم دی امام شعبی رحمه الله په دی باره کې داسې فرمایي : (( من زوج کریمته من فاسق فقد قطع رحمها))

))تذکره الموضوعات صفحه ۱۲۷((

ژباړه: چا چې خپله لور یا خور فاسق سړی ته په نکاح کړ ه نو ګویا د هغې سره یې خپلولی وشکوله

یعنې فاسق سړی ته خپله لور یا خور ورکول د خپلولی د شکولو غونډې لویه ګناه ده یعنې ددې پیغلې د خپلولی حق خو دا وه چې هغه یې باید یو نیک او دیندار سړی ته ورکړای وای خو پلار یا ورور یې د هغې دغه حق تر خپو لاندې کړه او د لورولی یا خورولی د قرابت هیڅ لحاظ یې ونه کړلو.

۳۳ -ښځه په قرض یا قمار کې ورکول :

زمونږ د ګران هیواد په بعضو مناطقو کې یو غیر انسانی او غیر اسلامي کار دا کیږي چې بعض خلک خپلې لورګانی یا خویندې خپل قرضدار ته په قرض کې ورکوی او بعضې خلک چې کله قمار ووهی او په هغه کې تاوان وکړی نو بیا خپله ښځه یا لور یا خور د قمار ګټونکی ته ورکوی .

نو دغسی عملونه یو جنایت او لوی ظلم دی پر ښځو باندې او دا یو غیر انسانی او غیر اسلامي کار دی او هیڅ یوه ښځه بغیر د شرعي نکاح او خوښې څخه بل چاته نه ورکول کیږي او که کومه ښځه په قرض یا قمار کې چاته واده کړی شی نو دهغی نکاح نه کیږی.

نو ددغه ډول اعمالو کوونکی ظالمان او د الله تعالی په لعنت اخته دی الله تعالی فرمايي : (( الا لعنة الله علی الظالمین))

))سورة هود ایت ۱۸((

ژباړه: خبردار لعنت د الله په ظالمانو باندې دی

۳۴ -ښځو باندې کار کول او نارینه په کور کې کښیناستل :

پر ښځو باندې یو بل ظلم دادی چې زمونږ د ګران هیواد په بعضو مناطقو کې دا رواج دی چې ښځې به د کور د داخل او خارج ټول سخت کارونه کوی لکه د لرې ځایونو څخه د څکلو د اوبو او د خاشاک راوړل د څارویو څرول او هغوې ته واښه ریبل او راوړل د زراعتی ځمکو قلبه کول او په هغه کې فصل کرل او ریبل د غیره کارونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو سږی به يې خپل وخت په کور او يا مهمانخانو کې په خوب يا چيلم او يا سندرې اوريدلو او نورو بی فايدی کارونو کې تيروی نو دغسی اعمال د اسلامي ت او انسانيت خلاف دی او دا ځکه چې اسلام امر کړيدی چې پر ښځو باندې شفقت وکړی او پر هغوې باندې يې د ظلم څخه سخته منع کړيدی لکه دچی مخکې وويل شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلورم فصل

## بعضې سوالونه او د هغې جوابونه

اول سوال :

د بخاری او مسلم په حدیث کې ولې ښځو ته ناقص عقل او ناقص دین ویلی شوی دی؟ ددغه حدیث څه معنی ده؟ او هغه حدیث دادی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه ورځ ښځو ته وفرمایل (( یا معشر النساء تصدقن فانی اریتکن اکثر اهل النار فقلن و لم یا رسول الله صلی الله علیه و سلم ؟ قال تکثرن اللعن وتکفرن العشیر ما رایت من ناقصات عقل و دین اذهب للب الرجل الحازم من احداکن قلن و ما نقصان دیننا و عقلنا یا رسول الله صلی الله علیه و سلم ؟ قال الیس شهادة المراة مثل نصف شهادة الرجل ؟ قلن بلی قال فذلک من نقصان عقلها الیس اذا حاضت لم تصل و لم تصم ؟ قلن : بلی قال : فذلک من نقصان دینها))

))بخاری صفحه ۴۴ جلد ۱ ، مسلم صفحه ٦٠ جلد ۱،مشکاة صفحه ۱۳ جلد ۱، فتح الباری صفحه ۵۳۴ جلد ۱((

ژباړه: ای ښځینه پرګنو صدقه او خیرات کوی ځکه چې ستاسو اکثریت ماته دوزخیان ښودلی شوی یې ؟ نو ښځو وویلی چې دا په څه وجه یا رسول الله صلی الله علیه و سلم ؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې دا په دی وجه چې تاسو یو پر بل لعنت ډیر وایی او د خپلو خاوندانو نا شکری کوی ستاسو په شان می داسې ناقص عقل او ناقص دین نه دی لیدلی چې د هوښیار سړی نه عقل سلبوی نو ښځو وویلی چې زمونږ د عقل او دین نقصان څرنګه دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې آیا د یوی ښځې ګواهی د یو سړی د نیمی ګواهی سره برابره نه ده؟ نو هغوې وویلی چې هو نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې دا یې د عقل د نقصان له وجی نه دی. او بیا یې وفرمایل چې آیا ښځه داسې نه ده چې کله حیض شی نو مونځ نه کوی او روژه نه نیسی نو هغوې وویل چې هو. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې دا یې د دین نقصان دی.

جواب: ددغه سوال او شبهې څخه لاندې جوابونه کیږی :

اول ځواب:

د شیخ محمد متولی شعراوی : هغه داسې وایی : باید ووایم چې تر اوسه پوری بشریت داسې دین نه دی لیدلی پرته د اسلامه چې ښځو ته یې بشپړ کرامت او حقوق او منزلت ورکړی وی ، اسلام ښځې ته د کرامت او منزلت له لحاظه هیڅ هم نه دی کم کړی هغه یې د یو کامل انسان په ډول مکرمه وګڼله په دغه حدیث کې د منزلت او مکانت له لحاظه هیڅ داسې عیب او نقص ندی بیان شوی چې د ښځې او نارینه ترمینځ فرق ترینه محسوس شی بلکې په حدیث کې د تکوین او خلقت له لحاظه هغه نقص (نیمګړتیا) ته اشاره شوی چې الله تعالی خلق کړی د الله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی په نزد د شرعي او دنیوی تکالیفو او وجایبو له لحاظه او د د نیوی او اخروی مسؤلیتونو او حقوقو له پلوه د ښځې او نارینه ترمینځ هیڅ توپیر نشته الله تعالی نارینه و ته د تکوین او خلقت له لحاظه هغه ځانګړتیاوې ورکړی چې ددې له رول او ماموریت سره مناسبت ولری او په همدی توګه ښځې ته هغه تکوینی او خلقی صفات ورکړی چې په دنیوی ژوند کې يې د رول او ماموریت سره مناسبت لری .

رسول الله صلی الله علیه و سلم ځکه ښځې ناقص العقله توصیف کړی چې هغوې په عاطفی توګه هاغه کارونه کوی چې هلته عقل جام اودریږی یعنې د دوې عاطفه دومره زیاته او قوی ده چې پر عقل تل غلبه کوی .

خو د دین نقصان ( کمښت) د هغه طبیعت له مخی ور پیښ شوی چې الله تعالی له خلقت نه د هغې له ذات سره تړلی لکه چې وویل شو ورځې او شپې پری تیریږی خو دا له عبادت څخه معاف وی د رمضان د روژی څخه معاف وی

(( د حیض یا نفاس له کبله )) او دا عیب نه دی ځکه چې الله تعالی همداسی دوې خلق کړی او داسې يې ځکه خلق کړی چې الله تعالی په خپل حکمت ښه پوهیږی هغه ته معلومه ده چې د ژوند او دنیاوی چارو بقا په همدی توګه بهتره پر مخ ځی الله تعالی پوهیږی چې باید نارینه داسې خلق کړی او ښځینه داسې . د دین نقصان يې ځکه دی چې د عباداتو ګراف يې تر نارینه ټیټ او نیمګړی دی دوې د مخصوصی بیماری په وخت کې د لمانځه او روژی او نور عباداتو څخه معاف وی، په دی معافی کې چې کوم مونځونه پاتې کیږي هغه یو نیمګړتیا ده او که قضیه په بنیادی توګه وڅیړل شی وینو چې الله تعالی ځکه د بیماری په وخت يې ښځې له عبادت معاف کړی دی چې دوې په تکلیف کې وی په مشقت کې وی او الله تعالی نه غواړی چې پر دوې باندې مزید مشقت ور بار کړی . دا د دین عظمت او لطف ثابتوی نه دا چې د ښځو په حق کې څه اهانت وی په حدیث شریف کې نقصان د عیب په معنی نه ده راغلی بلکې د کمبود په معنی راغلی د کمیت په لحاظ د یو شی کمبود یا کثرت څه خاص مفهوم نه لری څه پروا لری که یو شی کم یا زیات شی.دا هم باید ووایم چې هاغه کسان چې پورتنی حدیث داسې تفسیروی چې ګویا د ښځې سپکاوی او توهین يې کړی غلط پوه شوی هغوې نه دی پوه شوی چې د دین او عقل له نیمګړتیا څخه هدف څه دی دا د الله تعالی د خلقت صفات او ځانګړتیاوی دی تر څو د ژوند چاری په صحیح توګه پر مخ لاړ شی . او هر یو نارینه او ښځینه خپل خپل رول( کوم چې تکوینی او خلقی صفاتو سره مناسبت لری ) ادا کړی مثلاً نارینه مکلف دی چې د کورنی نفقه او د عیال رزق پوره کړی هغه باید باندې وځی کار وکړی زحمت وکاږی او اولاد ته نفقه راوړی ځکه خو دی ته محتاج او اړ دی چې عقلانیت يې پر عواطفو غالب وی تر څو په بهتره توګه د کورنی اړتیاوی او ضروریات کمایی کړای شی او ښځه په دی خاطر عاطفی خلق شوی ده چې اولاد روزی او میره په زړه کې ځاې مومی نو پکار ده چې حنان ولری عاطفه ولری تر څو خپل مکلفیت په بهتره توګه ادا کړای شی .

))فقه خانواده صفحه ۱۹۸، افغانه ښځه صفحه ۱۱۳-۱۱۴((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم ځواب :

حافظ ابن حجر عسقلانی: هغه د پورتنی حدیث په شرحه کې داسې ویلی دی:

)ولیس المقصود بذکر النقص فی النساء لو مهن علی ذلک لانه من اصل الخلقة لکن التنبیه علی ذلک تحذیرا من الافتتان بهن و لهذا رتب العذاب علی ما ذکر من الکفران و غیره لاعلی النقص، ولیس نقص الدین منحصرا فیما یحصل بالاثم بل فی اعم من ذلک قال النووی لانه امر نسبی فالکامل مثلا ناقص عن الاکمل و من ذلک الحایض لا تاثم بترک الصلاة زمن الحیض لکنها ناقصة عن المصلی ، و هل تثاب علی هذا الترک لکونها مکلفة به .... قال النووی الظاهر انها لاتثاب((

))فتح الباری صفحه ٥٣٦ جلد ١(

ژباړه: په حدیث کې مقصد په ذکر د نقصان سره د ښځو ملا متول ندی ځکه چې دغه نقصان د دوې د اصل خلقت سره تعلق لری ( یعنې الله تعالی همدغسې پیدا کړیدی) لکن د ذکر د نقصان څخه مقصد دا دی چې ښځې متوجی کړی تر څو هغوې د خپل خلقتی مواصفاتو له کبله په فتنه کې واقع نشی ( اما د عذاب او ثواب لپاره قاعده عمل ده نه دغه نقصانی ځانګړتیا ځکه یې ونه فرمایل چې د همدی نقصان له کبله به دوزخیان یاست بلکې ورته وی ویلی چې ستاسو اکثریت به ځکه دوزخیان وی چې تاسو د میړه نافرمانی کوی او یو پر بل ډیر طعن وایی په همدی ګناه به دوزخ ته ځی او نقصان د دین په ګناه کې منحصر ندی بلکې ددې نه عام دی لکه چې نووی ویلی ځکه چې دا یو نسبی خبره ده د مثال په توګه کامل نسبت ډیر کامل ته ناقص دی او قوی تراقوی را کم دی او حسن تر احسن را کم دی په همدی اساس حایضه یا نفاسه ښځه د لمانځه په نه کولو نه ګناهګاریږی خو نسبت مونځ کوونکی ته د هغې د لمانځه ګراف کې کمښت راځی خو دا سوال پیدا کیږې چې ښځه د حیض او نفاس په حالت کې د شریعت له طرفه مکلفه ده چې مونځ ونکړی او روژه ونه نیسی نو ایا هغې ته په دغه نه کولو باندې ثواب ورکول کیږي او که نه ؟ نو د امام نووی نظر دادی چې هغې ته په دغه ترک باندې ثواب نه ورکول کیږی .

)فتح الباری صفحه ٥٣٦ جلد ١(

خو د حافظ ابن حجر میلان دی خبرې ته دی چې حایضه ښځې ته په دغه ترک (مونځ نه کول او روژه نه نیول ) باندې ثواب ورکول کیږي او دا خبره قوی ده .

)فتح الباری صفحه ٥٣٦ جلد ١ (

دریم ځواب :

لکه چې مخکې وویل شو ښځې کولاې شی چې د علم او معرفت او روایت او فتوی په میدانونو کې لکه د نارینه و غونډې اوچتو مرتبو ته ورسیږی لکه چې بی بی عایشه رضی الله عنها په علم کې داسې اوچتی مرتبی ته رسیدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې صحابه کرامو به په هره مشکله مساله کې د هغې څخه پوښتنه کوله او هغې به ورته د مشکل حل کوله لکه چې یو صحابی فرمايي : ((ما اشکل علینا اصحاب رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث قط فسالنا عایشه الا وجدنا عندها منه علما))

)ترمذی صفحه ۲۲۷ جلد ۲، مشکاة صفحه ۵۷۴(

ژباړه: په هره مشکله مساله کې به چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرامو د عایشې څخه پوښتنه کوله نو د هغې سره به د هغه مسالې په باره کې معلومات موجود وه نو ځکه په حدیث کې ښځو ته ناقص العقل ویلی شویدی او ناقص العلم او المعرفة نه دی ویلی شویدی .

او د نقصان د عقل څخه مراد دوه مشخص شیان دی اول دا چې ښځې د حمل او ولادت او د ماشوم د حضانت او د حیض او نفاس په نتیجه کې د جسمانی او عصبی لحاظه ضعیفې کیږي چې دا ټول د هغې په قوه حافظه او ذاکره باندې تاثیر کوی او هیره پکې زیاتیږی او له همدی کبله چې هیره په ښځو کې زیاته ده د ګواهی په وخت کې الله تعالی دوه ښځې شرط کړیدی که د یوی نه کوم شی هیر شی نو بله به یې وریاده کړی لکه چې الله تعالی فرمايي : ((فان لم یکونا رجلین فرجل وامراتان ممن ترضون من الشهداء ان تضل احداهما فتذکر احداهما الاخری))

)سورة البقرة ایت ۲۸۲(

ژباړه: که د ګواهی لپاره دوه سړی موجود نه وی نو یو سړی او دوه ښځې دی ګواهی ورکړی چې تاسو یې ښه ګڼی که چیرته د یوی نه هیره شی نو بله به یې ور په یاده کړی.

دوهم دا چې : د ښځو عاطفه ډیره قوی ده او هغوې په ډیرې آسانی او تیزی سره په معمولی خبره متاثری کیږي او د هغوې په تصمیم کې تغیر راځی ځکه خو علماؤ ویلی دی چې د ښځې عاطفه د هغې په عقل باندې غالبه ده او د نارینه عقل د هغوی په عاطفه با ندی غالب دی او د همدی کبله چې د ښځو عاطفه د هغوې پر عقل باندې غالبه ده نو د ماشوم رضاعت او ساتنه هغوې ته سپارلی شویدی ځکه ماشوم زیات شفقت او مهربانی ته ضرورت لری.

همدارنګې جدید طب دا ویلی دی چې د ښځې جسمی جوړښت د نا رینه د جسمی جوړښت سره فرق لری او د ښځو د د مغزو وزن نسبت نارینه و ته کم دی چې دا هم په ښځو کې د هیری د زیاتوالی یو دلیل دی.

فایده : ښځه کولاې شی د حیض او نفاس په حالت کې د مونځ او روژی او تلاوت څخه بغیر نور نیک عملونه وکړی لکه د الله تعالی ذکر کول ، صدقه کول د خپل خاوند خدمت کول خپلو ماشومانو ته ښه تربیه ورکول او داسې نور عملونه چې د اجر او ثواب د لاسته راوړلو ښې وسیلې دی .

دوهم سوال :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا د دوو اخترونو ترمینځ واده کول ناروا دی :

جواب : یوه خرافی خبره زمونږه په ټولنه کې داسې دي چې بعضو ځایونو کې خلک داسې فکر کوی چې ګوندی د دوو اخترونو ترمینځ واده کول ناروا او د ضرر او تاوان سبب دی ، نو دغه خبره غلطه ده بلکې ددې بر عکس د دوو اخترونو ترمینځ واده کول یو ښه او غوره عمل دی ځکه چې عایشه رضی الله عنها داسې فرمایلی : ((تزوجنی رسول الله صلی الله علیه و سلم فی شوال و بنی بی فی شوال فای نساء رسول الله صلی الله علیه و سلم کان احظی عنده منی ))

)رواه مسلم، مشکاة صفحه ۲۱۷((

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم د شوال په میاشت کې ( د وړوکی اختر میاشت ) کې زما سره نکاح وتړله او د شوال په میاشت کې یې زه واده کړمه او زما سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم مینه د نورو ښځو نه زیاته وه .

او عروة بن الزبیر رضی الله تعالی عنه فرمایي : ((کانت عایشة تستحب ان تدخل نساء ها فی شوال ))

)مسند احمد، الفتح الربانی صفحه ۲۱۴ جلد ١٦(

ژباړه: عایشة رضی الله عنها به دا ښه ګڼله چې د هغې د کورنی ښځې دی په شوال کې واده شي.

دریم سوال:

آیا ښځو ته روا دی چې په واده کې داریا ووهی او سندرې ووایی :

جواب : هو، ښځو ته روا دی چې داریا ووهی او سندرې ووایی خو په داسې محفل کې چې نارینه نه وی او داسې سندرې ووایی چې په هغه کې د فسق او فجور خبرې او د ښځو یا نارینه و د ښایست بیان نه وی او په دغه باره کې زیات احادیث شته دی چې زه دلته یو څو ذکر کوم چې په لاندې ډول دی:

اول حدیث:

د جلیل القدره صحابیه ربیع بن معوذ رضی الله عنه څخه روایت دی هغه داسې فرمایي : (( دخل علی النبی صلی الله علیه و سلم یوم عرسی فقعد فی موضع فراشی هذا و عندی جا ریتان تضربان بالدف و تندبان ابایی الذین قتلوا یوم بدر فقالتا فیما تقولان و فینا نبی یعلم ما فی غد فقال رسول الله صلی الله علیه و سلم اما هذا فلا تقولاه لا یعلم ما فی غد الا الله ))

)رواه احمد والبخاری مشکوة صفحه ۲۷۱ ، ترمذی صفحه ۲۰۷ جلد ١(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم زما د واده په ورځ ماته راغی او ځما ددغه توشکی په ځاي کښیناست او زما څنګ ته دوه جینکیانې وې چې هغوي داریا وهلې او زما د هغه خپلوانو صفتونه یې بیانول چې د بدر په غزا کې شهیدان شوی و نو دغو انجونو پخپلو سندرو کې یوه دا خبره وکړه چې زمونږ سره پیغمبر ناست دی چې د سبا په حالاتو پوهیږی نو رسول الله هغوي ته وفرمایل چې دا خبره مه کوی ځکه چې د سبا په حالاتو بغیر د الله تعالی نه بل څوک نه پوهیږی یعنې په غیبو باندې د الله تعالي څخه بغیر بل څوك نه پوهیږي .

دوهم حدیث :

جلیل القدر صحابی جابر بن عبدالله رضی الله عنه روایت کوی چې عایشه رضی الله عنه یوه ښځه یو انصاری سړی ته په نکاح ورکړه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم عایشه رضی الله عنها ته وفرمایل : اهدیتم الجاریة الی بیتها فقالت نعم قال فهلا بعثتم معها من یغنیهم قالت عایشه تقول ماذا ؟ قال تقول :

اتینا کم اتیناکم فحیونا نحییکم

لولا الذهب الاحمر ما حلت بوادیکم

لولا الحنطة السمراء ما سمنت عذاریکم

)رواه احمد و این ماجه مشکاة صفحه ۲۷۲، الفتح الربانی صفحه ۲۱۳ جلد ۱٦(

ژباړه: ای عایشه آیا تاسې پیغله د میړه کور ته ولیږله. نو هغې ویل چې هو نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې ولې مو د هغې سره داسې یو کس ونه لیږله چې هغوي ته سندرې ووایي نو عایشة رضی الله عنها وفرمایل چې سندرې ویونکی به څه ووایي؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې هغوې به وایی :

مونږه تاسو ته راغلو نو تاسو مونږ ته سلام ووایی او مونږ تاسو ته سلام وایو که چیرته سره زر نه وای نو دغه پیغله به تاسو ته نه وه راغلی او که چیرته غنم نه وایی نو ستاسو پیغلې به نه وی غټې شوای.

دریم حدیث:

جلیل القدر صحابی محمد بن حاطب رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه روایت کوی چې هغه فرمايي: (( فصل ما بین الحلال والحرام الدف والصوت بالنکاح ))

)ترمذی صفحه ۲۰۷ جلد ۱، نسایی صفحه ۹۰ جلد ۲(

ژباړه: داریا وهل او د نکاح اعلانول د حلال او حرامو ترمینځ فرق راولی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم حدیث : عایشه رضی الله عنها فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی: ((اعلنوا هذ النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف))

)رواه الترمذی صفحه ۲۰۷ جلد ۱(

ژباړه : د نکاح اعلان وکړی او په مساجدو کې يې عقد وکړی او داریا ورباندې ووهی.

څلورم سوال :

د طلاق حق ولې نارینه و ته ورکړی شویدی ؟

ددغه سوال د جواب نه مخکې باید دا وویل شی چې بغیر د کوم موجب نه خپلې ښځې ته طلاق ورکول مکروه دی بلکې امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایلی دی چې کله د میړه او ښځې ترمینځ علاقات ښه وی نو بیا په دغه وخت کې ښځې ته طلاق ورکول حرام دی .

)المیزان للشعرانی صفحه ۱۵۳ جلد ۲(

اوس راځو د مخکې سوال جواب ته نو ددغه سوال جواب په لاندې ډول دی :

اول جواب :

څرنګه چې د ښځې احساسات او عاطفه د نارینه و په نسبت زیاته ده او په معمولی خبره باندې زر خفه او غصه کیږي او عواقبو ته نظر نه کوی نو په دغه وجه هغې ته د طلاق اختیار نه دی ورکړی شوی تر څو کورنی نظام له مینځه لاړ نه شی او ښځه او خاوند او د هغوي ماشومان تیت او په مشکلاتو کې واقع نه شی.

دوهم جواب :

څرنګه چې سړی پخپل واده کې زیات مصارف کړی وی او د ښځې مهر او د هغې او د هغې د اولادونو نفقه هم د سړی په غاړه وی نو ځکه د طلاق په صورت کې غټ تاوان سړی ته رسیږی او دا ځکه چې د هغه کور له مینځه ځی او د هغه اولادونه بی سر نوشته پاتې کیږي نو ځکه اختیار د طلاق سړی ته ورکړی شویدی .

نو نارینه و ته د طلاق اختیار ورکول دا پر ښځو باندې يو قسم ترحم دی او دا ځکه چې نارینه زیات صبر او زغم لری او که دغه طلاق د ښځو په اختیار کې وای نو ښځه به پخپل لاس خپل ژوند زر زر خراباوه .

خو ددې په مقابل کې اسلامي شریعت ښځې ته د خلع حق ورکړیدی په هغه صورت کې چې د هغې حقوق د میړه لخوا نه ورکول کیږي او که میړه يې د خلع موافقت نه کولو نو بیا ښځه کولی شی قضا ته ورشی ترڅو د هغې او میړه ترمینځه يې جدا والی راولی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم سوال :

نارینه ولې څلور ښځې کولاې شی ؟ ددې څه حکمت دی ؟ ددغه سوال ځخه په لاندې ډول جواب کیږی .

اول جواب : ښځه هر وختی د جنسی معاشرت لپاره تیاره نه وی لکه د حیض یا نفاس یا حمل یا بیماری په وخت کې او د حیض اکثره موده لس ورځې وی او د نفاس اکثره موده څلویښت ورځې وی او څرنګه چې سړی هر وختی جنسی معاشرت ته تیار وی او ددغه جنسی رغبت دفع کول د اوږدې مودې لپاره مشکل وی او دا خطر وی چې دغه سړی په زنا کې واقع شی نو ځکه اسلامي شریعت سړی ته دا روا کړیدی چې دوهمه ښځه وکړی تو څو د هغه عفت محفوظ شی.

دوهم جواب : ښځه تر څلویښت کلنی پوری حمل نیولی شی او ددغه سن څخه وروسته غالبا حمل نه نیسی خو سړی په شپیته کلنی کې هم ژوندی نطفه درلودلی شی او ښځه ترې حمل اخیستلی شی نو که د ښځو تعدد منع شی نو د نسل انقطاع به مینځ ته راشی

دریم جواب : په جنګونو کې اکثره نارینه وژل کیږي او ښځې بی سر نوشته پاتې کیږي نو که نارینه د تعدد د ښځو څخه منع شی نو ډیرې ښځې به بی سر نوشته پاتې شی او اخر به دوې ګدایې او فحاشت ته اقدام کوی .

څلورم جواب :

که یو کس داسې ښځه ولری چې شنډه وی او دوهمه ښځه هم ورته روا نه شی نو د نکاح هغه هدف او مقصد له مینځه ځی چې هغه بشری نسل دی.

پنځم جواب :

ښځه ځکه په یو وخت کې څلور میړونه نه شی کولاې چې دغه عمل شرعا او عقلا ناروا دی او دا ځکه چې په هیڅ یو دین کې روا نه دی چې یوه ښځه دی د یو څخه زیات میړونه ولری او عقلا ځکه روا نه دی چې که یوه ښځه څلور میړونه ولری او څلور واړه د هغې سره کوروالې وکړی او هغه حامله شی نو بیا نه معلومیږی چې دغه حمل یې د کوم سړی څخه دی او په دغه صورت کې د نسب اختلاط او نزاع منځ ته راځی . او ددغه عمل مثال دادی چې د یو جګ څخه اوبه په څلورو ګیلاسونو کې واچول شی نو هر یو کس ویلی شی چې ددغو ګیلاسونو اوبه ددغه جګ څخه دی او که ددغو ګلاسونو اوبه دغه جګ کې واچول نو بیا د هر ګیلاس اوبه نه پیژندل کیږي او نه جدا کیږی .

شپږم جواب :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو سرې وغواړی په یو کال کې څلور بچیان لاس ته راوړی نو کولاې شی د خپلو څلور واړو ښځو سره کوروالې وکړی او هغوې بچیان ورته راوړی او که ښځه دغه کار وغواړی نو هغه د یو بچی څخه زیات اولاد لاس ته نه شی راوړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه او مرجعگاني


۱ -القران الكريم

۲ -تفسير ابن جرير الطبرى

۳ -تفسير قرطبى

۴ -تفسير ابن كثير

۵ -تفسير احسن الكلام

٦ -تفسير كابلى

۷ -صحيح البخارى

۸ -صحيح مسلم

۹ -صحيح ابن حبان

۱۰ -سنن الترمذى

۱۱ -سنن ابى داود

۱۲ -سنن نسائى

۱۳ -سنن ابن ماجه

۱۴ -سنن دارمى

۱۵ -سنن بيهقى

۱٦ -سنن سعيد بن منصور

۱۷ -سنن الدارقطنى

۱۸ -موطا الامام مالك

۱۹ -مستدرك الحاكم


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰ -مسند احمد بن حنبل

۲۱ -مسند ابی یعلی الموصلی

۲۲ -مسند القضاعی

۲۳ -شرح السنه للبغوی

۲۴ -المعجم الکبیر للطبرانی

۲۵ -المعجم الاوسط للطبرانی

۲٦ � فتح الباری لابن حجر العسقلانی

۲۷ � حلیة الاولیاء لابی نعیم

۲۸ � الفتح الربانی للساعاتی

۲۹ -الادب المفرد للبخاری

۳۰ - شرح النووی علی صحیح مسلم

۳۱ - مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح

۳۲ - معالم السنن للخطابی

۳۳ - المحلی بالاثار لابن حزم

۳۴ - ریاض الصالحین للنووی

۳۵ -بلوغ الامانی للساعاتی

۳٦ � المطالب العالیه لابن حجر

۳۷ � شمائل الترمذی

۳۸ � نیل الاوطار للشوکانی

۳۹ � کشف الخفاء للعجلونی

۴۰ - تذکرة الموضوعات لابن طاهر الفتنی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤١ � تهذيب التهذيب لابن حجر

٤٢ � ميزان الاعتدال للذهبى

٤٣ � بلوغ المرام لابن حجر

٤٤ -هداية لبرهان الدين المرغينانى

٤٥ � رد المحتار للشامى

٤٦ � فقه السنة للسيد سابق

٤٧ � فتاوى رشيديه

٤٨ � مجموعة الفتاوى للعبدالحى اللكنوى

٤٩ � مجموعة الفتاوى لابن تيميه

٥٠ � المغنى لابن قدامة

٥١ � امين الفتاوى للشيخ امين الله

٥٢ � زاد المعاد لابن قيم الجوزيه

٥٣ � الجواب الكافى لابن قيم الجوزيه

٥٤ � اعلام الموقعين لابن قيم الجوزيه

٥٥ � اغاثة اللهفان لابن قيم الجوزيه

٥٦ � فتاوى النوازل لابى الليث السمرقندى

٥٧ � تحفة العروس للاستانبولى

٥٨ � آداب الزفاف للالبانى

٥٩ � فن تعامل النبى الزوجيه للاديب الكمدانى

٦٠ � البيان والتحصيل لابن رشد المالكى

٦١ � النوادر و الزيادات لابن ابى زيد القيروانى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢ � شقائق الاترج للسيوطى

٦٣ � مواهب الجليل لمحمد الحطاب

٦۴ � النظر فى احكام النظر لابن قطان الفاسى

٦٥ � الوشاح فى فوايد النكاح للسيوطى

٦٦ � اسلامنا للسيد السابق

٦٧ � تحريم نكاح الشغار للشيخ امين الله

٦٨ � النهايه لابن الاثير

٦٩ � خلاصة الفتاوى

٧٠ � التحقيقات لابى يزيد عبدالقاهر

٧١ � فقه خانواده

٧٢ � مشكاة المصابيح لتبريزي

٧٣� روضة المحبين لابن القيم

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**